د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت
Ministry of Borders and Tribal Affairs



# جرګه

علمي، سیاسي، څېړنیزه او ادبي مجله

موږ که رښتیا هم د اسلامي نظام دعوه کوو، نو باید د ملت اوښکې پاکې کړو،
د ملت پیشنهادونو ته لبیک ووایو او شپه ورځ د ملت په خدمت کې تېره کړو.

الحاج ملا نورالله نوري
د سرحدونو قومونو او قبایلو چارو سرپرست وزیر

درېیمه دوره: ۱۴۴۵هــ ق ربیع الاول ــ جمادي الاول (۱۲۰) ګڼه د تأسیس کال (۱۳۶۱)

# Jirga Magazine

Oct - Dec 2023




mobta.gov.af

درېیم مکروریان، د هوايي ډګر سرک، کابل

+93 (0) 20 231 1711

info@mobta.gov.af

# د لیکنو نوملړ


سرمقاله: (د پاکستان مؤقت حکومت ناروا پرېکړه او...) ۲
خبرونه او راپورونه ۴
نبوي سیرت ۱۳
د اسلامي حکومت بهرني سیاست ته لنډه کتنه ۱۸
د واجب وصیت د احکامو بیان ۲۵
پر افغانستان د امریکا د یرغل توره ورځ! (۲۰۰۱م) کال ۲۸
غربپال ولې له اسلامي نظام څخه په وېره کې دي؟ ۳۲
د حماس با تدبیره ګوزار: امریکا د رښې ستراتېژۍ په تیارو کې ۳۳
فلسطین د تاریخ په اوږدو کې ۳٦
ملي جرګې د ملي یووالي سمبول دی ۴۱
جرگه ها در طول تاریخ افغانستان و اهمیت بس مهم و سترگ آن ۴۹
نوبل د چا لپاره؟ ۵۴
پرنورو ادبي غورځنګونو د خوشحال د ادبي مکتب اغېزې ۵۷
د وینا وال په اړه یوځوخبرې ٦۳



## کتنپلاوی

ښاغلی مولوي محمد اسماعیل «غزنوي»
ښاغلی مفتي شفیع الله «ثاقب»
ښاغلی ملا حمدالله «فطرت»
ښاغلی اکاډمیسین سید محی الدین «هاشمي»
ښاغلی څېړنپوه دوکتورمحمدشریف «ځدراڼ»
ښاغلی څېړنوال سید نظیم «سیدي»
ښاغلی شفیع الله «محمدي»
ښاغلی څېړندوی وجیه الله «ظهیر»
ښاغلی شریف الله شرافت «ویاړ»

## کار ډله

مسوول مدیر: عزت الله «مینه ناک»
مسوول سکرتر: محمد موسی «ستانکزی»
ګرافکس ډېزاینر: فضل مالک «دولت زی»

یادونه: اداره یوازې د سرمقالې مسؤلیت لري



# د پاکستان مؤقت حکومت ناروا پرېکړه او پخپل هېواد کې له افغان مهاجرو تود هرکلی

د مهاجرت لاملونه هر څه چې وي، خو د افغان مهاجرینو د مهاجرت لامل ښــــــکاره دی، هغه دا چې د دوی پر هېواد پخواني شوروي په ۱۳۵۸ لمريز کال کې یرغل وکړ، ولس يې پر وړاندې له خپل هېواد څخه د ساتنې او د ازادۍ د ترلاسـه کولو په هدف جهاد او مبارزې ته دوام ورکړ او د دې جهاد د ترسره کولو لپاره اړتیا وه چې هېواد پـرېـږدي او د مهاجرت لارغوره کړي. له همدې امله دغې لړۍ زور واخیســــت، میلیونونه افغانان د ډېرو ستونزو او تکلیفونو په ګاللوسره ګاونډیو او د نړۍ هېوادونو په ځانګړې توګه ایران او پاکستان ته مهاجرشول، خو په کور دننه يې یرغلګرځواکونه په کرارپرېنښـودل چې بالاخره يې د ډېرو ځاني او مالي قربانیو په ورکولو مات او له هېواده وشړل، له بده مرغه چې ځینومغرضو هېوادونو بیا هم په شکل د اشکالو د جهاد له بریا وروسته هم کورنۍ جګړه رامنځته اوګرمه وساتله، چې بالاخره د امریکا په مشرۍ د یرغل او اشغال پروړاندې د جهاد بل پړاو پیل شو، چې دا پړاو هم د افغانسـتان د اسلامي امارت په مشـــرۍ افغان میړني ولس د بري تر منزله ورساوه او نن يې له برکته لله الحمد هېواد امن وامان دی. لنډه دا چې د مهاجرت کلونه د یرغلونو او کورنیو جګړو له امله لسیزو ته ور وغځېدل او تر دا مهاله يې دوام وموند، ګڼ شمېرمهاجرافغانان هېواد ته راستانه شوه، خو ګڼ شمېرنورو يې د ستونزو له کبله ونه کړای شول چې هېواد ته راستـانه شي. په دې وروستیو کې د پاکستان مؤقت حکومت افغان مهاجرینو ته هېواد ته د ستنېدو یوضرب الاجل وټاکه چې له مخې د هغوی په اېستلو پیل وکړ.

بالاخره به افغانان خپل هېواد ته راستنېدل، خو ستنېدل يې باید تر داسې شرایطو لاندې ترسره شوي وای او ترسره شي چې هم يې عزت خوندي وي او هم له ستونزوسره مخامخ نشــي. په دومره بېړه له یوه هېواده وتلو ته تیاری نیول اسانه کار نه دی، په دې ډول ستنېدل يې د ټولو نړیوالواو د ګاونډیتوب اصولو پر خلاف عمل دی، بل دا چې درسنیو په حواله د ځینو مهاجرو پر وینا چې مالونه او شتمنۍ يې ضبط شوې دي، وهل ډبول شوي او بندیانیږي دا يې د اېســــــتلو لپاره د حل معقوله لاره او چاره نه ده، یوازینۍ حل لاره دا وه او ده چې د مهاجرو د اېستلو یو منظم بهیر پیل شوی وی.

ښــه دا وه چې د بېړني اقدام پرځای له نړیوالې ټولنې ، اســــلامي امارت او پخپله د مؤقت حکومت تر منځ په دې اړه همغږي رامنځته شوې وه او پر اساس يې د یو منظم پلان، پروګرام او مهال ویش له مخې د مهاجرو د وتلو لړۍ پیل شـوې وه په دې کې به ټول ترتیبات او اړتیاوې په پام کې نیول شوې وې او دوی به په عزت اوله ډېروستونزو خوندي هېواد ته راستانه شوي وی.

له دې سره به ستونزې او اندېښـنـې نه زېږېدلې او د دواړو هېوادونوپه اړيکو به يې منفي سيورى هم نه غوړولو، ځکه چې ګاونډي هېوادونه تر نورو ډېر يو پر بل حق لري، بيا مسـلمان ګاونډي، له بل لوري يې تر منځ بايد سوداګريزې او په نورو برخو کې پراخه مثبتې اړيکې شـتون ولري، له همدې امله بايد يې د وتلو په اړه دا ډول پريکړه نه وه شـوې او که شـوې هم ده بايد له‌سره غور په وشي. لکه څنګه مو چې مخکې وويل: افغانان به يوه ورځ نه يوه ورځ خپل هېواد ته راســــــتنېدل، خوپه دې ډول نه، د همدې بېړنۍ پرېکړې له امله د راستنېدو نا منظمه پروسه روانه ده، په ورځنۍ توګه موږ د رسنيو له لارې حالت له نږدې څارو په رښتيا چې انديښمنونکى حالت دى، نو که اوس هم د پاکستان مؤقت حکومت په مناسب وخت کې د يوې منظمې پروسې له لارې، نه په دې ډول د دې لړۍ د دربېدو اراده وکړي ښـه خبره ده. بايد د ګاونډيتوب حق ته درناوى ولري او د يو ښـه نيت په ځرګندولو په داسې لارو چارو فکر وکړي کومې لارې چې د افغان مهاجرو په ستنېدو کې مرسته کوي. او که بيا هم پخپله پرېکړه ټينګار کوي، نو نړيوالې ادارې بايد خپل مسؤليتونه د افغان راستنېدونکو پروړاندې هېر نه کړي. له يوې خوا مهاجرين تش لاس دي، ټول دار او ندار يې له لاسه ورکړى، له بلې لوري سخت ژمى را روان دى، بيکاري او بې سرپنايي بله ستونزه ده.

په دې اړه تر کومه ځايه چې د افغانستان د اسلامي امارت مسـؤليت جوړېږي هغه يې په بهترينه طريقه ترسره کړ او ترسره کوي يې، عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه الله ) پخپل ځانګړي فرمان کې د مهاجرينو لپاره د هرډول تـرتيباتو د نېولو هدايت ورکـړ، دا فرمان په عمل کې پلی شو، عالي کمېسـيون جوړشو او ددغه کمېسـيون په اډانه کې بېلابېلې کمېټې په بېلابېلو برخو کې د يو جامع طرزالعمل له مخې په همغږې توګه راستنېدونکو هېوادوالو ته په بېلابېلو برخولکه لنډ مهالي کمپونو، د خوراک او څښـاک د ترتيباتو، ترانســــپورت، د علاج او درملنې په برخو کې خدمتونه وړاندې کوي او د غه لړۍ يې نورماله ساتلې ده چې له کړنو يې هېواد ته راستنېدونکي خوښ دي، بله خبره دا ده چې زموږ کورنيو خيريه بنسـټونو او ولس هم لکه څنګه يې چې د هرات ولايت له زلزله ځپلو هېوادوالوسره مرسته وکړه د غه شـان يې تر خپلې وسـې د مهاجرولاسـنيوي ته هم وردانګلي، لګيا دي د اسلامي امارت تر څنګ د خپلو هېواد والولاســــــنيوى کوي، چې دا د ولس او امارت تر منځ په همغږۍ دلالت کوي. کوم څه چې د ولس غوښـتنه وه هغه نن عملي کېږي، په دې هېواد يو داسې نظام حاکم دى چې په سختو حالاتو کې يې چارواکي د خلکو ترڅنګ ولاړ وي او خپله وسه کوي، دغه راز د بېلابېلو ولايتونو چارواکو د تياري ډاډ ځرګند کړى دى. د رسنيو له لارې اورو اوګورو چې په طورخم او هم په سـپين بولدک کې د اسلامي امارت چارواکي او د بېلابېلو ادارو استازي شـتون لري چې هريو يې پخپله برخه کې جدي هڅې کوي چې زموږ هېوادوال له ستونزو سره لاس اوګريوان نه شي او ستونزو ته يې رسېدنه وشي.

په دې پوهيږو چې په داسې بېړني حالت کې ستونزې وي، الله جل جلاله به ستونزې اسانه کړي او موږ افغانان به پخپل يووالي ترې بريالي را وباسي، د خوښۍ ځاى دى چې هر هېوادوال له راستنېدونکو هېوادوالوسره د مرستې او همکارۍ نيت لري، چې دا زموږ په يووالي او د يو بل پروړاندې په همدردي دلالت کوي.

له خپلو افغانانو ورونو هر چېرې چې ژوند کوي هيله مند يو چې خپل هېوادوال هېر نه کړي که ډېر لږ څه مو په توان کـې وي هغه ونه سپموئ.

نړيوالې ټولنې او نړيوال سازمانونه چې په دې برخه کې کار کوي او نړيوال مسؤليت لري بايد د افغانستان له اسلامي امارت‌سره په همغږۍ په هره برخه کې راســتنېدونکو هېوادوالو ته اسـانتياوې برابرې او اړتياوو ته يې پاملرنه وکړي. دلته نن له بل هروخت څخه فضـا دې ته جوړه ده ، چې دغه پروسه سمه مديريت شي او دا لړۍ تر وروستي راستنېدونکي پورې همداسې منظمه پر مخ ولاړه شي. ان شاءالله

# خبرونه او راپورونه

## د بادغیس ولایت بالامرغاب ولسوالۍ د موریچاق سرحدي سیمې ته سفر

۱۴۰۲/۶/۲۳ پنجشنبه

د بادغیس ولایت د بالا مرغاب ولسوالي خلکو په موریچاق سیمه کې له ترکمنستان هېوادسره د یوې نوې ترانزیتي لارې د پرانیستلو غوښتنه درلوده او په دې اړه وړاندیز یې د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه تر مقام پورې رسولی وو.

د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د ځانګړي حکم پر اساس دسرحدونو، قومونو او قبایلو چارو سرپرست وزیر الحاج ملا نورالله نوري ته دنده وسپارل شوه چې یاد ولایت ته سفر وکړي تر څو له نژدې څخه یاده سیمه بررسي او د لارې د پرانیستلو په اړه د خلکو غوښتنې او نظرونه واوري.

ښاغلي الحاج ملا نورالله نوري د بادغیس ولایت بالا مرغاب ولسوالۍ ته سفر وکړ او هلته یې د نوې ترانزیتي لارې د پرانیستلو په اړه په داسې حال کې چې د بادغیس ولایت والي ملا عبدالصمد جاوید، امنیه قومندان مولوي عبدالستار صابر، د لواء قومندان فضل الحق سیف الحق، د استخباراتو، زراعت، اقتصاد، دسرحدونو، قومونو او قبایلو چارو ریاستونو رئیسانو، او عامو خلکو حضور درلود ځېرنه ترسره او د خلکو نظرونه یې واورېدل.

په یاده لیدنه کې مسؤلینو او خلکو وویل چې ددې لارې په منظورېدو او پرانیستلوسره به ددې ولایت اقتصاد پیاوړی شي، د سیمې او د هېواد نورووګړو ته به د کارزمینه برابره شي او ددې تر څنګ به د ټول افغانستان او په ځانګړې ډول د بادغیس ولایت پر اقتصاد مثبت اغېز وکړي.

دغه راز د یاد سفر په ترځ کې ښاغلي نوري د بالا مرغاب ولسوالۍ د موریچاق سیمې له ترکمن او د نورو قومونوسره یوه لویه غونډه ترسره کړه،

په غونډه کې لومړی د یادې ولسوالي ترکمنو او نورو قومونو مخورو په خپلو خبرو کې وویل چې په تېر شل کلن انقلاب کې دوی د افغانستان له اسلامي امارت سره اوږه په اوږه ولاړ و او ډېرې قربانۍ یې ورکړې دي، دغه راز یې د سړک د رغونې، برښنا او په دې ولایت کې له ترکمنستان هېوادسره د یوې دروازې د جوړېدو غوښتنه وکړه.

وروسته دسرحدونو، قومونو او قبایلو چارو سرپرست الحاج ملا نورالله نوري وویل: د بادغیس ولس ډېرې قربانۍ ورکړې دي، ددې مستحق دي چې په هره برخه کې خدمت ورته وشي، ښاغلي نوري د ولسونو غوښتنې، ستونزې اورېدل او تر لوړو مقاماتو پورې یې د حل په موخه رسول خپله دنده وبلله او د غونډې ګډونوالو ته یې په دې اړه ډاډ ورکړ.

## موږ هغه ملت یو چې له پېرېیو راهیسې د کانونو او خزانو له پاسه د فقر، غربت او محتاجۍ ژوند کوو (قومي مشر)

یکشنبه ۲ ربیع اول ۱٤٤٥

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت سرپرست وزیر الحاج ملا نورالله نوري، د جرګو او قبایلو چارو د همغږۍ معین ښاغلي ملا عبدالخالق عابد او ورسره پلاوي په هغې ولسي غونډه کې ګډون وکړ چې د سمنګان ولایت د مرکز او اړوند ولسوالیو د ګڼ شمېر ولسي وګړو او دیني عالمانو په ګډون جوړه شوې وه.

په سر کې راغلو دیني عالمانو او قومي مشرانو پخپلو خبرو کې د اسلامي امارت له مشرانو څخه چې د خلکو ستونزې اوري او حل لارې ورته لټوي مننه وکړه ویې ویل: موږ هغه ملت یو چې له پېړیو راهیسې د کانونو او خزانو له پاسه د فقر، غربت او محتاجۍ ژوند کوو. دوی ویل دا چې اوس ټول ولسونه تر یوه بیرغ لاندې سره متحد او راټول دي ، امنیت راغلی هیله مند یو لکه څنګه چې اسلامي امارت د اقتصادي پیاوړتیا لپاره په هره برخه کې کار پیل کړی دی همداسې دې د خپلو کانونو قانوني استخراج لا غښتلی کړي اوزموږ بې روزګاره ځوانانو ته دې د کار زمینه مساعده کړي.

وروسته د وزارت د جرګو معین ښاغلي عابد د توحید کلیمې ویونکي ټول ولسونه یې د یو بل ورونه وبلل زیاته یې کړه چې د افغانانو تر منځ د متحد اوسېدلو ځیني نور مشترکات هم شته دی چې باید ټول یو موټی و اوسو. د غونډې په پای کې د سرحدونو، قومومو او قبایلو چارو سرپرست وزیر الحاج ملا نورالله نوري وویل د افغانستان خلکو د ایمانداری ، غیرت، وقار، عزت او شجاعت په خیر لوړ صفتونه درلودل ځکه الله تعالی د دین ساتلو لپاره د جهاد سپیڅلي ماموریت ته ځانګړي کړل.

نوري زیاته کړه: ملت او امارت لکه په یوه جسد کې روح او بدن داسې حیثیت لري. ملت په سختو شپو کې د مجاهدینو ملا تړلې حق لري چې ټولې مشروع غوښتنې یې وړپوره کړي.

## په اسلام کې د قوم په نوم تبعیض، دښمنۍ او ډلبازۍ مردودې دي» (دیني عالم)

سه شنبه ۴ ربیع الاول ۱۴۴۵

په کندز ولایت کې د قومونو تر منځ د یووالي تر عنوان لاندې غونډه د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت سرپرست ښاغلي الحاج ملا نورالله نوري، د جرګو او قبایلو چارو د همغږۍ معین ښاغلي ملا عبدالخالق عابد او مل پلاوي له خوا د دغه ولایت د سلګونه دیني عالمانو، قومي مشرانو او مخورو په ګډون جوړه شوه. په پیل کې څو تنو قومي مشرانو او دیني عالمانو په خپلو خبرو کې د قومونو او قبیلو تر منځ تعصب او ډلبازیو ته په اشارې سره وویل چې په اسلام کې د قوم په نوم تبعیض، دښمنۍ او ډلبازۍ مردودې دي. هغوی زیاته کړه چې قومونه د افغاني ټولنې مهم جوړښت دی دوی د پرمختللې او متحدې ټولنې لپاره د قومونو تر منځ په انسجام، یووالي او همغږۍ ټینګار وکړ. نوموړو همدا راز وویل چې تېرې دورې چارواکو به د ملیونونو افغانیو په مصرفولو سره د جرګو او غونډو په نوم زموږ په ملي ارزښتونو ملنډې وهلې، چې اوس الحمدالله په واقعي معنی د مشرانو نظرونه د خپلو سیمو د پرمختګ او د ستونزو هوارولو په برخه کې په ازاده فضا کې اخیستل کیږي. او په ریښتني معنی د یووالي لپاره کار پیل شوی. وروسته د جرګو معین ښاغلي ملا عبدالخالق عابد د اشغال پر وړاندې د کندز د مجاهد ولس د قربانیو یادونه وکړه ویې ویل چې د جهاد په مراحلو کې د کندز ولس بریالی امتحان ورکړی، په ګډه د همدې ولس د بېدریغه قربانیو نتیجه وه چې اوس په ټول هېواد کې خپلواکي او سرتاسري امنیت لرو. سرپرست وزیر الحاج ملا نورالله نوري وویل د شوروي سرې لښکرې چې افغانستان ته راغلې د دوئ لاسپوڅو به ویل چې دا نه ماتیدونکی فوځ دی، خو د افغانستان د مجاهد ولس د بې شمېره قربانیو په نتیجه کې هغه نه ماتیدونکی لښکر له شرمونکې ماتې سره مخامخ او زموږ له ګران هېواده یې پښې سپکې کړې، د کندز او بغلان د مجاهدینو د اتلولیو ښې نښانې د روسانو تخریب شوي

ټانکونه اوس هم د لارو پر څنډو پراته دي. د دې غیرتي ولسونو وفا او قرباني به تاریخونه یاد ساتي. زیاته یې کړه چې افغانان هیڅ کله په قربانیو ورکولو نه ستړي کېږي او نه به په زندانونو او مرګونو له خپلو اهدافو څخه پرشا شي.

## د بغلان ولایت له خلکو سره کتنه چهارشنبه ۱۴۰۲/۶/۲۹

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت سرپرست وزیر الحاج ملا نورالله نوري د بغلان ولایت د مرکز او ولسوالیو له علماوو او قومي مخورو سره په داسې حال کې وکتل چې د یاد ولایت والي الحاج مولوي عبدالرحمن حقاني هم حضور درلود.

په یاده ناسته کې ښاغلي نوري شمالي ولایتونو ته د سفر موخه له قومونو سره د همغږۍ غونډو جوړول ، د هغوی ستونزې اورېدل او له بندرونو څخه ځارنه یاده کړه.

همدا راز یې زیاته کړه چې دا زموږ دنده ده چې په ولایتونو کې له قومي سپین ږیرو، علماوو او عامو خلکو سره وګورو او د دوی ستونزې واورو، نوموړي د خپلو خبرو په ترځ کې وویل: په افغانستان کې جهادونه همدې قومونو او ملیتونو کړې دي، همدغه ولس وو چې څلویښت کاله یې له خپلو مقدساتو، عنعناتو او اسلامي شعائرو دفاع وکړه. هغه د مسؤلیت په اړه زیاته کړه هر څوک دې خپل مسؤلیت ته متوجه شي، مسؤلیت یو درونډ بار دی هر څوک یې باید په ښه ډول سر ته ورسوي.

وروسته یو شمېر علماوو او قومي مخورو په خپلو خبرو کې د افغانستان د اسلامي امارت په راتګ سره د امنیت، اتحاد، یووالي او بیا رغونې په برخو کې له هڅو خوښي وښوده او د افغانستان له اسلامي امارت سره یې په هره برخه کې د همکارۍ ډاډ څرګند کړ، همدا راز یې خپلې غوښتنې او ستونزې شریکې کړې چې د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت د سرپرست لخوا د هر اړخیزې همکارۍ او تر لوړو مقاماتو پورې د رسولو ډاډ یې ورکړ.

## په دایکندي ولایت کې د قومونو ترمنځ د یووالي او همغږۍ په مناسبت غونډه ۱۴۴۵/۳/۳۰

په دغه غونډه کې د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو سرپرست وزیر الحاج ملا نورالله نوري، مل پلاوي، د دایکندي ولایت مرستیال والي، دیني عالمانو او قومي مشرانو ګډون کړی وو.

لومړی د دایکندي ولایت مرستیال والي مولوي احسان الله رحمت یار د قومونو ترمنځ په اتحاد او اتفاق خبرې وکړې ویې ویل چې په دایکندي ولایت کې ټول قومونه د یووالي په ټغر را ټول او د خپل هېواد د بیارغونې لپاره په هره برخه کې له اسلامي امارت سره همکار دي.

دغه راز په یاده غونډه کې یو شمېر دیني عالمانو او قومي مخورو په هېواد د اسلامي امارت حاکمیت د شهیدانو د وینو برکت یاد کړ زیاته یې کړه چې د افغانستان ولسونه پر حاکم حکومت حق لري چې په هره برخه کې ورته خدمت وکړي.

ورپسې د وزارت د جرګو او قبایلي چارو د همغږۍ معین الحاج ملا عبدالخالق عابد په یاد ولایت کې د افغانستان د اسلامي امارت ټول مسؤلین له ولس سره حسنه برخورد او ښه چلند ته وهڅول. نوموړي وویل چې د افغانستان د اسلامي امارت د اداراتو دروازې د هر چا پر مخ خلاصې دي، هر څوک خپلې ستونزې د مسؤلو چارواکو په همکارۍ په اسانه حل کولای شي او تر هر ځایه یې رسولای شي.

وروسته سرپرست وزیر ښاغلي نوري د کفارو او ملګرو پر وړاندې د شل کلنې مقدسې مبارزې په اړه وینا وکړه ویې ویل: په افغانستان کې د مجاهدینو شل کلن جهاد، جنګ نه، بلکې یوه الهي فریضه او مقدسه مبارزه وه چې د یوه سپېڅلي هدف د تر لاسه کولو لپاره تر سره شوه. په پایله کې یې له ډېرو قربانیو وروسته هغه هدف ترلاسه شو کوم چې د اسلامي امارت د هر مجاهد غوښتنه وه. د دغه وزارت د جرګو او قبایلي چارو رئیس شیخ حضرت ولي حقاني غونډې ته د خبرو پر مهال د اسلامي امارت د یووالي او اطاعت یادونه وکړه او ویې ویل چې د دې صف په لیکو کې قوم پرستي او تعصب ته ځای نشته دلته ټول افغانان یوازې د اسلام تر چتر لاندې را ټول دي.

## د امارت غېږه لکه د مور له مهربانـــۍډکه ده اوس هیڅوک له حق تلفي وېره نلري

شنبه ۱ ربیع الاول ۱۴۴۵

د هېواد شـمالي ولایتونو ته د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت یوه لوړ پوړي پلاوي د خپل ســـــفر په ترڅ کې په بلخ ولایت کې له قومونوسره د همغږۍ غونډه ترسره کړه، په یاده غونډه کې د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت د جرگو او قبایلي چارو د همغږۍ معین الحاج ملا عبدالخالق عابد، مل پلاوي، د یاد ولایت د مرکز او ولسـوالیو سلگونه علماوو، قومي مخورو اوعامو خلکو گډون کړی و. په پیل کې ځو تنو قومـي مشرـــانو د قومونو تر منځ د انســـجام، سرتاسري امنیت، بیا رغونې، لویو اوســــــترو پروژو د کارونو د پیل په برخه کې د افغانســــتان د اسلامي امارت هڅې وستایلې، او له بریاسره جوخت یې د قدرت د جزیرو پر له منځه وړلو خوښي وښوده او زیاته یې کړه: د امارت غېږه لکه د مور له مهربانۍ ډکه ده اوس هیڅوک له حق تلفۍ وېره نه لري.

وریـسې د جرگو او قبایلو چارو د همغږۍ رئیس شیخ حضـرت ولي حقاني وویل: د افغانستان د اسلامي امارت مشرـانو شپه او ورځ پـر ځان د دې ولس د خدمت لپاره یوه کـړې ده، همدا راز نوموړي وویل: لکه څرنگه چې شل کاله د افغانستان ولس له مجاهدینوسره تکالیف گاللي، همداســـې اوس د موجوده حکومت حاکمان د دوی خدمت ته را وړاندې شـوي دي او دا خدمت خپله دنده او مســـؤلیت بولي. په پای کې د وزارت د جـرگو او قبایلو چارو د همغـږۍ معین الحاج ملا عبدالخالق عابد د هېواد د آبادۍ لپاره د ټولو قومونو ترمنځ یووالـی مهم او له ارزښـــــته ډک وباله، ویې ویل چې پردیو هر وخت پر دې خاوره له یرغل وروسته تر شا نړېدلی هېواد پرا ایښـــــی دی او تللي دي، نوموړي زیاته کـړه: په ډېره لنډه موده هېواد کـې د بیارغونې او په نورو برخو کې گړندۍ هڅې او ترسره شـــــوي کارونه د هېواد سمسـورتیا ته د افغانســـتان د اسلامي امارت د ژمنتیا څرگندونه کوي. چې له امله به یې ان شـــاءالله هېواد د ترقۍ پر لور گامونه اخلي.

## له علمي او اکاډمیکو څېړو سره ناسته

۱۶/۴/۱۴۴۵

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو سرپرســـــت وزیر الحاج ملا نورالله نوري، د افغانســـــــتان د علومو اکاډمي له علمي غړو، اکاډمیکو شخصـــــیتونو او یو شمېر علمي کادرونوسره د یاد وزارت د ناستو په تالار کې وکتل. چې پر مهال یې د یاد وزارت د اطلاعاتو او عامه اړیکورئیس ملا حمدالله فطرت او یو شمېر نورو کارکوونکو هم حضور درلود.

د ناســـتې په پیل کې ځو تنو علمي او اکاډمیکو څېړو پخپلو خبرو کې د یاد وزارت له بلنې څخه مننه وکړه او د دغه وزارت دوو چاپي رســـــنیو (جرگه او هموطن) مجلو چې د هېواد په کچه له خورا ډېر علمي ارزښت څخه برخمنې دي په بې څنډه چاپ اوخپرېدو خوښـي څرگنده کړه او د یادو مجلو د تحریر او لیکنې په برخه کې یې همکارۍ ته ژمنتیا وښـودله تینگار یې وکړچې د یادو چاپي رســــنیو د محتوا د بډاینې او کیفیت په موخه دې د علمي مرکزونو او لا زیاتو علمي شخصـیتونوسره د همغږۍ په موخه ناستې ترسره او ورڅخه دې گټه واخیســـتل شي. د وزارت سرپرســـــت ښـــاغلي نوري د علومو اکاډمي له علمي غړو او راغلیو اکاډمیکو څېړو څخه تود هرکلـی وکړ او له همکاریو یې مننه وکړه ویې ویل چې: د دې هېواد ټول وگړي د یوه بدن د غړو رول لوبوي او تاسې د دې نظام د قیوم (تکیه) حیثیت لرئ. ښاغلي نوري زیاته کړه: د افغانســـــتان وگړو د اسـلام په راتگ سره داســـې قربانۍ ورکړې چې تاریخ یې د مېړانې شاهدي ورکوي، دې خاورې نه یوازې په توره، بلکې په قلم کې هم د نړۍ په کچه نومیالي روزلي، چې مسـؤلیت یې اوس دغه ناستو او نورو علمي شخصیتونو ته پاته دی.

ستاسـې باید د جهاد او انقلابونو قربانۍ او مېړانې د خپل قلم په ځوکه تر راتلونکو نسلونو ور ورسوئ.

ښاغلي نوري د علمي شخصیتونو د ارزښت په اړه وویل: قلم د بدن وینې وچوي، او تاســـې د خپل تن وینه د دې ټولنې د را پورته کولو لپاره لگولې ده، ځکه نو تاســـې د دې نظام لپاره د طلا په څېر ارزښـــت لرئ، نظام باید ســـتاســـو له لیکنو گټه واخلي.

## په اســـلامي نظامونو کې اميران د خپل ولس خادمان وي (قومي مشر)

پنجشنبه۶ ربيع الاول۱۴۴۵

د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو وزارت د جرګو او قبايلو چارو د همغــــــږۍ معين الحاج ملا عبدالخالق عابد او ورسره مل پلاوي د هېواد شـــمالي ولايتونو ته د ســـفر په ترځ کې په بدخشان ولايت کې له سلګونو ديني عالمانو او قومي مشرانو سره د همغږۍ تر عنوان لاندې په يوه لويه ولســـي غونډه کې ګډون وکړ.

غونډې ته راغلو يو شمېر ديني عالمانو او قومي مشـــــرانو په خپلو خبرو کې د افغانســــتان د اسلامي امارت د حاکمېدو لپاره د افغانانو قربانيو ته په اشارې سره وويل: د افغانســـتان خلکو څلور لســيزې د يوه سوچه اسلامي نظام د قائمېدو لپاره قربانۍ ورکړې اوزموږ دوو نســــــلونو د داسې يو ارمان لپاره مبارزه وکړه چې هغه نه بدلېدونکي ارزښتونه وو چې الحمدالله د افغانســتان د اسلامي امارت له بريا وروسته موږ خپلواکي، امنيت او اســـلامي نظام ترلاســـه کړی او خپلو ارمانونو ته رســـېدلي يو، دغه راز غونډې ته راغلو ديني عالمانو او قومي مشرـــانو د سړکونو د رغولو، روغتيا او ښوونې او روزنې په برخو کې خپلې يو لړ ستونزې شريکې کړې.

وروســې د جرګورئيس الحاج حضـــرت ولي حقاني د نظام د ســـاتنې او تداوم په هکله خبرې وکړې او زياته يې کړه: د تېر انقلاب شهيدانو خپل مســــؤوليت ادا کړی، د خپلو وينو او سرونو په نذرانه کولوسره يې خپلواکي او اسلامي نظام ګټلی، اوس مسؤوليت د ژوندي پاتې مشرانو، عالمانو او قومي مشرانو دی چې د همدې نظام د ســــــاتنې او تداوم لپاره خپلو مسؤليتونو ته متوجه شي.

همدا راز د وزارت د جـــرګو او قبايلو چارو د همغـــــږۍ معين ښــــاغلي الحاج ملا عبدالخالق عابد وويل چې د تير نظام ډيموکراســـۍ، د بيان ازادي، د ښځو حقوق او داسې نور هغه غولوونکي شـــعارونه وو چې شـــل کال يې زموږ خلک ورباندې تېر ايستل.

ښاغلي عابد زياته کړه چې د افغانســــتان داسلامي امارت لومړيتوب د شـــعار او غولونې پر ځای کار او عمل کول دي. په هېواد کې موجوده اسلامي نظام د خلکو په مرسته او خوښه پر هېواد حاکم شوی، د خلکو حقوق پکې مشـــخص او خوندي دي، عدالت تأمين او شريعت پکې پلی دی، د مخدره موادو پر کښت او تجارت بنديز، د اقتصادي او پرمختيايي پروژو پيلول يې د دې دعوې ثبوت دی.

د يادې غونډې په پای کې د بدخشـــــان ولايت والي راغلي پلاوي ته د ځايي مشـــرانو په لاسونو دوديزې چپنې پر اوړو ور واچولـــې او د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو وزارت له خوا په پام کې نيول شوې ډالۍ يې په راغلو ميلمنو وويشلې.

## نورســــتان ولايت کې د قومونو ترمنځ د يووالي غونډه

سه شنبه ۹ ربيع لثاني ۱۴۴۵

د نورستان ولايت مرکز پارون کې د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو وزارت د جرګو او قبايلي چارو د همغږۍ معين ښـــاغلي ملا عبدالخالق عابد، ملګري پلاوي ، د ياد ولايت له مرکـز او ولســواليو څخه د سلګونه ديني عالمانو او قومي مشـرانو په ګډون د يووالي غونډه جوړه شوه .

په سر کې د نورستان ولايت ديني عالمانو او قومي مشـــــرانو غونډې ته د وينا پـــر مهال د قومونو تـــرمنځ له کلونو څخه د نا حل شويو اوږدو شخړو او ستونزو په حل کې د افغانســــتان د اســــلامي امارت د با تدبيره کړنو او هڅو منندوکړه اوهغه يې وستايلې. د جرګورئيس ښاغلي شيخ حضـــرت ولي حقاني وويل: اوسنی نظام چې په افغانســـتان کې حاکم دی هيڅ وخت په افغانســــتان کې دا ډول يوشرعي نظام چې هغه د خلکو له بتن راپورته شـــوی وي او خپلواک وي، نه دی حاکم شوی، افغانانو ته دا يوه موقع مســـاعده شوې ده چې بايد له دې فرصـــــت څخه ګټه پورته کړي او په هره برخه کې خپل هېواد ته خدمت وکـــړي. نوموړي د غونډې له ټولو دينـــي عالمانو او قومي سپين ږيرو څخه غوښتنه وکړه چې د ممبر او نورو هر ډول لارو په وسيله دې ځوان قشـــر ته د حاکم اسلامي

نظام په اړه عامه پوهاوی ورکړي او د پردیو له تبلیغاتو څخه دې یې وساتي.
وروسته د جرګو معین الحاج ملا عبدالخالق عابد د نړۍ د لسګونه هېوادونو او زرګونه فوځونوسره د افغانانو د مبارزې یادونه وکړه ویې ویل د افغانستان اسلامي امارت ته یو وران شوی او کنډواله هېواد پاتې دی، جوړېدل او رغاول یې وخت غواړي،
ان شاء الله په خپلو امکاناتو د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې جوړونه او بیا رغونه روانه ده، له دې سره به زموږ اقتصاد وغوړیږي، نو پر موږ ټولو ده چې له دا ډول ملي پروژو څخه ملاتړ وکړو او د خپل اسلامي نظام ترڅنګ ودریږو.

## په کونړ ولایت کې له قومونو سره د همغږۍ ناسته

۱۴۴۵/۴/۱۱

په یاده غونډه کې د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت د جرګو او قبایلي چارو د همغږۍ معین الحاج ملا عبدالخالق عابد، مل پلاوي، د کونړ والي قدرت الله ابوحمزه، ځایي مسؤلینو، له مرکز او ولسوالیو څخه راغلیو قومي مشرانو او دیني عالمانو ګډون کړی وو.
په پیل کې د ولسونو په استازیتوب څو تنو قومي مشرانو خبرې وکړې او دا یې د شکر ځای یاد کړ چې لوړرتبه مسؤلین د ولسونو غوښتنې اوري. دوی زیاته کړه چې د جهاد په وخت کې له مجاهدینوسره اوږه په اوږه دربدلي او د هغوی ملاتړ یې کړی. قومي مشرانو له مسؤلو چارواکو څخه وغوښتل چې ددې ولایت په سرحدي ولسوالیو کې دې د سړکونو جوړولو ته جدي پاملرنه وکړي چې ولس یې له ګڼو ستونزو سره مخ کړی دی.
ورپسې د وزارت د جرګو او قبایلي چارو د همغږۍ رئیس شیخ حضرت ولي حقاني په خپلو خبرو کې وویل چې امیرالمؤمنین (حفظه الله) ولس ته د خدمتونو په برخه کې پوره پاملرنه کوي او هر چا ته د پوره حقوقو ورکولو ته ژمن دی. هغه زیاته کړه چې د هېوادسرحدونه اوس تر هر وخت خوندي دي او ساتنه یې زموږ ټولو ستر مسؤلیت دی.
په پای کې د وزارت د جرګو او قبایلي چارو د همغږۍ معین شاغلي عابد غونډې ته په خبرو کې وویل: افغانان په یوه نعره او یوه شعار سره راټول شول، د الله جل جلاله د دین او خپل هېواد دفاع یې وکړه. هغه زیاته کړه: دا پر افغانانو د الله ج ځانګړی احسان و چې له دوی څخه یې د خپل دین د ساتلو کار واخیست، نوموړي زیاته کړه د افغانستان اسلامي امارت په سختو حالاتو کې د اقتصادي ودې، امنیت د ټینګښت، او د مخدره موادو د کر کیلې او استعمال د مخنیوي په اړه مبارزه وکړه او خپلو هڅو ته به دوام ورکوي.

## په ننګرهار ولایت کې هم یاد پلاوي له سلګونه دیني عالمانو، قومي مخورو او عامو خلکو سره د همغږۍ غونډه جوړه کړه،

۱۴۴۵/۴/۱۱-۹

په یاده غونډه کې د یاد ولایت والي حاجي ګل محمد او نورو مسؤلینو هم ګډون درلود. په سر کې څو تنو دیني عالمانو او قومي مخورو د افغانستان د اسلامي امارت په ملاتړ خبرې وکړې او زیاته یې کړه: موږ د دې نظام بدیل نه لرو، موږ په دې هېواد کې اسلامي نظام، ارامي، یووالی او اتفاق غواړو، دا د دې ولس فریضه ده چې پر دې متحد او اسلامي نظام منګولې کلکې کړي.
ورپسې د وزارت د جرګو رئیس شیخ حضرت ولي حقاني وویل: دا د مسلمانانو وجیبه ده چې د خپل هېوادسرحدونه وساتي او د خپل ملک دفاع وکړي، نوموړي زیاته کړه د خپل هېواد دفاع په خپلمنځي اتفاق او اتحاد کېږي چې تر بل هر وخت اوس زمینه ورته برابره ده.
وروسته د جرګو او قبایلي چارو د همغږۍ معین الحاج ملا عبدالخالق عابد په خپله وینا کې وویل: شل کاله دا هېواد د داسې چا په لاس کې و چې د خپلو ګټو لپاره یې افغانان هرې

کندې ته غورځول، خو نن افغانانو ته الله ج داسې نظام ور کړی دی چې د هر چا هر څه محفوظ دي، نوموړي په افغانستان کې د نړۍ د زبرځواکونو ماتېدل د افغانانو مېړانه یاده کړه.

په لغمان ولایت کې هم د ۱۴۴۵ ه ق کال د ربیع الثاني پر ۱۴ نېټه د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت د جرګو د همغږۍ رئیس شیخ حضرت ولي حقاني، مل پلاوي، د یاد ولایت د دولتي ادارو مسؤلینو او سلګونه قومي مخورو په ګډون د همغږۍ غونډه شوې وه.

په پیل کې څو تنو قومي مشرانو، سپین ږیرو او د کوچیانو مخورو په خپلو خبرو کې له اسلامي امارت څخه ملاتړ څرګند کړ ویې ویل: افغانان غیرت او جهاد ته علماوو هڅولي و، موږ چې نن نننۍ ازادي وینو دا د علماوو او مجاهدینو د جهاد او قرباني برکت و، دغه رازیې ددې ولایت او ولسوالیو لړ ستونزې شریکې کړې او د حل غوښتنه یې وکړه.

وروسته د جرګو د همغږۍ رئیس شیخ حضرت ولي حقاني د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت د لاسته راوړنو او پرمختګونو سربېره وویل: د اسلامي امارت تر حاکمیت وروسته د افغانستان پر خاوره هیڅ چا تجاوز نه دی کړی، د افغانستان ولسونه د خپل هېواد په ساتنه کې له حکومت سره څنګ پر څنګ ولاړ دي، همدا راز نوموړي زیاته کړه: دا د هر قومي مشر مسؤلیت دی چې د ټولني ځوان قشر په دې وپوهوي چې د افغانستان د اسلامي امارت ملاتړ او همکاري د دوی مسؤلیت او وجیبه ده.

## په زابل او غزني ولایتونو کې د مېشتو کوچیانو ستونزو ته رسېدنه کېږي

۱۴۴۵/۵/۱

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت د کوچیانو چارو د سمون لوی رئیس الحاج مولوي ګل زرین کوچي او ورسره مل پلاوي زابل او غزني ولایتونو ته د خپل کاري سفر په ترځ کې لویې ولسي غونډې جوړې کړې چې د کوچي قشر دیني عالمانو، قومي مشرانو، ځوانانو او د ځایي ادارو یو شمېر مسؤلینو پکې ګډون کړی وو.

په یادو غونډو کې د کوچیانو قومي مخورو، سرخېلانو او علماوو پخپلو خبروکې د وچکالیو له امله د څرځایونو د وچېدو او د دیني مدرسو، ښوونځیو او کلینکونو د نشتون په برخه کې د شته ستونزو د حل او اسانتیاوو د رامنځته کولو غوښتنه یې وکړه.

د غزني والي حافظ محمد امین جان عمري وویل : چې په دغه ولایت کې د اسلامي امارت له راتګ سره د کوچیانو ډېرې پخوانۍ دښمنۍ او ستونزې ختمې او حل شوې دي.ژمنه یې وکړه چې د کوچیانو ستونزو ته به رسیدګي کیږي.

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت د کوچیانو چارو د سمون عمومي رئیس مولوي ګل زرین کوچي د کوچیانو ونډه د هېواد په اقتصاد کې اړینه وبلله او ویې ویل چې د هېواد ۵۰ سلنه اقتصاد د مالداري په وجه د کوچیانو په لاس کې دی.

ښاغلي کوچي زیاته کړه چې په روان کال کې په ټول هېواد کې د عامې روغتیا وزارت له لوري د کوچیانو لپاره د روغتیا ګرځنده او سیار روغتیايي ټیمونه فعال شوي او په راتلونکي کال کې به د دوی لپاره د ښوونې او روزنې ګرځنده سیار ښوونځي هم فعال شي.

دغه راز ښاغلي کوچي وویل: اسلامي امارت د افغانستان د ټولو قومونو او قشرونو د ستونزو حل ته ژمن دی او ستاسې ستونزو ته رسېدنه زموږ مسؤلیت دی. نوموړي د کوچیانو له راغلیو مشرانو څخه وغوښتل تر څو په اخوت او ورور ګلوۍ یو له بل سره ژوند وکړي.





## په مرکز کابل کې د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت اړوند له څلورو ښوونیزو مرکزونو څخه د فارغانو په ویاړ غونډه ترسره شوه

۵/۲۴/ ۱۴۴۵

د دغې غونډې پر مهال دسرحدونو، قومونو او قبایلو چارو سرپرست الحاج ملا نورالله نوري، د یاد وزارت مرستیالانو او نورو مسؤلینو، جید عالم خلیفه دین محمد صاحب، د لوړوزده کړو وزارت مرستیال دوکتور لطف الله خیرخواه، د بهرنیو چارو وزارت سیاسي مرستیال شیرمحمد عباس ستانکزی، د بایزید روښان انستیتوت، رحمان بابا، خوشحال خان او پیر محمد کاکړ عالي لیسو فارغینو، د هغوی والدینو او نورو ګڼ شمېر مسؤلینو حضور درلود.

غونډې ته د وینا پر مهال ټولو مسؤلینو دزده کوونکو او محصلینو په فراغت خوښي وښوده، زکریالان یې خپلو مسؤلیتونو ته متوجه کړل.

دوی دزدکړو اهمیت ته په اشاري کولوسره وویل: په کومه ټولنه کې چې زده کړې نه وي هغه ټولنه ړنده ده او هیڅکله پرمختګ نه شي کولای.

سرپرست وزیر ښاغلي نوري فارغانو ته په خطاب کې وویل: تاسې د هېواد روښانه راتلونکی تضمینوئ، باید خپلو مسؤلیتونو ته متوجه اوسئ تر څو له پردي کلتور او تبلیغاتو څخه متاثره نه شئ. نوموړي د دغې غونډې له لارې ټول افغان ملت ته ډاډ ورکړ او زیاته یې کړه چې د ځوانانو روزلو او د قومونو تر منځ د یووالي قائمولو په برخه کې د اسلامي امارت لاسته راوړنې ډېرې د پام وړ دي او موږ به یې د لا ښه والي لپاره پوره هڅه وکړو.

هېره دې نه وي چې په یادو مراسمو کې له بایزید روښان انستیتوت څخه ۲۸ تنه‌زده کړیالان او له دریو یادو شویو لیسو څخه ۳۹۲ زده کوونکې فارغ شول چې د وزارت مقام له لوري په معنوي ډالیو او ستاینلیکونو ونازول شول.

د یادولو ده چې دسرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت تر دې مخکې په لوګر، میدان وردګ، بامیان، پروان، کاپیسا او فاریاب ولایتونو کې دې ته ورته غونډې جوړې کړې وې اوپه ولایتونو کې یې اړوند دویمو واحدونوپه تېرو دوو کلونو کې د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د بېلابېلو مسایلو پرسر د قومونو اوکورنیو ترمنځ (۶۵۵) لویې او ورې لنډ مهالي او اوږد مهالي شخړې چې له امله یې سلګونه کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې وه حل او د ښکېلو غاړو ترمنځ یې زړه بدوالي او کینې په دوستی بدلې کړې دي چې د شخړو د حلولړې به دوام ولري.



# په مرکز کابل کې له قومونو سره د یووالي او همغږۍ غونډه

۱۴۴۵/۵/۱

دسرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت په مرکز کابل د ولسوالیو او ټولو مرکزي ناحیو له قومي مشرانو، دیني عالمانو او ځوانانو سره د یووالي او همغږي غونډه ترسره کړه.

په یاده غونډه کې د وزارت سرپرست الحاج ملانورالله نوري، یو شمېر مسؤلینو او راغلیو سلگونه میلمنو گډون کړی وو .

په پیل کې یو شمیر قومي مشرانو، علماوو او ځوانانو د خبرو په ترڅ کې د تېرو حکومتونو د فساد، نا امنۍ او په ټولو برخو کې د چور او چپاول یادونه یې وکړه او د اسلامي امارت له خوایې په خپلو امکاناتو بېلابېلوبرخوکې ترسره شوي کارونه اولاسته راوړنې د هېواد او ولس په گټه وبلل.

دوی په هېواد کې سرتاسري امنیت، خپلواکي، د نشه يي توکو پر وړاندې مبارزه او رواني رغنیزې چټکې چارې بې سارې وبللې او د حکومت د ټولو ادارو کارونه یې وستایل.

راغلیو مشرانو ځوانانو ته د تکنالوژي او نورو برخو کې د کاري فرصتونو د ایجاد او پانگونې غوښتنه وکړه او له اسلامي امارت څخه یې کلک ملاتړ څرگند کړ .

وروسته سرپرست وزیر ښاغلي نوري گډونوالو ته هر اړخیزه ویناوکړه او ویې ویل: دا زموږ عقیده ده چې د الله تعالی ج له نصرت وروسته د دغو ولسونو حمایت و چې د دې نظام تر شا ودرېدل او اسلامي حکومت قائم شو. دا د اسلامي امارت پالیسي ده چې له گاونډیانوسره نېک روابط او د اسلام په چوکاټ کې له ټولې نړۍ سره مثبت تعامل ولري. نوموړي د غه راز له پاکستان هېواد څخه د راتلونکو لکونو مهاجرینو یادونه وکړه وې ویل چې دا خپله فریضه بولو چې هېواد ته د راستنو شویو مهاجرو او ټولو هېوادوالوخدمت وکړو. نوموړي د ولسونو له یووالي قدرداني وکړ، ویې ویل چې قومونه د تعارف لپاره دي، نور د سیمې ، ژبې او قوم په نوم ستونزې نشته دی .



# نبوي سيرت

**(اتمه برخه) د طائف سفر**

ليکوال: مولوي عبد السلام طارق

د قريشـــو پر کفر ټينګار ورځ په ورځ پر مختګ کاوه، پيغمبر اکرم صلی الله عليه وسلم چې په شعب ابي طالب کې وو، له هماغه وخت نه يې له قريشـــو پرته نورو خلکو ته چې د حج پر وخت به مکې ته راتلل د اسلام د تبليغ کار پيل کړی وو، چې په زړه پورې پايله يې ورکړې نه وه، اوس يې چې د مکې خلک له حده زيات سـخت او له اسـلامه کرکجن او متنفر وليدل، نو هغه پرېکړه وکړه چې د طائف خلکو ته د اسلام بلنه ورکړي، مکه له طائف نه درې منزله يعنې شپېته ميله لرې ښـار وو، هلته بني ثقيف آباد وو، چې د لات بوت ته يې عبادت کاوه، هلته د لات معبد (مندر) واقع وو او ټول ښار د هماغه معبد نمانځنه کوله، د نبوت په لســـم کال د شوال په مياشت کې يعنې د خديجة الکبری رضی الله عنها له وفات نه يوه مياشـت وروسـته، هغه زيد بن حارث له ځان سره کړ او پياده طائف ته ولاړ، طائف ښار ته له رسېدو د مخه يې لومړی په لار کې د بني بکر قبيلې ته تشريف يووړ، کله چې يې هغوی هم د

مکې د قریشـــــوهم فکره ولېدل، نو د قحطان قوم ته ورغی، هغوی یې هم سخت زړیتوب کې له قریشـــوسره مســاوي ولېدل، نو طائف ته ورسېد، طائف ته په رسېدو لومړی هغه د قوم له مشرانوسره خبرې اترې وکړې، د طائف په‌سردارانو کې (عبد یا لیل بن عمر بن عمیر) او د هغه دواړه ورونه مسـعود او حبیب په بني ثقیفو کې ترټولو اغېزناک او د هغوی رئیســـان ګڼل کېدل، پیغمبر اکرم صـلی الله علیه وسـلم درې واړو ته ورغی او د اســلام په لوریې بلنه ورکړه، هغوی ډېر مغرور او مـتکـبرو‌و، له هغوی نه یوه وویل: که ته الله جل جلاله خـپل رسول ګرځولای، نو داسې پیاده به پر ګوښـو نه ګرځېدلې، دویم وویل الله جل جلاله ته بل څوک پیدا نه شول چې ته یې پیغمبر کــړې، دریم وویل، زه له تاسره خبرې کول نه غواړم، ځکه که ته له خپلې ویناسره سـم د خدای جل جلاله رسـول یې، نو ستا د خبرورد کول خطرناکه خبره ده او که ته پر خدای جل جلاله دروغ وایې نو مناسبه نه ده چې له داسې سړي سره خبرې و شي.

( **د طائف د خلکو ناوړه چلند** ) کله چې پیغمبر اکرم صـــلی الله علیه وسلم له عبدیالیل او د هغه له ورونو نهیلی (نا امیده) شـو، نو هغوی ته یې وویل: ښـه تاسې خپل خیالات له ځانونو سره وســاتئ او نورو ته دا خبرې مه وایئ، له هغه ځایه راپاڅېد او د طائف نورو خلکو ته د اسلام په لور بلنه ورکولو کې بوخت شو، خو عبدیالیل او د هغه ورونو خپل غلامان د ښار هلکان او بې بندو باره خلک په پیغمبراکرم صلی الله علیه وسلم پســـې کړل، هغه به چې چېرته تشـریف ووړ، د بد معاشانو، او هلکانو یوې ډلې به ورپسـې کنځلې کولې، او په لوټو به یې ویشـته، د حضـور صلی الله علیه وسلم وفادار خدمتګار ورسره وو، هغه به حضـــــرت محمد صلی الله علیه وسلم بچ کاوه او د هغه په حفاظت مشـــغول وو، د لوټو او تیګو په باران کې پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم او حضـــــرت زید بن حارث (رض) دواړه زخمیان شـول، هغه ته په طائف کې اوسېدل ګران شـول، له هغه ځایه را روان شـــو، په لار کې هم ور باندې کاڼي، لوټې ورول کېدل، حتـــی له طائف نه تـر درې میله پورې یـــې هغه تعقیب کړ، د پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم پنډۍ د کاڼو په باران کې په وینوسرې شـوې، آن تردې چې موزې مبارکې یې له وینو مبارکو ډکې شـــــوې، همدارنګه یې ټول مبارک بدن زخمي زخمي او په وینو سور وو، د پیغمبر اکرم صلی الله علیه وســـــلم وینا ده چې ما له طائف تر درې میله پورې منډې ووهلـې، خوزه په دې نه پوهېدم چـې له کومه ځایه کومې خواته روان یم.

له طائف نه د درې میله په فاصله کې د مکې د یوه رئیس عتبة بن ربیعة باغ وو، پیغمبر اکرم صـلی الله علیه وسـلم دې باغ ته راغی او پناه یې پکې واخیســته او د طائف بې ډبه ببرته ستانه شول، هغه په دې باغ کې د دیوال سیوري ته کیناست او خپله بې کســـي او بې وسي یې ولېده او په الهي دربار کې یې دعا وکړه، چې الهي د بې کســـــو او بې وسو، ته ساتونکی او مرستندوی یې اوزه له تا نه د مرستې غوښـتونکی یم، عتبة بن ربیعة په دې وخت کې په باغ کې موجود وو، هغه چې رســـول اکرم صلی الله علیه وسلم په دې حالت کې ولېد، نو د مســافر پالنـې له مخـې یـې د خپل غلام «عداس» په لاس په یوه قاب کې د انګورو وړی (وښکی) کېښـــوده او هغه ته یې راولیږه، دا غلام د « نینوا » اوسېدونکی او عیسوی وو، هغه انګور وخوړل او عداس ته یې د اسـلام تبلیغ وفرمایه، د عداس پر زړه د هغه خبرو اغېز وشو او هغه د نبي اکرم صلی الله علیه وسـلم په لاس ور ټیټ شـــــو او مچ یې کړ، عتبة له لرې نه د خپل غلام د غه حرکت ولېد، کله چې عداس ببرته ولاړ، عتبة ورته وویل: د دې سړي په خبرو مه کیږئ، له ده نه خو ســـتا دین غوره دی، د یو څه وخت پورې هغه د عتبة په باغ کـې آرام وفرمایه، بیا له هغه ځایه راپاڅېد را روان شو، له هغه ځایه چې را روان شـو، نو هغه د « نخله » مقام ته ورسېده، او شپه یې د خرماوو په باغ کې تېره کړه، دلته د پیریانو ځینې سردارانو له هغه نه قرآنکریم واورېده

او پر هغه یې ایمان راوړ.

**( مکې ته بېرته راتګ )** له نخله نومي ځایه چې پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم را روان شو، نو د حرا غره ته یې تشـــریف راوړ دلته د یو څه وخت لپاره پاتې شو او د قریشـــــو د ځینو سردارانو په نامه یې پیغامونه ولیږل، مګر یو ســـړی هم د هغه ضمانت او پناه ور کولو ته تیار نه شو، مطعم بن عدي ته چې د هغه پیغام ورسېد، نو هغه که څه هم مشـــرک او کافر وو، خو د عربي شرافت او قومـي غیرت نه په اغېزمنتیا را پاڅېد او نبغ د آنحضـرت صلی الله علیه وسلم حضـور ته د حرا غره ته ولاړ او هغه یې له ځانه سره مکې ته راووست، د مطعم زامن ایســـتلې توري د کعبې په مخ کې ودرېدل آنحضـــــرت صلی الله علیه وسلم د کعبې طواف وکړ، تر دې وروسته مطعم او د هغه زامنو پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم د تورو په سـیوري کې خپل کور ته ورساوه، قریشـــو له مطعم نه پوښتنه وکړه، چې ستا له محمد صلی الله علیه وسلم سره څه اړیکې دي، مطعم ځواب ور کړ، چې زما خو هیڅ اړیکې ورسره نشـته، خوزه د هغه ملاتړ کوم تر څو پورې چې هغه زما په حمایت کې وي، هیڅوک ورته په نیغو سترګو نه شي کتلای، قریشـو چې د مطعم دغه همت او حمایت ولېد غلي غوندې شـــول، په یوه روایت کې راغلي، چې کله نبي اکرم صلی الله علیه وسلم په طائف کې په پورتنیو حالاتو کې وو، نو یوه ملا ئکه هغه ته راغله او ورته وې ویل چې که تا ســـې حکم کوئ چې زه دا غر پورته کړم او د طائف پر خلکو یې را ګذار کړم چې ټول پناه شي، رسول الله صـلی الله علیه وســـلم و فرمائل نه ، هیڅکله نه ،زما هیله ده چې که دا خلک اســـلام ونه مني، نو د دوی اولاده به ضرور د اســـلام خدمتګاران شي او د دوی راتلونکي ټول نسلونه به مسلمانان وي،زه د دوی هلاکت نه خوښوم.

**له حضرت عایشې (رض)سره نکاح او معراج**

د نبوت په لسم کال د شوال په میاشت کې حضـور صلی الله علیه وسلم له حضـرت عایشـې بنت ابي بکر رضی الله تعالی عنها او حضـرت سودة بنت زمعة رضی الله عنها سره نکاح وکړه، په همدې کال د معراج واقعه پېښـــــه شوه. د معراج په باب د طبري وینا ده، چې د وحې په لومړیو یعنـې د نبوت په لومړي کال واقع شو، یعنې له کومه وخته چې لمونځ فرض شو، د ابن حزم وینا ده چې معراج د نبوت په لســـم کال وا قع شو، له ځینې روایاتو دا هم ثابتیږي، چې معراج مدینـې ته له هجرت وروسته واقع شوی، لکه څنګه چې د شق صدر( سینې څیرلو ) په باب د علماوو خیال دی، چې له یو نه زیات ځلې شـــوی دی، همدارنګه د ځینیو علماوو هم دا خیال دی، چې معراج له یو نه زیات ځلې واقع شـــوی دی، په هر حال دا خبره دلته نشي۔څېړل کیدای، د دې لپاره د ې نورو مستقلو تصـنیفونو تفاسیرو او احادیثو کتابونو ته باید پاملرنه وشي .

**په بېلا بېلو ځایونو او قبائلو کې د اسلام تبلیغ**

د مکې له خلکو نه چې نا امیده شو، نو حضـــورصلی الله علیه وسـلم د طائف نیت کړی وو، د طائف خلکو د مکې له خلکو نه ورسره زیات ناوړه ســلوک وکړ، د مکې خلکو کر که او ضـــد او د هغوی شرارتونه د خپل کمیت او کیفیت له مخې ورځ په ورځ لا پســې زیاتېدل، خو پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم همت له لاسه ورنه کړ، له طائف نه چې راستون شو،هغه به هغو قبائلو ته چې د مکې په شاوخوا کې په لږه فاصله اوسېدل، پرله پسې تشریف ووړ او د اسلام تبلیغ به یې ورته کاوه، لکه د بنو حنیفه قبیله سیمې ته هم ورغی، خوهغه ظالمانو له نورو عربانو څخه په ډېره ناوړه طریقه له هغه څخه انکاروکړ، له بهر نه چې کوم مســـــافر یا به د حج په ورځو کې له لرې لرې ځایونو کاروانونه راتلل.رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم به هغوی ته ورتلو او د اســلام تبلیغ به یې ورته کاوه، ابولهب چې د هغه په خاصـــو مخالفینو کې وو، هغه به ور پسې هر ځای ورتللو او مســافر به یې د هغه د خبرو له اورېدو منع کول، د بنوعامر ، بنوشـیبان، بنوکلب، بنومحارب، فزاره، غســـــان، سلیم، عبس، حارث ، عذره،زهل، مره او نورو قبائلو ته هم پیغمبر اکرم صـــلی الله

علیه وسـلم د اسـلام بلنه ورکړه، کوم وخت چې هغه د عامر قبیلې په مخکې اسـلام وړاندې کړ، نو له هغوی نه یوه تن د (فراس) په نامه وویل: که موږ مسـلمان شو او تاسې پر خپلو دښمنانو بریالي شئ، نو آیا ته به موږ له ځانه وروسته خلیفه ګان کړې، نبي اکرم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمائل: دا کار د الله جل جلاله په اختیار کې دی، هغه چې څوک غواړي زما خلیفه به یې ګرځوي، د دې خبرې په اورېدو هغه سړي وویل: څومره ښـه اوس خو دې موږ ستا فرمانبرداران او ستا په ملاتړ دې خپلې غاړې پرې کړو او چې کله ته بریالی شـې، نو نور خلک دې حکومت اخلي، ولاړ شه تا ته زموږ اړتیا نشته، (سوید بن صامت) د نبوت یوولسـم کال پیل شوی وو، د مدینې اوسیدونکی د اوس قبیلې یو سړی مکې ته راغی چې پخپل قوم کې د کامل په نامه مشـهور وو، د هغه په اتفاقي ډول له حضـرت محمد صلی الله علیه وسلم سره ملاقات وشو ، نبي اکرم صـلی الله علیه وسـلم، هغه اسلام ته را وباله، هغه سـړي وویل ښـایي له تاسره هماغه څه وي چې زماسره دي هغه ورته و فـرمائل له تاسره څه دي، هغه وویل د لقمان حکمت، خاتم الانبیاء حضـرت محمد صلی الله علیه وسلم ورته وفرمائل راته یې واوروه، هغه یو څو شعرونه وویل، رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم چې واورېدل وې فرمایل چې دا ښـه کلام دی خو له ما سره قـرآن مجید دی، چـې تـر دې غوره، بهتر، هدایت او نور دی، په ځینو روایاتو کې راغلي دي، چې هغه سړی مسـلمان شو او په ځینو روایاتو کې دي چې هغه مسـلمان نه شو، خو د هغه یې بیخي مخالفت ونکړ، مدینې ته چې ولاړ، هغه د اوس او خزرج په جګړه کې ووژل شو.

(ایاس بن معاذ) په همدې ورځو کـې انس بن رافع د خپل قام بنو الاشـهل له څو تنوسره له مدینې نه مکې ته د دې لپاره راغی، چې د مکې له قریشوسره د خزرج قبیلې په مقابله کې معاهده وکـړي او قـریش له خپل قوم سره، هم عهد کـړي، د دغې ډلې د راتلو د خبر په اورېدوسره حضرت محمد صلی الله علیه وسلم تر ټولو د مخه هغوی ته ورغی، تر اوسه د قریشـو له سردارانوسره لا د هغوی لېده کاته نه وو شوي او خپل مقصـد یې لا ورته بیان کړی نه وو، چې هغه ورغی او ورته وې ویل: چې له ماسره دا سې څیز دی، چې ستاسـې ټولو ښـیګڼه پکې پټه ده، که تاسې غواړئ چې زه یې درته وړاندې کړم، هغوی وویل ډېره ښه ده تاسې یې وواياست، آنحضرت صلی الله علیه وسلم وفرمائل: زه د خلکو د هدایت او لار ښـوونې له پاره رسـول را لیږل شـوی یم، له‌شرک نه منع کوم او یوازې د خدای جل جلاله پر بنده ګـی حکم کوم، پـر ما الله جل جلاله کتاب نازل کړی دی، بیا هغه هغوی ته د اسلام اصول بیان کړل او د قرآن مجید څو آیاتونه یې ولوستل، د مدینې په هغه وفد کې له انس بن رافع سره یو ځلمـی ایاس بن معاذ هم وو، ایاس چـې د آنحضـــرت صلی الله علیه وسلم خبرې او د قرآنکریم آیتونه واورېدل، بې واکه یې وویل: چې اې زما قومه تاسې چې د کوم مقصـد له پاره له مدینې نه راغلي یاست، پر الله جلت عظمته قسم چې دا څیز تر هغه غوره دی. د ډلې مشـر انس بن رافع ایاس بن رافع، وراټه او ورته وې ویل: چې موږ د دې مقصد له پاره نه یو راغلي، ایاس غلی شو او آنحضـــرت صلی الله علیه وسلم له هغه ځایه غلی را ولاړ شـو او راغی ، نتیجه یې دا شوه چې دا وفد له مکې نه ناکام راستون شو، له قریشـــوسره یې کومه معاهده ونه کړای شوه، ایاس بن معاذ چې مدینې ته ولاړ څو ورځې وروسـته وفات شـو او هغه تر مړینې د مخه خپل ایمان اسلام ښکاره کړ، (ضماد ایزدی رضی الله عنه) ضماد ایزدي رضی الله عنه د عربو مشـــــــهور جادوګر او د یمن اوسیدونکی وو، هغه مکې ته راغی، دلته یې له قریشـــــو واورېدل، چې پر محمد صلی الله علیه وسـلم د پیریانو اثر دی، ضماد رضی الله عنه وویل چې زه د خیل منتر په وسیله اوس د دې سړي علاج کوم، په دې ډول د حضـــرت محمد صلی الله علیه وسلم په حضـور کې حاضر شو او ورته وې ویل: چې زه تا ته خپل منتر اوروم، پیغمبر اکرم صـلی الله علیه وسـلم ورته



وویل لومړی یې له مانه واوره، بیایې ته واوروه، لکه چې هغه د خپلې وینا لومړنۍ کلمې په دې ډول پیل کړې : الحمد لله نحمده و نستعینه من یهده الله فلا مضــــل له ومن یضــــلله فلا هادی له واشهد ان لا اله الا الله وحده لاشریک له و اشهد ان محمدا عبده ورسوله امابعد: پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم لا تر اوســه همدومره الفاظ ویلي وو، چې ضــماد بې واکه وویل: همدا کلمات دویم ځلې بیان کړه، په دې ډول رسول اکرم صلی الله علیه وســلم همدغه کلمات ورته څو ځلې ولوســتل، ضــماد وویل: ما ډېر کاهنان، ساحران او شاعران لیدلي او د هغوی کلام مې اورېدلی، خو داسې جامع، معنی لرونکی خوږ او نرم کلام مې هیڅکله نه دی اورېدلی، بیایې هغه ته وویل خپل لاس را اوږد کړه،زه مسلمانیږم او د اسلام له پاره بیعت کوم. (نور په بله ګڼه کې)



# د اسلامي حکومت بهرني سیاست ته لنډه کتنه

(۱ ـ ۱۰ هـ ق)

خېړندوی وجیه الله ظهیر

## وروستۍ برخه

### الف – د جهاد پیل او د اسلامي پوځ جوړېدل

انصـــاري په خپل اثر کې راوړي، جهاد فی سبیل الله، هغه جنګ ته ویل کېږي چې یو مســـلمان یې د الله ﷻ په لاره کې د ټول انسانیت د توحید او تنظیم د خیر لپاره ترسره کوي. زیاتوي، د خدای ﷻ په لاره کې قتال ته جهاد او د طاغوت(کفر) په لاره کې جنګ ته د قرآن له مخې شیطاني جنګ ویل کېږي.(۵: ۵۲۳مخ)

دغه راز په دې اړه یو بل څېړونکی ګوهر رحمن لیکي، د جهاد او قتال څخه غرض په زور د خلکو مســـــلمانول نه دي، وایي، که چېرې داسې وای، نو بیا به اسلام کې د خراج احکام نه وو. بیا وایي، له جهاد او قتال څخه هدف د کفارو او مشرـــــکینو د اقتدار ختمول او د اسلامي حکومت جوړول دي او که چېرې له مخکې څخه جوړ وي، نو بیا د هغې د دفاع او ټینګښـــــت لپاره جګړه کېږي چې موخه یې ترې غلبه ده او د همدې غلبې نوم بیا اقتدار او حکومت دی.(۱۰: ۱۸۵مخ)

عثماني ليکي: کله چې رسول الله ﷺ د جهاد په اړه اجازه ترلاسه کړه، نو په مقدماتي کارونو، لکه د منظمې اردو یا د پوځ په جوړولو يې پيل وکړ چې له دې کړنې يې موخه مسلمانانو ته د جنګي، نظامي او له اسلام څخه د دفاع روحيه ورکول و او د اسلام ټولو دښمنانو ته دا ثابته ول و، چې اسلام او مسلمانان کمزوري نه دي، بلکې په هر ډګر کې د دې توانمندي لري چې له خپل حريم، مقدساتو او له خپلو ديني ارزښتونوڅخه په کلکه دفاع وکړي. وايي، رسول الله ﷺ د پوځي ډلګيو او د پوځ له تشکيل څخه وروسته د اسلام د دښمنانو پر وړاندې په عملي توګه جهاد پيل کړ او مسلمانانو ته يې په ښه ډول ديني او اسلامي روحيه ورکړه. بيا ليکي، ټول هغه جنګونه او نظامي فعاليتونه چې رسول الله ﷺ په لاره واچول، په دوه برخو ويشل کېږي چې يو ته يې غزاوې او بل ته يې سرايا ويل کيږي. (۵: ۳۳مخ)

د سباعي له قوله، د اسلامي حکومت د ټولو جهادونو د غزواتو شمېر(۲۶) او د سراياو شمېر يې(۳۸) ته رسېږي. وايي، هر هغه جګړه کې چې رسول الله ﷺ د اسلامي وسلوال پوځ قومانده په لاس کې درلوده او خپله يې په کې ګډون کړی و، هغې ته غزا او د کومې جګړې لپاره چې يې بيا بل مشر ټاکلی و، هغې ته سريه ويل کېده. (۷: ۱۱۲مخ)

رحماني بيا د اسلام د وسلوال پوځ په بحث کې په خپل اثر کې ليکي، رسول الله ﷺ د يو روزل شوي ځواکمن اسلامي پوځ د جوړښت د انتظام ترڅنګ د عربو د جنګي فنونو په زده کړو بسنه او اکتفا ونه کړه، بلکې زيار يې وويست چې خپل ملګري د قرآن د لارښوونې له مخې په معاصرو جنګي فنونو سمبال کړي. وايي، له همدې امله يې ځينو ملګرو ته دنده ورکړه چې د منجنيق (د هغه مهال د جنګ مؤثره او بهتره وسله) د فن د جوړولو زده کړه وکړي، چې بيا هغوی په پوره مهارت سره په کم وخت کې دغه مهارت سرته ورساوه. زياتوي، اسلامي حکومت درسول الله ﷺ په مشرۍ هغو مشرانو ته هم زيات قدر او ارزښت ورکاوه، کوم چې د ياد وسلوال اسلامي پوځ قومندانان وو. وايي، رسول الله ﷺ په بېلا بېلو وختونو کې مختلف صحابه کرام د پوځ د قومندانانو په توګه د ځينو مهمو عسکري کارونو د اجرا لپاره استولي دي چې شمېر يې د سيرت کتابونو دوه څلوېښت(۴۲) تنه ښودلی دی. (۶: ۱۶۰مخ)

**ب ـ د جهاد سياسي کړنلاره او اصول يې**

لکه څنګه چې د مخه ذکر شول، اسلامي حکومت د رسول الله ﷺ په مشرۍ وروسته له هغې د جهاد اجازه ترلاسه کړه، کله چې مسلمانانو له مکې مکرمې څخه مدينې منورې ته هجرت وکړ او بيا هلته يې د رسول الله ﷺ په مشرۍ د اسلامي حکومت د بنسټ ډبره په ډېر ښه ډول سره کېښوده او بيا د يو غښتلي نظام له لوري د ټولو مسلمانانو هر اړخيزې چارې سمبالېدلې، هغه غښتلی نظام چې د کورني سياست تر څنګ يې بهرنۍ سياسي تګلاره روښانه او هم يې د جهاد ښکلي اصول او قواعد درلودل.

څېړونکی ولی الله ملکزی ليکي، رسول الله ﷺ په خپل ژوند کې په (۲۶) غزاګانو کې برخه اخيستې او د احد له غزا پرته يې په ټولو کې پر دښمنانو بری ترلاسه کړی. وايي، دلته يوه په زړه پورې او باريکه خبره دا ده چې د قرآن کريم په هېڅ ځای کې د غزا يا غزوې لفظ نه دی راغلی، خو د جهاد کلمه يې بيا (۴۱) ځلې ياده کړې چې لغوي معنا يې زحمت، مشقت، هڅه او کلکه ځمکه ده او اصطلاحي معنا يې قتال، جنګ او مجادله ده.

وړاندې ليکي، د سيرت د معتبرو کتابونو له مخې د بعثت په لومړيو ۱۳ کلونو او د هجرت په لومړي کال کې هېڅ ډول وسله واله نښته او جګړه نه ده شوې او بيا د هجرت په دوهم کال د بدر تاريخي او مشهوره غزا د مسلمانانو او د اسلام د دښمنانو ترمنځ ترسره شوې. (۱۳: ۸۹مخ)

دا چې د جهاد پيل د بدر د مشهورې او تاريخ جوړوونکې غزا څخه شوی، نو، ويلی شو چې د رسول الله ﷺ په مشرۍ د اسلامي حکومت د جهاد پاليسي او يا نظامي تګلاره هم له همدغې ورځې پيل شوې. دا چې د اسلامي حکومت د جهاد

یا سپېڅلې مبارزې سیاسي تګلاره او اصول څه وو؟ په دې اړه څېړونکی محمد داود ناظم په خپل اثر کې لیکي، رسـول الله ﷺ تل په دې تأکید کاوه او ملګري یـې دې ته هڅول چـې د جهاد او جګړې په جریان کـې به د مقابل لوري څخه کمکیان او هغه افراد چـې عام ملکـي وګـړي دي، نه وژنـئ. دغه راز د ښـځو او مېرمنو په وژلو به لاس نه پورې کوئ، سـپین ږیري، حیوانات او نباتات به له منځه نه وړئ. زیاتوي، دغه ټول هغه عملي درسونه، د جهاد سـیاسي تګلاره او آداب وو، له کومې چې د اسـلام حقانیت، سـپېڅلتوب او لوړوالی ښـکاري او اسـلامي حکومت ترې په ټولو جهادونو او جګړو کې ګټه پورته کوله.(۱۵: ۲۳مخ)

دغه رنګ یو بل څېړونکی ولی الله ملکزی د جهاد د اخلاقي او سیاسي اصولو د بحث په اړه لیکي، رسول الله ﷺ په خپلو ټولو غزاګانو کې له یوې ښځې پرته بله یوه ښځه نه ده وژلې. په یوه جنګ کې یې هم کوم ماشـوم نه دی له منځه وړی او نه یې کوم سپین ږیری په قتل رسولی. وړاندې لیکي، رسول الله ﷺ خپلو ټولو وعدو او تړونونو ته ژمن پاتې شوی او له هېڅ دښـمن سره یې غدر نه دی کړی. وایي، دغه راز په ټولو غزاګانو کې یې چور او د چا بې عفتي نه ده کړې، تـر دې چـې هغه سرتمبه او کرکجن مخالفین یې هم بخښـلي چـې د کمین، زهرو او یا هم د چاقو او برچې پر مټ یـې د ده د وژلو هڅه کړې. بیا زیاتوي، رسول الله ﷺ د نن ورځې خونړیو جنګونو په څېر له وینو تویولو خوند نه اخیسـت، بلکې د ځان په شمول یې خپلو ملګروسره یو ځای د الهي او آسماني مبارکو تعلیماتو په رڼا کې د اسلام دښمنانوسره مبارزه کوله.(۱۳: ۹۷مخ)

اسـعد ګیلاني لیکي، رسـول الله ﷺ هغه سـیاسي او ځیرک شخص و، چې د جهاد عملي قیادت یې هم په غاړه و. وایي، د جهاد له سـیاسي تګلارې څخه یې یوه غوره تګلاره دا وه چې مخکې له جهاد څخه به یې په خپل وخت اسلامي حکومت ته پېښې شوی خطر په ډېر ښه تدبیر دفع کاوه. وایي، د دښمن په لمنځه وړلو کې یې د ناڅاپي حملې او د ګوریلایي (چریکي) جنګ تدبیر او نقشـې هغه څه وې چې په سیاسي تګلاره کې یې ترې یادونه کولای شو.(۱۱: ۴۲۵مخ)

دې کې شک نشـته چې رسول الله ﷺ د جنګ او جګړې په هنر پوه او لوښېدلی شخصـیت و. هر کار او فعالیت یې په فکر، په تدبیر او ملګروسره په مشـورې و. رسول الله ﷺ نه غوښتل چې د دښمن له هر حرکت او فعالیت څخه ناخبره وي. تل یې کوښښ داو چې له هرې وسیلې ګټه پورته کړي او د اسلامي حکومت او د مسلمانانو په حفاظت کې خپل مسؤولیت په سم ډول ترسره کړي.

انصاري د رسول الله ﷺ په مشرۍ د اسلامي حکومت د جهاد د سیاسي کړنلارې او پالیسـۍ په بحث کې لیکي، د منظم پوځ یا منظمـې اردو را منځته کول او پیاده اردو بیا د جنګ په ډګر کې په څو برخو (وړاندې، وروسته، مخکې، منځ کې، ښـی لوري او چپ لوري ته) وېشـل او هم یاد پوځ د کیفیت له اړخه په څو منظمو دستو (سواره، پلي، زغره وال) وېشـل او مجهز کول هغه پالیسي- او تګلاره وه چې د رسول الله ﷺ په بصیرت او جنګي پوهې یې دلالت کاوه. دغه راز هغو ملګروسره چې د جنګ په هنر له نورو ښه پوهېږي او د جنګ مسـلکي پوهه یې لر له مشـــــوره کول، د جهاد لپاره په متفاوتو رنګونو د بیرغ (سـپین یا تور) ټاکل، د پوځ بېلابېلو برخو ته د امیر ټاکل، د پوځ لپاره منظم لباس غوره کول، د جنګ د مشرانو قومندانانو لپاره محفوظ او پټ ځای ټاکل، په جنګ او جهاد کـې لوړ او ټیټ لوری او هم د اوبو سـیمه غوره کول، د جنګ لپاره په غورې نقشـې او عسـکري تفتیش کار کول، د جګړې منظم صفونه تـړل، د چونیو، مورچو او خندقونو جوړول، په پوره زړورتیا او خلاص مټ حمله کول، پوځ ته دینـي او معنوي روحیه ور کول او د محاذ تر شـا محاذ جوړول، ټولې هغه لارې چارې، عملي درسونه او سـیاسي تکتیکونه او کړنلارې دي چې د رسـول الله ﷺ له لوري د جنګ په ډګـر کـې تـرې د کورنیو او هم د بهرنیو دښـمنانو پر وړاندې ګټه پورته شـوې، او دغه هغه څه دي چې موږ یې د اسلامي حکومت د جهاد د سـیاسي کړنلارې په نامه

هم نومولی شو.(۵: ۵۲۷ - ۵۳۸مخونه)

## ج- د جنګي يرغملو اړوند پاليسي

دې کې شک نشته چې هره جګړه، جنګ يا جهاد لکه څنګه چې پيل لري، همدغه رنګ پای هم مومي. د کوم پای په صورت کې چې وژل شوي، ټپيان او جنګي بنديان د روغو او ژونديو لاسونو ته لوېږي. د رسول الله ﷺ پاليسي يا سياست چې څنګه د وژل شوو په حق کې ښکاره دی، دغه راز د جنګي بنديانو په حق کې هم اسلامي حکومت د قرآن له مخې ځانګړي اصول او قواعد لري. په دې اړه څېړونکی محمد داود ناظم په خپل اثر کې ليکي، اسلامي حکومت د لومړي ځل لپاره د خپل غوره او غښتلي سياست له مخې ټول بشريت ته بنديانو يا اسيرانوسره د نېکي رويې او چلند درس ورکړ. وايي، دا چې د بدر د تاريخي او مشهورې غزا په پای کې رسول الله ﷺ جنګي بنديانوسره کوم سلوک او لاره غوره کړه؟ له چا هم پټه نه ده. تر دې چې دغو بنديانو ته يې د خوشې کېدلو پلمه لټوله او لسو(۱۰) مسلمانانو ته د کتابت او قرائت په ښودلو سره يې دغه کافر بخښل.(۱۵: ۲۳مخ)

انصاري ليکي، د قرآن د حکم له مخې د سختې او پرېکنده جګړې په صورت کې د بنديانو نيول صورت نيسي او په دې اړه لومړی قرآني حکم دا دی چې دغو بنديانوسره دې نيکي وشي. که داسې څه نه کېږي، نو بيا دې په دوهم قدم کې د فديې له اخيستلو وروسته خوشې کړل شي. زياتوي، اسلام نه د مخه د جنګي بنديانو په اړه کوم قانون شتون نه درلود، خو اسلام د عچ اخيستلو په اور سړې اوبه تويې کړې او اسلامي پوځ ته يې د احسان او نېکۍ له مخې په اسانه شرايطو د خوشې کېدلو امروکړ. ليکوال وړاندې ليکي، د قرآن دغه سپېڅلی امر د انسانيت يوه داسې نمونه ده چې لويديځ جنګي پاليسي جوړوونکي يې نن ورځ هم بېلګه وړاندې کولای نه شي او په اوسنۍ زمانه کې هم فاتح ځواکونه له داسې کړنو عاجز او ناتوانه دي.(۵: ۵۳۹مخ)

ابراهيمي ليکي، د جنګي يرغملو اړوند خدای ﷻ مسلمانانو ته داسې مهرباني کوي: ( ويطعمون الطعام علی حبه مسکينا ويتيما و اسيرا.) (دهر: ۸)

ژباړه: د خدای ﷻ نېکان بنده ګان خپل غوره خواړه مسکينانو، يتيمانو او بنديانو ته خاص د الله ﷻ درضا لپاره ورکوي. بيا وايي، جنګي بندي سره د دښمن له لوري چلند د تاريخ په مختلفو دوروکې متفاوت و. زياتوي، د اسلام څخه مخه به جنګي بندي سره ډېر ظلم کېده او دا ډول اشخاصو ته به سختې سزاوې ورکول کېدې؛ خو کله چې د رسول الله ﷺ په مشرۍ اسلامي حکومت رامنځته شو، اسلام جنګي بنديانو ته يو ډول حقوق وضع کړل او د هغوی ورکړه يې په خپلو پيروانو واجب وګرځوله. ليکوال وړاندې ليکي، دا چې د انسانانو تر منځ تل جنګونه او پر يو بل تېري پيښ شوي، نو له مخې يې انسانان وژل شوي، ټپي شوي او بنديان شوي. وايي، مخکې له اسلام څخه به دغه بنديان تل مظلوم او بې دفاع وو، او د نيوونکو لخوا به ورته ډېرې سختې سزاګانې ورکول کېدې، لکه په اور کې سوځول، د پوستکي ويستل، د نوکانو ويستل، اعدامول، په غلامۍ نيول او د ملک نه تبعيدول.

(۲: ۱۴۹مخ)

نه يوازې دا چې د دښمن د نيول شويو جنګياليوسره دا ډول چلند کېده؛ بلکې د مغلوب طرف ټول اموال، ښځې، ماشومان او بوډاګان به هم له دا ډول چلندسره مخامخ وو او دا ډول مظالم به هغه مهال يهودانو ظاهراً د تحريف شوي تورات پر اساس ترسره کول، خو اسلامي حکومت د جنګي بنديانو او نورو کسانو تر منځ تفکيک وکړ او د دښمن په مال، ښځې او ماشوم باندې يې تېری کول حرام وګرځول او جنګي بندي ته يې يو لړ حقوق او امتيازات ورکړل. ابراهيمي ليکي، په کفري نړۍ کې آن د (۱۹) م پېړۍ تر نيمايي پورې د جنګي بندي سره ظلم زياتی روان وه، چې ښه بېلګه يې تر اتمې(۸) م پېړۍ پورې د کليسا په امر د جنګي بنديانو او هغو کسانو په اور کې سوځول دي، کوم چې د پاپ د عقيدې ضد نظرياتو

باندي متهم وو.

وړاندې ليکي، همدارنګه مسلمانانوسره په صليبي جګړو کې د مسيحيانو تګلاره هم له چا پټه نه ده، چا چې د بيت المقدس په يوه ځل محاصره کې د مسلمانانو پنځوس زره(۵۰۰۰۰) ښځې او ماشومان په شهادت ورسول.

(۲: ۱۵۱مخونه)

څېړونکی مصطفی سباعي بيا په خپل کتاب کې د جنګي يرغملو اړوند د اسلام د سياسي پاليسۍ دې حکمت ته د مسلمانانو پاملرنه اړوي او ليکي، د رښتوني بلوونکي(رسول الله ﷺ) دا ځانګړنه وي چې آن د خپل دښمن هدايت او سمې لارې ته يې لارښوونه خوښه وي. وايي، رسول الله ﷺ ځکه د جهاد په پای کې جنګي بنديان آزادول چې ګوندې الله ﷻ يې زړونو کې د ايمان نور واچوي. شايد له دې بدې او ناسمې لارې واوړي او ګوندې د اسلامي حکومت همدغه بخښنه يې د هدايت ذريعه شي.

(۷: ۱۸۶ مخ)

ابراهيمي ليکي، د اسلامي نظام د اصولو له مخې جنګي بندي هغه چاته ويل کيږي، چې د جنګ په ډګر کې ونيول شي او په ټولو هغو افرادو او اشخاصو يې اطلاق نه کېږي چې د مسلمانانو په تصرف کې راغلي. وايي، رسول الله ص د مکې د فتحې په ورځ مسلمانانو ته وفرمايل: يوه شئ، چې هېڅکله په تېټي تن بريد ونکړئ، هغه کسان چې تښتېدلي، تعقيب يې نکړئ او بنديان ونه وژنئ. په يوه بل حديث شريف کې رسول الله ﷺ د دښمن د ماشومانو، بوډاګانو، ښځو، او د هغو راهبانو وژل منع کړي، کوم چې په صومعو(عبادت ځايونو) کې په عبادت مشغول وي.

دغه راز ليکوال وړاندې له جنګي بنديانوسره د چال چلند تګلاره بيانوي، وايي: رسول الله ﷺ ته خدای ﷻ په قرآن کې حکم کوي،(ما کان للنبی اي يکون له اسری حتی يثخن فی الارض تريدون عرض الدنيا والله يريد الاخرة والله عزيز حکيم.(انفال: ٦٧)

ياايها النبي قل لمن في ايديكم من الأسرى ان يعلم الله في قلوبكم خيراً يوتكم خيراً مما أخذ منكم و يغفر لكم والله غفور رحيم (۷۰) (و ان يريدوا خيانتک فقد خانوالله من قبل فأمکن منهم والله عليم حكيم).(انفال: ۷۰ – ۷۱)

ژباړه: ای پیغمبره! هغو بنديانو ته چې ستاسو په لاس کې دي ووايه : که الله ﷻ معلومه کړي چې ستاسي په زړونو کې څه خير(ايمان) شته، نو تاسو ته به له هغه څه څخه زيات درکړي چې در څخه اخيستل شوي دي او ستاسي خطاوې به وبخښي، الله ﷻ بخښوونکی اورحم کوونکی دی.

او که هغوی ستاسره د خيانت اراده لري، نو له دې څخه مخکې هغوی الله ﷻ سره هم خيانت کړی دی، لکه چې هماغه کار سزا الله ﷻ هغو ته ورکړه چې ستا لاس ته راغلي دي. الله ﷻ په هر څه پوهېږي او د حکمت څښتن دی.

ليکوال زياتوي، لکه څنګه چې وينو، د دې مبارکو آياتونو لحن کې چې مخاطب يې رسول الله ﷺ او جنګي بنديان دي، پوره ترحم او مهرباني نغښتې، او دا په حقيقت کې د اسلام هغه کلي تګلاره ده چې د جنګي بنديانو په اړه يې بيان کړې ده.

(۲: ۷۰ – ۷۲مخونه)

که پورته بحث ته په دقت نظر وکړو، په دې پوهېږو چې د رسول الله ﷺ يا په ټوله کې د اسلامي حکومت د جهاد سياسي کړنلاره په خپل ځان کې ډېر څه لري او د مسلمانانو لپاره په کې ستر درسونه دي. ويلی شو چې د جهاد سياسي کړنلاره په ځانګړو اصولو او قواعدو بناء ده. هغه قواعد چې عدل، شفقت، مهرباني، په وعدې پابندي، ثابت دريځ، امانتداري او د مسلمانانو د حريم او ارزښتونو حفاظت په کې خاص ځای لري او هغه اصول چې د دښمن ټول حرکات څاري او له هر رنګ فعاليت څخه يې پر وخت ځان خبروي. دغه راز ويلی شو چې دغه سياسي تګلاره مسلمان ملت بيدارۍ، هوښيارۍ او ځيرکتيا ته هڅوي او دا درس ورکوي چې غښتلتيا او پرمختګ مو هله ممکن دی چې د خدای ﷻ او د هغه د رسول ﷺ پاکه لاره له زړه تعقيب کړو او د اسلام په احکاماتو او اوامرو عمل وکړو.

د- د غیر مسلمو د حقوقو اړوند پالیسي

په دې اړه څېړوونکی، ګوهر رحمن په خپل اثر کې لیکي، اسلامي حکومت د غیر مسلمانانو د حقونو په ورکړې او ساتنې سخت ټینګار کوي او اسلامي ریاست د نورو مسلمانانو په څېر د هغوی د مال او عزت مسؤول دی. زیاتوي، حکومت مکلف دی چې د عامو مسلمانانو په شان د غیر مسلمو بنیادي اړتیاوې رفع کړي، هغوی ته د خپل دین په اساس د تلنې پوره اجازه ورکړي، خو په دې شرط چې د اسلام او اسلامي ارزښتونو توهین او تحقیر به نه کوي او نه به د هغې خلاف پروپاګند کوي.

وړاندې لیکي، د اسلامي حکومت په لوړو او مهمو څوکیو د غیر مسلمو ټاکل هم ناممکنه دي، ځکه چې دوی د اسلام په مبارک دین یقین او ایمان نه لري او په هېڅ یو نظام کې د هغې نظام د خلکو د عقېدې مخالف او نه منوونکي ته دغه ستر امتیاز نه شته.(۱۰: ۳۲۶مخ)

دا چې اسلامي نظام او حکومت د شفقت او ترحم په سپېڅلې داعیې پایي، نو په دې اړه مسلمانتوب نه، بلکې انسانیت په پام کې نیسي- او هر انسان ته د الهي اصولو پر بنیاد احترام کوي. په دې اړه رحماني په خپل اثر «اسلامي سیاست پوهنه» کې لیکي، د اسلامي دولت مکلفیت او مسؤولیت یواځې بېوزلو مسلمانانو پورې اړه نه لري، بلکې غیر مسلم وګړي هم د شفقت او مهربانی وړ بولي. مخکې لیکي، اسلامي حکومت هغو غیر مسلمو افرادو(اهل ذمه و) ته چې د اسلامي حکومت تر چتر لاندې ژوند کوي، د ځانګړو حقونو په ورکړې قانع دی. زیاتوي، غیر مسلموسره په ترسره شوي تړون پابندي، د دښمن د حملې پر وخت یې د ځان او مال ساتنه، د هغوی د عزت او پت ساتنه، د هغوی د مذهبي روایاتو آزادي، په نرمۍ سره ترې د جزیې او خراج ترلاسه کول، له کلیدي دندو پرته په مسلکی او فني منصبونو کې مناسبه ونډه ورکول، د اولادونو د تعلیم د نظام ترتیب، ورته د بنسټیزو آسانتیاو برابرول او په پوځ کې یې د زور له لارې نه استخدامول د غیر مسلمو(کافرو) هغو حقونه دي کوم چې د اسلامي حکومت په سیاست کې خاص او ځانګړی ځای لري.(٦: ۲۵۷مخ)

نو؛ ویلی شو چې د اسلامي حکومت د سیاست یوه ځانګړنه د نړۍ له نورو حکومتونو سره په دې کې ده چې اسلامي ریاست پراخه سینه، زغم او پوره صبر لري. په بلې اصطلاح ویلی شم چې حکومت یې پراخه لمن لري او کولای شي چې د نورو دینونو او مذهبونو پیروانو ته هم په خپلې غېږه کې ځای ورکړي، آسانتیاوې او سهولیتونه ورته برابر کړي او ټولو اړتیاوو او حقونو ته یې د خپل شکلي سیاست له مخې داسې رسېدنه وکړي، لکه څنګه چې د یو مسلمان وګړي اړتیاوو او حقوقو ته رسیدنه کوي او پر وړاندې یې مسؤولیت مني.

**پایله**

د څېړنې په پای کې لا څرګندېږي چې اسلام د غوره سیاست، امن، ورورولی، برابری، امانتداری، عدالت او د مساوات دین دی. اصول، قواعد، فرامین او قوانین یې څرګند دي. هر اړخیز سیاست یې په معنویاتو، پوهې، ریښتینې جهاد، ثابت دریځ او د متقابل احترام پر اصلونو ولاړ دی. دغه راز د څېړنې په پای کې په دې پوه شو چې اسلام ناحقه وینه تویونه حرامه بولي. علم، پوهې، د بشر حقوقو، د بیان ازادۍ، زغم، صبر او ژمنو ته پر پابندۍ ترجیح ورکوي او په ټوله کې د انسانانو عزت او شرافت د قدر وړ بولي.

څېړنې دا هم را وښوده، چې اسلام یو کامل، ریښتینی او له عدل، شفقت او مهربانۍ ډک دین دی، که چېرې په ریښتینې معنا یې مسلمان ملت، حکومونه او فرامین په ژوند کې پیاده کړي، پرته له کوم شک څخه بریاوې یې لارې څاري او نوروسره یې د سیال کېدو جوګه ګرځوي. دغه راز له خپلې جغرافیې، ارضي تمامیت او ملي حاکمیتونو څخه په ښه ډول دفاع کولی شي.

همدا ډول له څېړنې دا پایله هم په لاس راغله، چې د اسلامي نظام د هر اړخیز سیاست غوښتنه دا ده چې هر مسلمان وګړی دې په هر ډګر کې له نورو پرمختللی، ځیرک او هوښیار وي. د علم په ډګر کې عالم، د دعوت په ډګر کې داعي، د جهاد په ډګر کې پیاوړی اخلاقي مجاهد، د مېړمنو پر وړاندې

نرم زړی او عادل، د معماری په برخه کې ښــــکلی معمار، د عبادت په برخه کې نه ســــتړی کېدونکی عابد او نورو(غیر مســـلمو) سره په اړیکو او روابطو کې، په اوسنۍ اصطلاح غښتلی او ویښ دیپلومات(استازی) وي.

دغه رنګ له څېړنې څخه دا هم روښانه شــوه، چې اسـلامي حکومت له پیل څخه د خپل هر اړخیز سیاست او کړنلارې په اجنډا کې د انسانیت، عزت او شرافت غوره او سپېڅلې داسې موارد درلودل، چې تر نن ورځې پورې ترې د نړۍ نور نظامونه عاجز او نا توانه دي.

**وړاندیزونه**

د رسول الله ﷺ په مشرۍ د اسلامي حکومت بهرنۍ کړنلارې څخه ډېر څه دزده کولو وړ دی، د یادې څېړنې په تـړاو دغه دوه وړاندیزونه کوم:

۱ – اسلامي هېوادونو ته په کار دي چې د رسول ﷺ په مشرۍ د اسلامي حکومت له بهرني سیاست څخه زده کړه وکړي او د خپل بهرني سیاست د اجنډاوو په سر کې یې راولي.

۲ - غیر اسـلامي هېوادونو ته وړاندیز کوم چې اسـلام سراسر خیر او د امن دین دی، ستاسـو دښـمني او ظلم له دغه دین سره هېڅ ځای نه نیسي او ستاسو د هر ظلم په پایله کې د دې دین پلویان لا غښتلي او ډېرېږي، که له دغې دښمنۍ لاس په سر شئ له شک پرته یو څه به مو ګټلي وي.

**مأخذونه**


۱ - القرآن الکریم

۲ - ابراهیمي، محمد، اســـلام و حقوق بین الملل عمومي، چاپ اول، تهران، سازمان مطالعه و تدوین کتب انســـاني، دانشگاه (سمت) ۱۳۷۷ هـ ش.

۳ - آبادي، اکبر شاه نجیب. د اسلام تاریخ، ژباړن، سید فضل مولا لټون، لومړی چاپ، پیغام خپرندوی مرکز: پېښـــــور، ۱۴۲۵ هـ ق.

۴ - ارشـاد، محمد شــاه. سـیرت النبي(ص)، چاپ اول، مرکز نشرات اسلامی صبور: کابل، ۱۳۷۲ هـ ش.

۵ - انصـــاري، حامد. د اسلام حکومتي نظام. ژباړن، ق – ح – صافی، لومړی چاپ، الهدی خپرندوی مرکز، پېښور، ۱۳۷۰ هـ ش.

٦ - رحماني، شریف. اسلامي سیاســت پوهنه. لومړی چاپ، اصلاح افکار: جلال آباد، ۱۳۷۷ هـ ش.

۷ - سباعي، مصـــــطفی. درسونه او عبرتونه. ژباړن، سلطان محمود صلاح، لومړی چاپ،الهدی خپرندوی مرکز: پېښــور، ۱۳٦۹ هـ ش.

۸ - عثماني، عبدالرحمن. تاریخ تمدن اسـلام. لومړی چاپ، ریاست عمومي تربیه معلم وزارت معارف: هند، ۱۳۹۱ هـ ش.

۹ - غزالي، امام محمد، فقه السیرة، ژباړن، دوکتور مصـطفی نیازی، حکمت خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۱ هـ ش.

۱۰ - ګوهر رحمن. اسلامي سیاســت. ژباړن، قریب الرحمن سعید، لومړی چاپ، پیغام نشـراتي مرکز: پېښــور، ۱۳۸۳ هـ ش.

۱۱ - ګیلاني، سید اسعد. د رسول اکرم ص د حکمت انقلاب. ژباړن، قریب الرحمن ســـعید، لومړی چاپ، پیغام خپرندوی مرکز: پېښور، ۱۴۳۰ هـ ق.

۱۲ - محب، عبدالکریم. عظیم الســـیر د رسول الله عظیم اخلاق. لومړی چاپ، د افغانســـــتان ټایمز مطبعه: کابل، ۱۳۹۰ هـ ش.

۱۳ - ملکـزی، ولـی الله. دین او جګړه(یوه تاریخي څېـړنه). لومړی چاپ، پیغام خپرندوی مرکز: پېښور، ۱۴۰۱ ل هـ ش.

۱۴ - منصـــــور احمد. د پیغمبر ص خوږې خاطرې. ژباړن، نجیب الله ﷻ الب، مومند خپـــــروندیه ټولنه: جلال آباد، ۱۳۹۱ هـ ش.

۱۵ - ناظم، محمد داود. دولت نو تشکیل پیامبر ص و تاثیرات آن. لومړی چاپ، انتشــــارات حامد رسالت: کابل، ۱۴۰۱ هـ ش.

۱٦ - ندوي، ابو الحسـن علي. خاتم النبیین ص محمد رسول الله. ژباړن، حسبان الله متوکل، دوهم چاپ، انتشارات اصلاح افکار: کابل، ۱۳۹۰ هـ ش.



# د واجب وصیت د احکامو بیان د میراث په علم کې

لیکوال: ظریف عالم

الحمدلله رب العالمین و العاقبة للمتقین و الصـــلاة و الســـــلام علی اشرف الانبیاء و المرسلین محمد و علی آله و أصحابه أجمعیـــن. د میراث علم یو له هغو علومو نه په شرعي او حقوقي برخو کې ده چې ستونزمن او مشـکل فقهي او حســـابي قواعد لري له هغه جملې نه یو هم د واجب وصیت احکام دي:

واجب وصیت عبارت له هغه حالت څخه دی چې فرع د اصل د ژوند په وخت کې وفات شوی وي او له مړ شوي فرع څخه اولادونه موجود وي او وروسته اصل هم مړ شي د اصل مړي له مال څخه د وفات شوي فرع د زوی لپاره د وفات شوي فرع د سهم په اندازه برخه رسیږي، په دې شرط چې له ثلث څخه تجاوز ونکړي لکه دا چې:

احمد د خپل پلار محمود په ژوند کې مړ شوی وي او له وفات شوي احمد څخه د هغه زوې مقصـــــود پاتې شوی وي وروسته له محمود د مقصود نیکه هم مړ شي نو مقصود ته د هغه د پلار احمد د برخې په اندازه د خپل نیکه محمود له میراث څخه رسیږي.

د واجب وصیت موضوع د ځینو اسلامي هېوادونو لکه: مصر، سوریه، او افغانســتان په مدني قوانینو کې انعکاس موندلې ده چې په دې هکله باوري (مؤثق) فقهي نظر شتون نه لري نو له دې کبله واجبه وصیت د فقهي فتاواوو له نظره تر بحث لاندې نیسو:

اسلامي فقهاء د واجبه وصیت په اړه په لاندې دوو لید لورو وېشل شوي دي:

**لومړی لید لوری: واجب وصیت جایز دی:**

د ځینو محدثینو او اسلامي فقهاوو په نزد چې هغوی عبارت دي له: (سعید بن المسیب، حسـن البصـری، طاؤوس، امام احمد، داؤد، طبری، اسحاق بن راهویه ابن حزم رحمهم الله تعالی علیهم اجمعین)

د پورتنیو علماؤو کـــرامو دلیل د الله تعالــــی دا قول دی: ((كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ إِن تَرَكَ خَيْرًا الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ

وَالْأَقْرَبِينَ بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ)) البقره / ۱۸۰

ژباړه: په تاسې باندې دا حکم شوی دی چې کله له تاسې څخه یو څوک مړ شي، که هغه خپل مال پرېږدي، نو هغه دې خپل مور، پلار او خپلوانو ته په ښه توګه وصیت وکړي، او دا په متقیانو باندې حق دی.

په فقهاؤو کې د ابن حزم ظاهری رحمة الله علیه مذهب دی او همدا د ځینو تابعینو قول او یو روایت په حنبلي مذهب کې هم دی.

**دویم لید لوری: وصیت واجب ندی:**

د اهل سنت د څلورو مذاهبو جمهورو فقهاوو کرامو (امام ابو حنیفه، امام مالک، امام شافعي او امام احمد رحمهم الله تعالی علیهم اجمعین) په دې نظر دي:

چې واجب وصیت جایز نه دی او په لاندې دلایلو یې استدلال کړی دی.

د دې مبارک ایت حکم: ((كُتِبَ عَلَيْكُمْ إِذَا حَضَرَ أَحَدَكُمُ الْمَوْتُ إِن تَرَكَ خَيْرًا الْوَصِيَّةُ لِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ بِالْمَعْرُوفِ حَقًّا عَلَى الْمُتَّقِينَ)) البقره / ۱۸۰

ژباړه: په تاسې باندې دا حکم شوی دی چې کله له تاسې څخه یو څوک مړ شي، که هغه خپل مال پرېږدي، نو هغه دې خپل مور او پلار او خپلوانو ته په ښه توګه وصیت وکړي، او دا په متقیانو باندې حق دی.

د میراث په دې آیت منسوخ دي: ((يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنثَيَيْنِ)) (سورة النساء/۱۰)

ژباړه: الله جل جلاله تاسې ته د خپلو اولادونو په اړه سپارښتنه کوي، د هلک ونډه د دوو نجونو په شان ده.

دغه موضوع ابو داود له ابن عباس رضی الله علیه عنهما څخه روایت کړې ده او یاد شوي حدیث ته امام الباني رحمة الله علیه صحیح ویلی دی.

همدارنګه د ابن عباس رضی الله عنهما په یو روایت کې راغلي دي چې آیت منسوخ نه دی مګر واجب وصیت د مړي خپلوانو وارثانو لپاره نشته، بلکې په غیر د خپلوانو د نورو لپاره واجب دی او دغه آیت د میراث په آیت او په دې حدیث چې «لا وصية لوارث» د وارث لپاره وصیت نشته، سره خاص شوی دی.

همدا راز د رسول الله صلی الله علیه وسلم له صحابه کرامو څخه هیڅ روایت د واجب وصیت په اړه شتون نلري نو که چیرې وصیت واجب وای، په دې هکله به له صحابه کرامو روایت موجود وای.

وصیت بخشش دی او بخشش په ژوند کې واجب نه دی نو له مرګه وروسته هم واجب نه دی.

د فقهای کرامو پورتنیو نظریاتو ته ابن عبدالبر رحمة الله علیه اشاره کړې ده او وایي چې علماوو په دې موضوع اجماع کړې ده چې وصیت واجب نه دی.

**د علماؤو د پورتنیو لیدلورو نتیجه (پایله):**

اصل اختلاف د نفس وصیت په باره کې نه دی ځکه ټول اسلامي علماء په دې باوردي چې وصیت جایز دی مګر اختلاف د وصیت د حکم په اړه په همدې ځانګړې موضوع کې دی جمهور فقهاء د وصیت حکم مستحب ګڼي او په دې ځانګړې موضوع کې الزام او وجوب ردوي د استحباب حکم د عمل له نظره انسان ته اختیار ورکوي چې ددې علماوو دلایل قوي او مؤجه دي نسبت هغو علماوو ته چې جواز ورکوي واجب وصیت ته چې الزام او اجبار مینځ ته راوړې او حتما باید سهم د وصیت لمسي ته صورت ومومي. په نني عصر کې هم د واجب وصیت مجوزین او مانعین خپلو نظریاتو ته د پخوانیو علماوو په پیروی تللي دي هغه کسان چې واجب وصیت جایز ګڼي د واجب وصیت د مانعینو علماوو د نظر لپاره یې د فقهي قواعدو پر اساس توجیه کړې ده چې هر کله امام یا حاکم وغواړي مباحات او استحباب د عمومي مصلحت اوشرعي سیاست په خاطر وجوب وګرځوي نو په دې صورت کې د حاکم پر دغه لارښوونې عمل لازم ګرځي د همدې اصل له مخې د اکثره اسلامي هېوادونو مدونو قوانینو کې واجب وصیت لازم ګڼل شوی دی.

د افغانستان مقنن واجب وصیت د مړي لمسي ته د ژوی یا لور د وفات په صورت کې مخکې د هغه له مړیني څخه په اندازه د سهم د پلار یا مور لازم ګڼلي دي چې په دې مورد کې د مدني قانون لاندې مواد حکم کوي:

(۲۱۸۲) ماده: هر کله چې مړی د خپل ولد فرع ته چې د هغه په ژوند کې وفات شوی یا له مړي سره یو ځای حقیقتاً یا حکماً وفات شوی وي په مثل د هغه څه چې یاد شوي ولد د هغه د

مـرگ په وخت ژوندی وای د هغه په متروکه کـې د میـراث مستحق کیده وصیت یې نه وي کړی ذکر شوي فرع ته په ترکه کې په اندازه د استحقاق د ذکر شـوي ارث کې په حدود د ثلث ترکه کې وصـیت واجبیږي. په دې شرط چې فرع وارث وي او مړی په خپل ژوند کې بلا عوض هغه ته داسـې مال د بل تصـرف له لارې د واجبې برخې په اندازه نه وي ورکړی او په هغه صـورت کې چې مال یې هغه ته ورکړی وي مگر په هغه اندازه چې یاده شوې برخه بشـپړه کړي په طریقه د وصیت واجبه مستحق کرځي.

(۲۱۸۳) ماده: د دې قانون د (۲۱۸۲) مادې مندرج وصیت د لور د اولاد د لمړۍ طبقې لپاره او د زوی د اولاد لپاره د ښکاره کېدونکو اولادونو که مراتب یې هر څومره ښـکته وي په دې ترتیب چې هـر خپل فرع بغیـر له د بل فـرع څخه محجوب گرځولي او د هر اصل حصه د هغه په فرع باندې ویشل کیږي سره له دې تقسیم د میراث ښکته شي لکه دا چې اصل د هغو اصولوسره چې د هغو په واسطه شخص مړي ته منسوب کیږي د هغه څخه وروسته وفات شـوي وي او د هغوي وفات مرتب په ترتیب د طبقاتو صورت نیولی وي.

(۲۱۸۴) ماده: په واجب وصـیت کې د دې قانون د (۱۹۹۹ او ۲۰۰۰) موادو حکمونو رعایت حتمـي دی) (۲۱۸۵) ماده: (د واجب وصـیت په اسـتحقاق کې فرع د اسـتحقاق د هغه څخه چې اصـل د هغه په شرط د ژوند د مورث څخه وروسـته مستحق کیده زیات سهم اخستلای نه شي همدارنگه د واجب وصیت خاوند زیات سـهم له هغو اشخاصـو څخه چې د قرابت په درجه کې د هغه سره یو شان (برابر) وي نه شي مسـتحق کیدای.

(۲۱۸۶) ماده: هر کله چې یو شخص هغه چا ته چې وصیت هغه ته واجب وي د هغه له برخې څخه زیات وصـیت وکړي د وصیت زیات مقدار اختیاري گڼل کیږي او که وصیت د هغه له برخې څخه کمه صـورت موندلي وي په هغه اندازه چې د هغه برخه تکمیل کړي واجبیږي که چیرې د ځینو اشخاصـو لپاره چې د هغوي لپاره وصیت واجب دی وصیت شـوی وي او ځینو نورو ته وصیت ونه شي هغو کسـانو ته چې وصیت شوی د هغه د برخې په اندازه واجبیږي. د هغه چا برخه چې هغه ته وصیت نه دی شوی او د هغو کسـانو باقي پاتې برخه چې هغوي ته لږ (کم) د واجبې برخې څخه وصیت شـوي دي د باقي پاتې ثلث څخه ورکول کیږي او که ثلث پوره والـی ونکړي له ثلث او هغه څه چې د اختیاري وصـیت لپاره ځانگړي شـوي وي ورکول کیږي.

(۲۱۸۷) ماده: (واجب وصیت پر ټولو وصیتونو مقدم پیژندل کیږي.

(۲۱۸۸) ماده: هر کله چې د هغو اشخاص لپاره چې وصیت د هغوي لپاره واجب دی وصیت نه وي شوی بل ته وصیت وشي هغه اشـخاص چې د هغوی لپاره وصـیت واجب دی د خپلې برخې په اندازه د ثلث د باقي پاتې متروکه که هغه پوره کړي په طریقه د وصیت واجبه مسـتحق کیږي او که باقي پاتې ثلث د هغوې حصه پوره نکړي نو د ثلث باقي پاتې او هغه څخه غیر ته وصیت شوي د هغوي حصه پوره کیږي.

(۲۱۸۹) ماده: د دې قانـون د (۲۱۸٦ - ۲۱۸۷ - ۲۱۸۸) مندرجو موادو په ټولو احوالو کـې هغه څه چـې له اختیاري وصیت څخه باقي پاتې وي د مربوطه احکامو په رعایت سره په اختیاري وصیت د مستحقینو تر مینځ د هغوي د برخو مطابق ویشل کیږي.

د واجب وصیت قانوني شرطونه:

د مدني قانون د پورتنیو څرگندونو (تصـریحاتو) مطابق واجب وصیت د لاندې قانوني شرطونوسره سم صورت نیولی شي:

۱ - د مړي زوی یا لور د هغه په ژوند کې وفات شـوي وي او له هغوي څخه اولاد پاتې وي؛

۲ - مړي خپل فرع (لمسيـ) ته په خپل ژوند کې بلا عوض یو مال د واجب وصیت په اندازه نه وي ورکړی؛

۳ـ په واجب وصـیت کې د لور اولاد د لمړي طبقې د واجب وصیت مستحق او د صلبی اولاد زوی په هره اندازه چې ښکته وي د واجب وصیت مستحق گرځي؛

۴ - په واجب وصیت کې فرع (لمسی) د مړي د سهم مستحق گرځي چې اصل د هغه د ژوند په شرط مستحق گرځي؛

۵ - واجب وصـیت باید د ثلث ترکې څخه زیات (متجاوز) نه وي که د ثلث ترکې څخه متجاوز شي نو ثلث ترکې ته ښکته راځي؛

٦ - واجب وصیت پر ټولو وصیتونو مقدم دی.




# پر افغانستان د امریکا د یرغل توره ورځ! (۲۰۰۱م) کال

لیکوال: زهیر

دا هغه توره ورځ وه چې شــل کلونه یې افغان ولس له بدمرغیوسره لاس او ګریوان کړ د ۲۰۰۱ م کال د اکتوبر میاشــتې پر اوومه نېټه امریکا او یارانو یې په همدې ورځ زموږ په ښکلي او د باتورانو پر هېواد یرغل وکړ او دلته یې د بشـــریت ضد هر ډول اعمالو په ترسره کولو یې لاس پورې کړ.

زموږ ارزښـتونه یې په پام کې ونه نیول او پر خلاف یې عمل وکړ، جوماتونه، کلي، د جنازو او د ښــادیو مراســم یې بمبارد کړل، په تورو شـــــپو یې د خلکو په کورونو چاپې ووهلې، زموږ له بې ګناه او بې دفاع هېوادوالو یې هدېرې، روغتونونه او بند خونې ډکې کړلـې، اکثره هېوادوال مو په همدې موده کـې سره له دې چـې دلته د میلیونونو ډالـرو د لګولو دعوه کېدله بهـرنیو هېوادونو ته مهاجر شول، د وخت د جمهور رئیس پر وینا چې (۹۰) سلنه وګړي د فقر تر کرښې لاندې ژوند کوي، ځنې ظاهري کارونه وشـول ، نه بنستیز کارونه، چې زموږ د ولس درد پرې دوا نه شو، او که ترسره هم شول، نو هغه د فساد له کبله په دوه یا درې برابره قیمت تمام شـول او د بې وزلی امار هم د همدې لاملونو له امله لوړیږي. همدغه یرغل ددې لامل شـو چې زموږ اصـیل فرهنګ ته زیان



ورسیږي، فرهنګي یرغلونه زور واخلي، فساد او بډې (رشوت) غصب او نورې دا ډول شومې پدیدې اوج ته ورسېدلې او په یو دود بدل شول، حتی کله کله خو په رشوت اخیستلو کې هم سیالي کېدله، مقام او موقف د مسؤلیت پر ځای په امتیاز او سوداګرۍ بدل شو، د واک اوځواک لېږدېدل مېراثي شول چې محلي حکومتونه یې ډېر ښه مثال و، له بیت المال څخه د یو لیلامي توکي په څېر استفاده کېدله، حتی هغه ملکیتونه چې موقعیتونه به یې تر نورو ښه وو د دوی تر منځ معلوم او وېشل شوي وو دې ته ورته ډېرې خبرې او د هېواد او خپل ولس سره له دښمنۍ ډک چلندونه چې د منلو وړ نه و ترسره شول. بې حدې اوبې چوکاټه تش په نوم دیموکراسۍ ځینو ته دا جرأت هم ورکړ چې ددې تاریخي هېواد، د تجزیې خبرې راپورته کړي، سیمه ییزو، قومي او ژبنیو توپیرونو ته د خپل واک اوځواک د دوامداره کېدو لپاره لمن ووهي،

او تر ټولو لومړنۍ تېروتنه یې داوه چې دلته یې یو قانوني حکومت ( لومړنی اسلامي امارت ) چې په رښتیني توګه د شر او فساد د له منځه وړلو پر وړاندې د مبارزې په پایله کې په ډېره کمه موده کې بریا ته ورسېد له منځه یووړ او پر ځای یې په لوی لاس له تېروتنو ډک بې بنسټه حکومت رامنځته کړ، چې له ورایه ورڅخه په راټلونکې کې د ستونزو د زېږېدلو پیغام ترلاسه کېدلو، دا ډول حالات یوازې د هغو شمېر لپاره خوندور او له مزو ډک و، چا ته چې ځاني ګټې معتبرې وې او نور امتیازات یې ترلاسه کول، په همدې توګه بې شمېره نورې ناخوالې، آیا اداري اصلاحات، اداري فساد و اوکه نه؟ آیا له انتخاباتو ښه زړه لرو؟ نه، یوځلې هم د خلکو رایو ته درناوی وشو؟ ځواب یې نه دی. ، سیاسي بې ثباتي خو تر ټولو بده ځکه وه چې د پنځوس، پنځوس او په ډېر کم واټن کې د دوو رئیس جمهورانو د لوړو مراسمو ترسره کېدو له اصطلاح او نوي دودسره نوي اشنا شو، چې په ډاګه ترې د بې اتفاقۍ پیغام تر لاسه کېدلو یوازې یو څو تنو د ځان لپاره د موقف او مقام، میزونو، چوکیو، کمپیوټرونو او یو پربل پسې نویو مجللو موټرو، پرمیچرو، ژمني او له موسم سره سمو مدرنو وسایلو په اخیستلو ، په ډېر لوړ لګښت او له ملي شتمنۍ سره په ډېر نا مسؤله چلند کولوکې لومړی مقام خپل کړی و او هغه یې ځاني یا شخصي شتمنۍ ګڼله. ملت ته څه پاتې شول؟ قرباني، بې کاري ، بې کوري او بې وطني!

او نور له ظلم او تادا څخه ډک بې شمېره منفي کارونه ، چې د ټولو جمع د ننني ستونزو زېږونکې وو.

لله الحمد د تيري ، ظلم او د دوئ د ناروا پر وړاندې د اسـلامي امارت تر مشـــرۍ لاندې د افغان ولس شل کلن جهاد او بې شمېره قربانيورنگ راوړ او هغه هېواد چې له نورو ملګروسره په ډېر کبر او غرور د برتانويانو او پخواني شـــــوروي په څېر دلته راغلـی وو، او خپله جګړه يـې په دې هېواد کـې اوږده جګـړه يادوله او په لومړيو کې يې د بېرته تګ کوم پلان او پروګرام هم په خيال او خاطر کې نه ګرځېدلو بالاخره سخته ماتې وخوړه او په شـا تګ ته اړ شـول چې اوس يې هم په بل ډول او بلې بڼې خپله دښـمني روانه ساتلې ده، د افغانانو شـتمني يې کنګل کړه، بانکي ســـــتونزې يې را ولاړې کړې، بنديزونه يې جاري وساتل او د افغانستان د اسلامي امارت په رسميت پېژندنه کې يې هم سـتونزې او خنډونه رامخته کړل چې طبعا په حالاتو او دلته په کار او روزګاريې منفي سـيورى لاتر او سـه پروت دى، چې له امله يې زموږ ولس له سـتونزوسره لاس او ګريوان دى ، خو د افغانسـتان د اسلامي امارت مشرـتابه چې نن د ولس په وړاندې ځان مســؤل ګڼي او اسلامي امارت چې د دې هېواد مسؤل دولت دى د واک له ترلاسه کولو او د ښکېلاک له ماتې وروســـــته يې په خپلو امکاناتو پرته له دې چې د نورو په تمه کيني په بېلابېلو برخو کې اقتصـادي رغونې او پراختيا ته زور ورکړى دى هڅه دا ده چې تر يوه بـريده هېواد له وارداتي والي را وباسی او په دې برخه کې د ځان بســـــياينې په لور ګامونه واخلي دلته يې ښو بېلګې يادوو.








د قوشتېپې کانال د لومړي فاز چارې له ټاکلي وخت مخکې د اتلسو میاشتو موده کې بشپړې شوې چې د دویم فاز چارې یې هم پیل شوې.

د ملي پراختیايي شرکت مشر فرید عظیمي (شنبه، میزان ۱۵) افغان غږ خبري آژانس ته وویل: چې د قوش تېپې کانال د لومړي فاز چارې له (۱۸) میاشتو وروسته بشپړې شوې دي.

د قوش تېپې کانال لومړی فاز (۱۰۸) کیلومتره اوږدوالی درلود چې د امو له سیند څخه پیل او د دولت آباد په ولسوالۍ کې پای ته ورسېد.

د ملي پراختیا ادارې د مطبوعاتو مسؤول اکبر جاهد هم افغان غږ خبری آژانس ته ویلي چې د لومړي فاز کارونه هم باید د دوو کلونو په موده کې ترسره شوی وای، خو د مسوولینو په هڅوسره له ټاکلې نېټې مخکې بشپړ شو....»

د یاد کانال د لومړي پړاو چارې هم د افغانستان د اسلامي امارت د مرستیالانو او د کابینې د غړیو په ګډون د یوې غونډې په ترځ کې د پټې په پرېکولو پرانستل شوې.

د دغه کانال دویم پړاو د بلخ له دولت آباد ولسوالۍ څخه پیل او د شبرغان له آقچې ولسوالۍ څخه تر تېرېدو وروسته د فاریاب په اندخوی ولسوالۍ کې چې ۱۷۷ کیلومتره اوږدوالی لري پای ته رسېږي.

په دریېم پړاو کې د فرعي چینلونو پروژه هم شامله ده.

د قوشتېپې کانال (۲۸۵) کیلومتره اوږدوالی، ۸.۵ متره ژوروالی لري او په یوه ثانیه کې تقریباً (۶۶۸.۴) متر مکعبه اوبه لېږدوي.

د دغه کانال په بشپړېدوسره به د هېواد په شمال کې (۵۸۰) زره هکتاره ځمکه په کرنیزو ځمکو بدله شي.

دغه راز د فراه ولایت د بخش آباد بند چې د(۶۸۵۹۰)هکتاره کرنیزې ځمکې د خړوبولو ظرفیت لري، د دوو کانالونو له لارې به چې یو یې(۵۰) او بل یې (۵۲) کیلو متر اوږدوالی لري ترسره شي چې په بریسره یې د کار د بشپړېدو هیله یې کوو.

د ګڼ شمېر سترو کانونو د اېستلو او پراسېس، برېښنا او نورو اړتیا وړ توکو د تولید، سړکونو، پلونو جوړولو په برخوکې هم قراردادونه لاسلیک شوې دي، په بېلابېلو برخو کې سلګونه د بیا رغونې او جوړونې مهمې پروژې تر کار لاندې دي تاسې به اکثرو ولایتونو کې په پاخه او اساسي توګه د سړکونو د جوړولو شاهدان یاست

مسؤولان وايي چې د دغو کانونو د اېستلو او پراسېس په پیل سره به زرګونو کسانو ته د کار اسانتیاوې برابرې شي او دغه راز ترلاس لاندې سلګونه پروژو کې زرګونه هېوادوال مصروف او په کار بوخت دي.

د هېواد او ولس په ګټه ډېر نور کارونه چې د شلو کلونو په موده کې یې څرک نه لېدل کېدو ترسره شول او په بېلابېلو برخو کې به ان شاءالله نور ډېر کارونه ترسره کېږي. چې هریو یې موږ افغانانو ته د نیکمرغۍ پیغام لري. په ټوله کې اوسمهال د جوړونې اورغونې چارې بې ساري دي چې یو نوښت او ابتکاربلل کېږي او موږ په دې باوري کوي چې د پرمختګ او ترقۍ پر لور د ګړندیو ګامونو د اخیستلو نیت شتون لري، لرې نه ده چې په سیمه کې به زموږ ګران هېواد د یو امن، با ثباته او مخ پر ودې هېواد په توګه سرراپورته کړي.

تر ټولو مهمه خبره دا چې اوسمهال د خپل ګران هېواد د مالکیت احساس کوو او دا احساس باید نور هم پیاوړی شي، نور هم سره باید متحد او منسجم شو، ځکه چې دا زموږ د بری لار ده  او موږ افغانان هر یو باید خپل مسؤلیتونه درک او وپېژنو، په بېلابېلو برخوکې پخپلو پانګونو او خپلو امکاناتو خپل تولیدي ظرفیتونه پیاوړي کړو، بې روزګاره هېوادوالو ته د اسلامي امارت ترڅنګ د کار د ایجادولو هڅې وکړو، او په پاکه او سپېڅلې اسلامي روحیه، روغ نیت او خلوص خپلې چارې او مسؤلیتونه پرمخ یوسوو. د اقتصادي ودې او پراختیا پر لور د تګ لارې همدغه دي کوم چې نن ورته اسلامي امارت ملا تړلې ده او د افغانانو ترمنځ د یووالي، انسجام، غوړېدلي اقتصاد او بسیاینې په صورت کې هیڅکله هم زموږ پر خاوره ښکېلاکي ځواکونه بریا نه شي موندلای.

# غرب پال ولې له اسلامي نظام څخه په وېره کې دي؟!؟

لیکوال: عمر زبیر

په ټولو نظامونو کې یوازینی نظام چې د ژوند ټولو برخو ته شامل دی هغه اسلامي نظام دی.

هغه که د ژوند سیاسي، ټولنیزه، اخلاقي، اقتصادي، او یاهم اجتماعي برخه وي.

د تاریخ په اوږدو کې مسلمانانو ثابته کړې ده چې د دوی نظام یو هم ټول ګډونه نظام دی چې د ژوند ټولې برخې په بر کې نیسي.

کله چې موږ نړیوال تاریخ مطالعه کوو یوازینی هغه نظام چې د ځمکې په سر یې په سلګونه کاله واکمني کړې او د بشریت چارې یې په خورا منظمه او سالمه توګه پرمخ وړې دي هغه اسلامي نظام و.

هغه نظام چې په نړیواله سطحه پکې د تبعیض، تعصب، ظلم او زیاتي مخه نیول شوې ده هغه یوازې اسلامي نظام دی.

هغه نظام چې په هغه کې فوقیت او برتري په جاه، منقبت، مالکیت او سیادت پورې اړه نه لري هغه اسلامي نظام دی.

سره له دومرو لویو لویو بشري کړنلارو چې د بشریت ښېګڼه پکې نغښتې ده بیا هم ځنې کسان له داسې یو بشر-پال نظام څخه سرټکوي او له داسې یوه نظام څخه وېره محسوسوي.

ځکه غرب پال او په ټوله کې غربي نړۍ له اسلامي نظام څخه په وېره کې ده، او دوی فکر کوي چې بیا به د دوئ هغه فردي ګټې چې دوی یې دلاسته راوړلو لپاره هلې ځلې کوي دهغه مخه به و نیول شي.

له اسلامي نظام څخه غرب پال په وېره کې دي چې د اسلامي نظام په واسطه د دوی د ظلم او استبداد مخه نیول کیږي او د مظلوم حق له دوئ څخه اخستل کیږي.

دوئ فکر کوي چې اسلامي نظام بیا دوئ له ناروا او غیري مشروع اعمالو څخه منع کوي.

دغه کسان هیڅ وخت د ې ته تیار نه دي چې په دوی باندې دې داسې یو نظام حاکم شي چې په هغه نظام کې د دوی د ناوړه کړنو اونا مشروع غوښتنو مخه ونیول شي.

همېشه د داسې کسانو زیار او کوشش دا وي چې د تل لپاره د دوئ په خوښه یو نظام جوړ شي او بیا همدغه نظام په عام ولس باندې په زور او جبرسره تحمیل کړي.

خو بل خوا ته د اسلامي نظام چارواکي تل دوئ ته اطمینان ورکوي چې له دوئ‌سره به هیڅ بشر ضد عمل او غیري مشروع کړنې ترسره نه شي.

غرب تل دا کوښښ کوي چې په اسلامي امت کې داسې یو نسل وروزي چې له هغې څخه د اسلامي نظام په خلاف کار واخلي، په داسې کسانو باندې مصارف کوي، فکر یې غربي کوي او داسې یې روزي چې بیا بل وخت کې د غرب په نه شتون کې هم د اسلامي نظام په خلاف ورڅخه استفاده وشي.

غرب پال کوښښ کوي چې خپل غربي فکر په ټولنه کې رائج کړي او غواړي چې خپل هم فکره او هم مسلکه ملګري پیداکړي ترڅو د هغوئ د ملاتړ د ترلاسه کولو په واسطه ځان ته داسې نظام جوړ کړي چې د ژوند کولو لپاره هیڅ اسلامي اساس ونه لري.

په خواشینۍ سره باید ووایم چې غرب په خپل د غه ناوړه پلان کې څه ناڅه بریالی شوی هم دی.

هغه کسان چې غواړي په نړۍ باندې یوځل بیا اسلامي نظام حاکم کړي، هغه ځوانان چې د تېر برم او عظمت خوبونهویني باید د غرب هر پلان ته ډېر متوجه وي تر څو غرب او غرب پاله وګړي ونشي کولای چې خپلو شومو اهدافو ته ځانونه ورسوي.



# د حماس با تدبیره ګوزار: امریکا د رڼې ستراتیژۍ په تیارو کې

لیکوال:
عبدالحی قانت

«اسرائیلوسره زمونږ انډیوالي یوازې اخلاقي دنده نه، بلکې ستراتیژیک تړون دی. په منځني ختیځ کې مســـــتقل، باثباته او په رسمیت پېژندل شوی اسرائیل د امریکا ستراتیژیکې ګټې ساتي. زه همېش دا خبره کوم چې که په منځني ختیځ کې اسرائیل نه وای، مونږ باید د خپلو ګټو ساتلو لپاره نوی اسرائیل جوړ کړای وای.»

پورته خبرې بایډن په ۲۰۱۳م کې هغه مهال کړې وې چې د امریکا معاون رئیس جمهور ؤ.

له کومې ورځې چې د حماس نظامي څانګې د غزې له ټرانګې د فلســــــطین په اشغال شوې ځمکه پر تو اسرائیلو حمله کړې، امریکایانو ته ناســـته خوند نه ور کوي، د امریکا په ســـیاسي لیکو کې افرا تفري ده، د بایډن اداره دومره وارخطا ده چې په لومړۍ هفته کې یې تقریبا هره ورځ د نتن یاهو تیلیفوني احوال اخېســـــتی، د امنیت مشـــــاور ته یې اسرائیلوسره د هر راز کومک حکم کړی، د بهرنیو چارو وزیر یې د منځني ختیځ د ســــېمه ایزو لوبغاړو دروازې ټکوي، دفاع وزیر یې تلابیب ته د خپلې نظامي ژمنې تازه کولو لپاره په سفر لېږلی، د کانګرس غړي، رسنۍ، شرکتونه، برقي، چاپي او ټولنیزې رسنۍ ټولې په یو غږ د اسرائیلو ملاتړ ته را دانګلي. د امریکا په سیاست کې د اسرائیلو بسپنه او ملاتړ ولې دومره مشهور او مهم دی؟

«۱۹مې پېړۍ کې چې کله د صهیونســتانو نړیوال بنســټ د منځني ختیځ په منځ کې یهودو لپاره د آزاد هېواد غوښتنه پیل کړه، بریتانیا یې کلک ملاتړ کاوه. دا ملاتړ بیا د بلفور په اعلامیه کې هم څرګند شو. آلمانیانو د بریتانویانو مخالف د یهودانو د نســـل د

ختمولو پلان درلود، د دوی تیوري دا وه تر څو یهود په دنیا کې وجود لري، امن او ثبات نا ممکن دی. دا هغه وخت و چې امریکا په نړیوال سیاست کې ډېره فعاله نه وه. له دویمې نړیوالې جګړې وروسته چې کله امریکا د بهرني سیاست میدان ته را ووتله، د اسرائیلو د جوړېدلو ملاتړ یې وکړ چې بیا یې په ۱۹۴۸م کې د نکبې په نتیجه کې د اسرائیلو بنیاد کېښودل شو. امریکا له اسرائیلوسره له هماغې لومړۍ ورځې نږدې اړیکې پالي.

**امریکا ولې د اسرائیلو داسې ټینګه بسپنه کوي؟**

« په تېره سړه جګړه کې د عربو ځینې هېوادونه له شوروي سره دوستان و، امریکا دا مهمه وګڼله چې د دوی په مقابل کې یو ستراتیژیک دوست پیدا کړي. اسرائیل د مذهب، فکر او آیډیالوژۍ له لحاظه امریکا ته ډېر مناسب انتخاب و چې له هماغې وخته ترې استفاده کوي.

« د امریکا ۵ میلیونه یهودان چې د امریکا په اقتصاد، پرمختګ او علمي لاسته راوړنو کې له پامه نه شي غورځېدلای، د اسرائیلو کلک ملاتړي دي. دوی چې د امریکا د اسرائیلو د عامه چارو د کمیټې AIPAC ترچتر لاندې راټول دي، اسرائیلو ته لابي کوي او د امریکا بهرني سیاست د پیسو او ځواک پر مټ داسې مسیر ورکوي چې د اسرائیلو په ګټه وي.

د AIPAC غړي د امریکا د لویو تجارتونو، سرمایه ګزاریو او شرکتونو مالکان دي چې له ملاتړ پرته یې د امریکا یو ګوند هم نشي کولای انتخابات وګټي او یا هم د امریکا نظام مدیریت کړي.

« د امریکا یهود چې په سیاسي لحاظ هم مؤثر خلک دي، توانېدلي چې د امریکا په کانګرس او دواړو سیاسي حزبونو کې هم له خپلو خلکو کار واخلي. د یوې سروې له مخې دا مهال په کانګرس کې ۳۴ غړي د امریکا یهودان او د اسرائیلو کلک ملاتړي دي. دا چې د امریکا د بهرنیو چارو وزیر بلېنکېن په خپل لومړي سفر تلابیب کې وویل چې زه نن د امریکا د بهرنیو چارو د وزیر په حیث نه، بلکې د یوه یهودي په حیث د اسرائیلو ملاتړ ته راغلی یم، د دې خبرې له ټولو لوی ثبوت دی. د بایډن، بلینکین، دفاع وزیر، امنیت مشاور او د کانګرس د غړو له څرګندونو په ډاګه کېږي چې AIPAC په امریکا کې څومره قوي ځواک دی.

« د یهودو بنسټونو، او انجیل پروره عیسویانو مذهبي شتون د امریکا په ټولنه کې له پامه نه شي غورځېدلای. دوی د اسرائیلو کلک ملاتړي دي او انتخاباتو کې د هغو کاندیدانو ملاتړ کوي چې اسرائیلوسره د ښو اړیکو ژمنه وکړي. مانا دا چې د اسرائیلو د ملاتړ اقدام په امریکا کې د رایې لاسته راوړلو ځواکمنه لاره ده چې په ډیموکراسۍ کې هېڅ رهبر نه غواړي له لاسه ورکړي.

دا چې اوس حماس د خپلې اشغال شوې ځمکې لپاره د یهودو په نظامیانو حمله وکړه، اسرائیل او امریکا دواړو ته لوی درد سر جوړ دی. اسرائیل غواړي چې له فرصته په استفاده پر غزې ځمکني عملیات وکړي.

**د بلینکېن د شټل ډیپلوماسۍ اهداف**

دا چې بلینکین له اولې ورځې د منځني ختیځ په هېوادونو ګرځي دوه اهداف لري:

« بلېنکېن غواړي چې د اسرائیلو د یاد پلان لپاره په سیمه کې د هېوادونو ذهنیت مطالعه کړي. بلېنکېن د منځني ختیځ له هېوادونو دا هم غوښتي چې دوی د غزې ۲.۲ میلیونه خلک مهاجر ومني تر څو اسرائیل وتوانېږي حماس سره جګړه وکړي او د اسرائیلو مخ ته دا پروت خنډ تل لپاره له منځه یوسي.

« دویم هدف دا دی چې د حماس او اسرائیلو جګړه په سیمه ایزې جګړې بدله نه شي. د دې نهایي کوشش دا دی چې لږ تر لږه د سیمې له ټولو هېوادونو د حماس پر ضد اعلامیې واخلي او ایران ته ددې وخت ورنکړي چې له فرصته په استفادې میدان ته را ودانګي. امریکا دا هم نه غواړي چې د اسرائیلو او حماس جګړه ډېره اوږده شي، ځکه دوی له منځني ختیځ څخه پښې راټولوي او غواړي ټول فوکس او تمرکز یې د روسیې او چین په چېلېنجونو وي.

**د شتېل ډيپلوماسۍ ارزونه**

لومړی هدف چې بلېنکېن د سيمې د هېوادونو ذهنيت بايد پوه شي، ده ته روښ پيام ورکړل شو چې د فلسطين مهاجرين په خپلو هېوادونو کې نه مني. دا د بل وخت بحث دی چې مصر، لبنان او اردن ولې د فلسطين مهاجرين نه مني، خو د بلېنکېن له دې سفرونو واضحه شوه چې امريکا تر دې دمه په دې هدف کې ناکامه ده. د اردن عبدالله وويل؛ اردن ته فلسطيني مهاجر راشړل له اردن سره د جګړې ښکاره اعلان دی. د مصر-سيسي-وويل؛ که اسرائيل د غزې اوسېدونکي د دې لپاره له غزې اوباسي چې دوی حماس سره جګړه وکړي، د اسرائيلو دښتو ته دې يوسي، کله چې عمليات ختم شو بېرته دې راولي. د اردن او مصر له موقف څخه څرګندېږي چې د فلسطين د اوسيدونکو د شړلو په باب د سيمې نظر څه دی! دا هېوادونه پوهېږي چې د فلسطين له خاورې د فلسطينيانو ټولټال وېستل، د اسرائيلو د کوم پلان عملي نښې دي! دوی د اسرائيلو نوي سيمه ايز پلان کې خپل ستراتيژيک بايلات هم محاسبه کړي دي.

دويم هدف چې امريکا غواړي د سيمې له هېوادونو اسرائيل لپاره سياسي ملاتړ ترلاسه کړي هم تر ډېره حده کامياب نه بريښي، ځکه تر اوسه پورې يوازې متحده عربي امارات او بحرين د حماس کړنې تروريزم بللي او هغه څه يې وويل چې امريکا يې له سيمې غواړي. سعودي، قطر، اردن او ترکيه کې بلېنکېن ته د بشر د حقوقو هېر شوي شعارونه ورياد شول.

امريکا له يوې خوا پورته يادې شوې مجبوريانې لري چې بايد د اسرائيلو کلک ملاتړ وکړي خو له بلې خوا روسيې او چين سره مصروفه ده. امريکا هېڅکله نه غواړي چې په دې حساسه مرحله کې دې د حماس او اسرائيلو جګړه تر ډېرې مودې دوام وکړي. دوی غواړي دا مسئله په داسې شکل په لنډ مهاله اوربند تمامه شي چې توازن يې د اسرائيل په ګټه برابر وي. تر هغې چې اسرائيلو داسې څه نه وي ترلاسه کړي چې خپلو خلکو او نړيوالې ټولنې ته ځان قوي وښايي، ممکن امريکا هم د دې جګړې ختمولو ته تياره نه وي.

دې کې هېڅ شک نشته چې اسرائيلو د غزې ډېر معصوم وګړي شهيدان کړل خو په سياسي لحاظ تر دې دمه توازن د حماس په ګټه دی. دوی هم د اسرائيلو پوځيان نيولي، حمله يې کړې او هم يې د اسرائيلو روحيه او د ځواک نانډرۍ ننګولي خو اسرائيلو تر اوسه د حماس پر ضد د عام ولس له وژلو پرته هېڅ نه دي کړي.

شپه مهال د غزې په المعمداني روغتون بريد د عربو مشران دې ته مجبور کړل چې بايډن سره غونډه لغوه کړي. دا د امريکا بله ناکامي ده چې ويې نشو کولای د سيمې سياسي مشرتابه تر يو چتر لاندې راټول کړي.

د امريکا هېژمانۍ ته د اوسنۍ جګړې بل ګوزار دا دی چې په منځني ختيځ کې د اسرائيلو کړنې د امريکا د بشر د حقوقو، ډيموکراسۍ او لبرالېزم له ټولو داعيو مشروعيت اخلي. د معصوم بشر پر ضد روان اسرائيلي جرمونه او بربريت به د امريکا د تاريخ په پاڼو تور داغ وي. امريکا ښايي نور د دې مخ ونلري چې د نړۍ نور هېوادونه د بشر د حقوقو، آزادۍ، برابرۍ او... په نامه تر فشار لاندې راولي. دا چې نړۍ ګوري د ډيموکراسۍ، بشر د حقوقو او برابرۍ د دعوېدارې امريکا ولسمشر د نتن ياهو مخ ته د ټولې نړۍ په سترګو خاورې شيندي او وايي چې زه پوهېږم په المعمداني روغتون تاسې بريد نه دی کړی، د دوی د راتلونکې د جنازې په معنی دی. امريکا له لسيزو راهيسې د نړۍ په بازار کې د بشرحقوق، ډيموکراسي او برابري خرڅوي خو ښايي اوس د نړۍ فرد فرد ته واضحه شوې اوسي چې د امريکا د بشر د حقوقو چيغې د چا لپاره دي؟

زما په فکر دا وخت چې امريکا له روسيې سره په جګړه ده او چين سره ټکر ته تياري نيسي، له منځني ختيځ څخه د داسې لوی مشکل تابيا يې نه درلوده. امريکا د دوی په نوې ستراتيژۍ کې له منځني ختيځ څخه د دوی محور شرقي اروپا او د سوېل چين سمندرګي ته اړولی ؤ، خو د اقصی طوفان دوی راوګرځول او تر دې دمه د حماس – اسرائيلو له قضيې سره د ستراتيژۍ په لټه کې ورک دي.



# فلسطين د تاريخ په اوږدو کې

ليکنه: سيف الله ساعي، د پوهنتون استاذ

له (۲۵۰۰) تر (۳۰۰۰) مخکې له ميلاده کنعانيان له عربي جزيرې څخه فلسطين ته ځي، بيا چې کله ابراهيم عليه السلام له عراقه فلسطين ته هجرت کوي، هلته يې شاوخوا په نوي کلنۍ کې زوی اسحاق عليه السلام پيدا کيږي، له هغه څخه بيا يعقوب عليه السلام پيداکيږي چې لقب يې اسرائيل و، بيا د يعقوب عليه السلام زامن پيداکيږي او هغوی مصر ـ ته ځي، هلته زياتيږي او خپريږي او بيا موسی عليه السلام او ورسره بني اسرائيل له فرعون او د هغه له لښکر څخه د ژغورنې په موخه فلسطين خواته رالېږل کيږي؛ نو موسی عليه السلام بني اسرائيلو ته وايي: يَا قَوْمِ ادْخُلُوا الْأَرْضَ الْمُقَدَّسَةَ الَّتِي كَتَبَ اللَّهُ لَكُمْ وَلَا تَرْتَدُّوا عَلَىٰ أَدْبَارِكُمْ فَتَنْقَلِبُوا خَاسِرِينَ (المائدة ۲۱)

ژباړه: اې زما قومه، دغې سپېڅلې خاورې ته ننوځئ، چې الله درته ليکلې ده، او په مخ اړولو شاته مه ګرځئ، که نه له زيان ليدونکو به وګرځئ.

دغه مهال په فلسطین او بیت المقدس کنعانیان او عمالقه وو؛ نو دغې ځمکې ته د ننوتلو لپاره د هغوی پر وړاندې جهاد کول اړین و، چې بني اسرائیل دې ته چمتو نه وو، له همدې امله یې موسی علیه السلام ته وویل: ته او پالونکی دې ولاړ شئ، له هغوی سره وجنګېږئ، موږ همدلته درته ناست یو، هغه وچې موسی علیه السلام د الله جل جلاله په وړاندې خپله بې وسي ښکاره کوي، بیا الله جل جلاله پرېکړه کوي چې اوس به دغه سپېڅلې خاوره پر هغوی تر څلوېښتو کلونو پورې ناروا وي، چې د همدغې سرغړونې له کبله هغوی څلوېښت کاله سرګردانه په « تیه» نومې میدان کې ګرځېدل او بیت المقدس ته نشوای ننوتلای، خو د دغې سرغړونې په زمانه کې بیا هم الله جل جلاله پر هغوی ګڼ شمېر پېرزوینې کړې وې، لکه: د وريځو سیوری، من او سلوی غوندې خواړه ورکول او له ډبرې څخه د دوولس چینو بهول او داسې نور، له دې وروسته موسی او د هغه ورور هارون علیهما السلام وفات کیږي، بیا الله تعالی هغوی ته یوشع بن نون علیه السلام د نبي په توګه رالیږي، چې هغه بیا بني اسرائیل ورسره د فلسطین په لوري روانوي او د عمالقه د ځواکمنو خلکو پر وړاندې جهاد کوي او په پایله کې بیت المقدس فتح کوي.

دا چې دوولس یا دیارلس پېړۍ مخکې له میلاده یهودیان فلسطین ته ننوځي او دلته واکمنيږي، چې له (۹۲۶ـ۹۶۵) مخکې له میلاده یې د سلیمان علیه السلام د عروج زمانه وه، بیا اسرائیلي دولت پر دوو برخو وېشل کیږي، چې شمالي فلسطین او ختیځ اردن کې اسرائیلي پاچایي رامنځته کیږي او سامریه ښار یې پلازمېنه ټاکل کیږي او سویلي فلسطین او ادوم کې بیا یهودي پاچایي د یروشلم په پلازمېنه سره رامنځته کیږي، له دوو پېړیو وروسته په (۷۲۱) مخکې له میلاده اشورسارګون نومې پاچا د سامریه ښار په فتح کولو سره اسرائیلي دولت له منځه وړي، په زرګونو اسرائیل وژني او تر ۲۷ زره زیات یهودیان د اشوري پاچایي په ختیځو برخو کې تیت او پاشل کیږي.

۵۹۸ کاله مخکې له میلاده د بابل (عراق) پاچا د یهودیانو پر دولت ولکه راولي، چې په (۵۸۷)مخکې له میلاد کې یروشلم او سلیماني هیکل له خاورو سره خاورې کوي او لس لکه یهودیان د مربیانو په توګه عراق ته لېږدوي، بیا په ۵۳۹ مخکې له میلاد کې د فارس پاچا خسرو بابل (عراق) نیسي، یهودیان آزادوي او فلسطین ته په راستنېدو سلیماني هیکل بیا رغول کیږي.

په (۳۳۱) مخکې له میلاد کې بت لمانځونکی لوی سکندر فلسطین تر خپلې ولکې لاندې راولي، بیا (۶۳) کاله مخکې له میلاده د بت لمانځونکو رومیانو له لوري فلسطین نیول کیږي، چې په همدغه زمانه کې له ۴ مخکې له میلاده تر ۲۹ میلادي پورې عیسی علیه السلام د یهودیانو د اصلاح او لارښوونې لپاره استول کیږي، خو یهودیان له هغه سره دښمني پیلوي، په (۷۰) زېږدیز کې یهودیان بغاوت کوي، چې رومي جنرال ټایټس د یروشلم تخت او تاج له منځه وړي او سلیماني هیکل بیا ځلې ورانوي، په(۱۳۵) زېږدیز کې د یهودیانو له بغاوت وروسته رومي پاچا هیډریان، یهودیان له فلسطینه شړي او په یروشلم د ایلیا نوم ږدي، په(۳۱۳) زېږدیز کې که څه هم د رومي شاهنشاه لوی قسطنطین د عیسویت له منلو سره په ټول روم کې عیسویت خپروي، خو بیا هم په فلسطین کې د یهودیانو د آبادۍ اجازه نه وي.

## د مسلمانانو له لوري لومړی ځل بیت المقدس فتحه کېدل:

د رومیانو له لوري پر بیت المقدس د شاوخوا اووه پېړیو له غاصبانه ولکې وروسته په ۱۵ هـ ق کې بیت المقدس د نبي صلی الله علیه وسلم د وړاندوېینې له مخې د عمر رضي الله عنه په زمانه کې د مسلمانانو له لوري فتحه کیږي، په همدغه زمانه کې چې کله د قادسیه او مدائن د ساسانیانو تخت او تاج چپه کیږي، په شام کې د بازنطینیانو لمر هم په لوېدو شو؛ نو د

یرموک له غزا وروســـته په ۱۵ هـ ق کې عبیده بن جراح رضي الله عنه په تیزۍ سره د شمال لوري ته پرمختګ کوي، خالد بن ولید رضي الله عنه ته پر قنســـرین د برید کولو حکم کیږي، چېرې چې د هرقل قیصــــر د پاچایۍ استازي میناس شتون درلود، خالد رضي الله عنه رومیانو ته په ړنه میدان ماتــــې ورکوي او میناس وژني، د قنســـرین تر ولکې لاندې راوستلو وروسته د قیصر په لټه کې د شام تر وروستیو پولو پسې ورځي، خو قیصر ـ د تل لپاره له شام ښــې سپکوي او قسـطنطنیې ته ځي، له هغه وروسته رومیان هم لوېې لوېې کلاوې خالي کوي او له ښارونو پوځونه وباسي، عبیده بن جراح رضي الله عنه پر ته له دې چې څوک یې مخه ونیســـــــي همدغه کال د شام تر شمالي ولایتونو حلب او انطاکیه پورې سیمې نیسي تر اوسه د عمر رضي الله عنه د خلافت درې کاله نه وو پوره شــوي چې د شام لوی لوی ښارونه لکه حمص، حلب، دمشــق، انطاکیه او قنســرین فتحه کیږي، خو د بیت المقدس د دیني او تاریخي ارزښت له پلوه فتحه یوازې له دې امله وروســته کیږي چې له ســوله ییز اړخ پرته له وینې توئېدو ونیول شي، که څه هم د ابوبکر رضي الله عنه له زمانې څخه د عبیده بن جراح رضي الله عنه تر مشرۍ لاندې عمرو بن العاص رضي الله عنه هم د بیت المقدس د فتحې لپاره ټاکل شــوی و، خو کله چې له دومره ځنډ وروسته د لومړۍ قبلې د نیولو پرېکړه کیږي؛ نو عبیده بن جراح رضي الله عنه په خپله عمـرو بن العاص رضي الله عنه ته فلســطین خوا ته راځي، هلته خالد بن ولید، عبدالرحمن بن عوف او معاویه بن ابي ســفیان رضي الله عنهم پر دغه محاذ را غونډېږي، په (۱٦) هـ ق کې بیت المقدس کلابندیږي، ځایـي عیسویان له څلوېښت ورځنۍ کلابندۍ تنګیږي او له بل اړخه جګړه ورته بې ګټې او بریا یې ستونزمنه ښکاري؛ نو د سـولې شرطونه وړاندې کوي، دا چــې بیت المقدس د ځایـــې عیسـویانو، یهودیانو او مسـلمانانو ټولو لپاره سپېڅلی وو؛ نو د ښار مخور غوښتنه کوي چې که د دغې سولې تړون په خپله د مسـلمانانو خلیفه په شتون کې ترسره شي ښه به وي، ترڅو بیا په راتلونکي کې د درې واړه دینونو د پیروانو ترمنځ کوم ناسم پوهاوی رامنځته نه شي، مسلمانانو هم نه غوښتل چې په دغه ســپېڅلي ښــار کې دې وینه توېږي شي؛ نو ســملاسي امیر المؤمنین عمر فاروق رضي الله عنه ته په منډه یو تن لیږي، عمر رضي الله عنه هم له صــــحابه رضي الله عنهم سره له دې امله مشـــــوره کوي، چې آیا د یو ښار د فتحې لپاره به د ټولو مسـلمانانو د مشــر ورتګ مناسب وي او د اسلامي خلافت پر رعب او دبدبه خو به بد اغېــز نه کوي؟ خو د علي رضي الله عنه پر مشوره پرېکړه کیږي، چې تګ یې غوره بللو، هغه و چې عمر رضي الله عنه په مدینه منوره کې خپل ځای ناستی علي رضي الله عنه ټاکي او یوازې پر خپله اوښه په داسې حال کې د بیت المقدس پر لوري روانیږي چې نه یې لښـــکرې او ساتونکي ورسره کړل، نه خادمان او درباریان ورسره وو، د عربو په ګرمو صـــحراوو کې یې ســفر پیل کړ، بدن به یې ســختو ګرمیو سوځولو، د آرام پر مهال به یې د سپرلۍ زین راښکته کولو، د څنګ لګولو او سر اېښــودلو لپاره به یې کارولو، پر خپل د وړیو څادر به یې خوب کولو، د شام پولو ته په رسېدو سره یې جامې خېرنې او آن څیرېږي، د شام د پوځ مشرانو ته له دمشــق سره نېږدې په جابیه نومي ځای کې د ناستې او لیدلو لارښــوونه کیږي، شـــام ته په داســې حالت کې ننوځي چې پر بدن یې زړې او خېرنې جامې، پر سر پګړۍ او په پښـو یې موزې دي، د خپلې اوښې پړی یې نیولی او د اوبو له چینو او حوضونو څخه په تېــرېدو د هغوی لوري ته ور روان و، هغه و چـــې ورته وویل شول: چې دلته د عیسـویانو پوځیان او پادریان ستا هرکلي ته راوتلي؛ نو په داســـې حالت کې به دې لیدل ښه څنګه وي؟ هغه وایي: موږ ته الله جل جلاله په اســـلام درناوی راکړی؛ نو له اســــلام پرته به په بل څه کې درناوی نه لټوو، هغه و چې له عیســـــویانو سره په ناسته کې د ګډون لپاره یې یوازې تر هغه وخته نورې جامې واغوســـــتلې چې ترڅو یې خپلې مینځل

شــوي جامې وچې او څيري ځای ته يې پيوند ولګول شي، له ځايي خلکوسره ناسته کيږي او په همدغه ساده حالت کې د سولې په اړه خبرې اترې کيږي او تړون لاسليک کيږي چې متن يې څه داسې و:

د الله د بنده امير المؤمنين عمر له لوري د ايليا (بيت المقدس) خلکو ته د ځان او مال امان دی، د هغوی عـــــبادتځايونه، صليبونه او ټول خلک په امان کې دي، نه به يې عبادت ځايونه د اوسېدو ځايونه ترې ګرځول کيږي، نه به نړول کيږي او نه به يې په تعميرونو او احاطو کې کمی راوستل کيږي او نه به يې صليبونه او مالونه ترې اخېستل کيږي، د خپل دين پرېښودلو ته به نه اړ اېستل کيږي او نه به چا ته زيان رسول کيږي، د بيت المقدس پر خلکو لازم دي د نورو ښارونو د خلکو غوندې جزيه ورکړي او پر هغوی لازم دي چې رومي لښـــکرې او خلک له ښاره وباسي.

له تړون سره سم ځايي خلک په درېيو ورځو کې روميان له ښاره وباسي، بيا عمــــر رضي الله عنه د لومــړۍ قبلــې زيارت ته روانيږي، په لاره کې د اوبو نهر راځي، عمـر رضي الله عنه له موزو اېستلو وروسته هغه په خپلو لاسونو کې نيسي او له اوښې ښکته کيږي او پلی تر هغه نهر تېريږي، عبيده بن جراح رضي الله عنه ورته وايي: ستا دا کړنه به د ځايي خلکو په سترګو کې ښه ښکاره نه شي، هغه پر سينه وهي چې اې عبيده بن جراح ته دا خبره کوې! هېره دې شوه، تاسو په نړۍ کې تر ټولو بې ارزښته، ناتوانه او له سـترګو لوېدلي واســـت، الله جل جلاله يوازې د اسلام له برکته درناوی درکړ، نو که اوس له اسلام پرته په بل څه کې درناوی لټوئ، الله جل جلاله به مو سپک کړي.

بيا جومات ته ځــي او د داؤد له محــراب سره دوه رکعاته تحية المسجد کوي، روميانو له لومړۍ قبلې (مقدسه صخرې) سره چټلې اچولې وې، ځکه دا د يهوديانو قبله وه او عيســـــويانو غوښــتل چې په دغه ډول يهوديان وسـوځوي، عمر رضي الله عنه د همدغې صخرې په لټه کې و چې نوی مســـلمان شوی

کعب احبار يو يهودي عالم په اشاره هغه مقدسه صخره ورته وښــودله او د نوي جومات جوړولو داســې وړانديز يې ورته وکړ چې محراب يې د مقدســې صــخرې تر شــا راشي، ترڅو په يو وخت کې د لمانځه پر مهال د لمونځ کوونکو مخ لومړۍ قبلــې ته هم وي، خو د عمر رضي الله عنه دغه وړانديز نه خوښيږي او جومات له مقدســې صــخرې وړاندې داســې جوړوي چې د لمونځ کوونکو مخ د کعبې لوري او شا يې مقدسې صخرې ته وي، ترڅو له يهوديانوسره هيڅ ډول ورته والی پاتې نه شي.

عمر رضي الله عنه د يوڅو ورځو لپاره په شـام کې پاتې کيږي، بيا د ۱۷ هـ ق په پيل کې مدينې منورې ته راستنيږي.

تر ډېرې مودې پورې بيت المقدس د مســـلمانانو په ولکه کې وو، آرام، سوکاله او خوشحاله ژوند و، خو کله چې د پنځمې هـ ق پېړۍ په وروستيو کـــــې صليبي جنګونه پيليږي، نو په

(۴۹۲) هـ ق شعبان مياشــت کې چې د (۱۰۹۹) زېږديز له جولای سره سمون خوري لومړی ځل د فرانســـې د واکمن (ګاډفري) په مشـــرۍ لس لکه صليبيان د بيت المقدس پر ځمکه بريد کوي او له نيولو وروســته پر دغه ســپېڅلي خاوره خپل بيرغ رپوي او اويا زره مســـلمانان يوازې د اقصـــی په جومات کې په شهادت رسوي، چې د عيسوي فاتحانو آسان د

## دوهم ځل د مسلمانانو له لوري د بيت المقدس فتح کېدل

د بيت المقدس له لاسه وتلو ۲۶ کاله وروسته، په (۵۱۸) هـ ق کې چې د (۱۱۲۴) زېږديز سره ســمون لري د عمادالدين زنګي په نوم يو غير مشهور جنګيالی د عراق د واسط او بصرې نومي ښـارونو واکمن جوړيږي، هغه د خپلو يوشــمېر فتوحاتو څه موده وروسته په صليبيانو هم لومړی بريد کوي او صليبيان د هغه له ځواک او برياوو څخه په وېره کې کيږي.

له عمادالدين زنګي وروســـته د هغه زوی نورالدين زنګي هم د

خپل پلار په پله پل ږدي او د جهاد لړۍ ته دوام ورکوي، خو د زنګي کورنۍ د فتوحاتو لړۍ ته د پای ټکي اېښودولو او یو مخ له منځه وړلو په پار یو ځل بیا صلیبي جنګونه زور اخلي، چې په ۵۴۲ هـ ق کې چې د (۱۱۴۸) زیږدیز سره سمون خوري د اووم سینټ برنارډ لویې په مشرۍ،سلګونه زره فرانسوي او جرمني پوځیان پر شام هېواد برید کوي، خو په (۵۴۴) هـ ق کې چې د(۱۱۴۹) زیږدیز سره سمون لري د مسلمانانو د سخت مقاومت په پایله کې فرانسویان او جرمنیان له سختې ویرې سربېره بېرته شاتګ ته اړ ایستل کیږي.

بیا صلاح الدین ایوبي په ۲۵ کلنۍ کې له خپل تره شیر کو (اسدالدین)سره مصر ته ځي او مصر د نورالدین زنګي تر ولکې لاندې راولي، مصر او شام هېوادونه سره یو کوي. د (۵۸۳)هـ ق ربیع الثاني کې په حطین نومي ځای کې د شام له عیسویانو سره سخته جګړه کوي او د هغوی ځواک له خاورو سره خاورې کوي او د (۵۸۳)هـ ق رجب میاشتې په(۲۷ )نېټه چې د (۱۱۸۷)زیږدیز د سپټمبر له میاشتې سره سمون لري، بیت المقدس یوځل بیا د هغوی له ۹۱ کلنې غصبانه ولکې څخه آزادوي، د دې په پایله کې په(۵۸۵ هـ ق / ۱۱۸۹ زیږدیز) کې اروپايي هېوادونه پر فلسطین برید کوي او دریېم صلیبي جنګ تر نېږدې څلورو کلونو پورې غزیږي او د ۵۸۸ هـ ق د شعبان په میاشت / ۱۱۹۲ زیږدیز سپټمبر کې صلیبیان له ماتې سره مخ کیږي او بېرته په شا ګرځي.

صلاح الدین ایوبي د ۵۷ کلونو په عمر کې د (۵۸۹) هـ ق صفر میاشتې په ۲۷ نېټه چې د (۱۱۹۳) زیږدیز د مارچ له ۴ نېټې سره برابره وه د دمشق په کلا کې د تل لپاره له دې نړۍ سترګې پټوي چې په ټول ښار کې د ژړاوو او چیغو آوازونه پورته کیږي(انا لله وانا الیه راجعون)

بیا په(۵۹۱) هـ ق کې چې د(۱۱۹۵) زیږدیز سره سمون لري د جرمني شپږم واکمن هنري د صلیبي جنګ تر بیرغ لاندې پر شام برید کوي خو(عکا) نومي سیمې کوم چې د فلسطین تر ټولو پخوانۍ، مهم او تاریخي ښار دی چې د (۱۹۴۸)م جنګ وروسته په اداري وېش کې د اوسنیو اسرائیلو یوه برخه وګرځېده، دغې سیمې ته له رسېدو سره سم مري او دغه جنګ یو مخ له ناکامۍ سره مخ کیږي.

په(۶۱۸ هـ ق / ۱۲۲۱ زیږدیز) کې یو ځل بیا صلیبي جنګ پیلیږي چې د صلاح الدین ایوبي وریرونه (د وروزامن) له سختو جګړو وروسته صلیبیانو ته سخته ماتې ورکوي.

## د مسلمانانو له ولکې د فلسطین وتل

په(۶۲۴ هـ ق / ۱۲۲۸ زیږدیز) کې د جرمني د پاچا دوهم فریډرک تر مشرۍ لاندې یو لوی لښکر راځي، مسلمانان وېریږي او د ځانګړي تړون له مخې تر ځانګړې مودې پورې بیت المقدس جرمنیانو ته سپاري.

## په درېیم ځل د مسلمانانو له لوري د فلسطین فتحه کېدل

په(۶۴۲ هـ ق / ۱۲۴۴ زیږدیز) کې صالح پاچا له خوارزمي لښکرو سره په یو ځای کېدو د صلاح الدین ایوبي امانت (بیت المقدس) بېرته مسلمانانو ته ترلاسه کوي او یو ځل بیا مسلمانانو ته سپارل کیږي.

په(۱۲۴۸) زیږدیز کې د فرانسي پاچا (سینټ لوئیس) د روم د پاپانو په هڅونه تر صلیبي بیرغ لاندې د اووم صلیبي جنګ لپاره راوځي، خو د ۱۲۵۰ زیږدیز د اپریل میاشتې په ٦ نېټه چې د(٦۴۸)هـ ق د محرم الحرام له ۲ نېټې سره سمون خوري د اوسني مصر په منصوره نومي ښار کې د مسلمانانو له سخت مقاومت سره مخ کیږي چې په پایله کې یې لښکرې ماته خوري او دی په خپله بندي کیږي، چې څلور کاله وروسته بېرته خپل هېواد ته ستنیږي.

آتلس کاله وروسته په ٦٦۸ هـ ق کې د(۱۲۷۰) زیږدیز د جولای میاشت کې یو ځل بیا سینټ لوئس پر مسلمانانو برید کوي او له هر لوري مسلمانان کلابندوي، خو د یو څه مودې کلابندۍ وروسته سینټ لوئس سخت ناروغه کیږي او د وریېښې ناروغۍ له امله مري، چې په همدې سره صلیبي جنګونه نور پای ته رسیږي، په (٦۹۰) هـ ق (۱۲۹۱) زیږدیز کې د مصر-پاچا الملک الخلیل له ټول شام څخه د عیسویانو تغر ټولوي او عیسوي ریاستونو ته د پای ټکی ږدي، چې د پنځمې هـ ق پېړۍ د عیسویانو پاتې شوني یو مخ له منځه ځي. پاتې یې په بله ګڼه کې




# ملي جرګې د ملي يووالي سبمول دی

لیکوال: سرمحقق دکتور محمدشریف ځدران

**دویمه برخه**

**ب- د ټولنې د لانجو په حل کې د جرګو ونډه**

زموږ په هېواد کې د جرګو تاريخي، ملي او ګټور دود او دستور ډېره اوږده او تاريخي مخينه لري. د تاريخ په اوږدو کې زموږ نېکونو او پلرونو له دغه ټولنيز او ارزښتناکه دود څخه ګټه اخيسته، لکه چې په لرغوني آريانا کې د ټولنيز پرمختګ او د سيمه ييزو او ملي ستونزو او لانجو د حل، د ملي او ټولنيز ژوند د سمون په موخه دغه ولسي موسسه (جرګه) رامنځ ته شوه او د وخت په تېرېدو سره يې وده او پرمختيا وکړه او زموږ د هېواد د سياسي او ټولنيز ژوندانه د پرمختګ يوه له مهمو عناصرو څخه و ګڼل شوه. (۳: ۳ مخ) آريايانو د يوه داسې نظام په رڼا کې ژوند کاوه، چې په اوسني عصر کې د پارلماني او ديموکراتيک نظام په نامه يادېږي. آريايانو په قبيلوي او کليوالي چارو، د لانجو په حل او د هېواد په لويو او مهمو چارو او ستونزو په سمون او حل کې د ملت د ټولو طبقو له مشورو، نظرياتو او افکارو څخه کار اخيست او د دغه مقصد لپاره يې دوه جرګې درلودې، چې يوه يې د سبها (sabha) په نامه او بله يې د سميتي په نامه يادېده. د سبها جرګې د قبيلو، کليو او بانډو په کچه ستونزې او لانجې حل او فصل کولې، خو د سميتي

جرګې له خوا د قوم او ملت په کچه سیاسي او ټولنيزې ستونزې او لانجې حل کېدلې. دغو دوارو جرګو د هېواد د پاچا په ټاکلو کې رول درلود، لکه چې دريګ ويد په يوه فقره کې وايي: ((ټولو خلکو ته په پاچاهۍ ټاکلی يې)). (۲: ۱۵۰-۱۵۲ مخونه)

کوشاني امپراتور کنيشکا د خپلې واکمنۍ پر مهال (۱۲۹-۱۵۱م.) بودايي دين ومانه او د هغه د تبليغ او خپرولو لپاره يې ملاوتړله او په همدې موخه يې د بودايي دين څلورمه لويه جرګه د کندهاري عالم واسوميتره (VASUMITRA) په مشرۍ چې(۵۰۰) بودايي عالمانو ګډون په کې درلود د کشمير په سرينګر کې جوړه کړه او پخوانی بودايي مذهب هينه يانه (HiNA-YANA) يا کوچنی مذهب چې د بودا له مړينې وروسته پنځه پېړۍ معمول و تعديل کړ او د هغه پر ځای يې لوی مذهب (مهايانه) غوره کړ او په دې ډول يې د بودايي روحانيونو ترمنځ د اختلاف لانجه پای ته ورسوله. (۲۳: ۶۴ مخ)

د افغانستان پر جنوب لوېديځ ولايتونو باندې د پارس د صفويانو کابو دوه پېړۍ وقفه يي ولکه يوه لويه سياسي لانجه او ستونزه وه، چې افغانان ورسره لاس په ګرېوان وو. په پای کې افغانانو د خپل ملي مشر ميرويس خان تر مدبرانه مشرۍ لاندې په کندهار کې په(۱۷۵۰)م. کال د کوکران او په (۱۷۰۷)م. کال د مانجې دوه لويې جرګې جوړې کړې او دغو جرګو په خپل وار سره د صفويانو د تېري او اشغال پر ضد د آزادۍ غوښتنې غورځنګ او پاڅون پيل او له هېواده صفويان وشړل او د خپلواکۍ په اعلان سره يې په کندهار کې د يوه ملي حکومت بنسټ کېښود. (۱۰: ۱۵۲-۱۵۳ مخونه)

د شېرسرخ لويې او تاريخي جرګې په ۱۷۴۷م. کال دوه مهمې لانجې اوارې او حل کړې: لومړۍ جرګې پرېکړه وکړه چې له پارس سره دې اړيکې پرې شي او د افغانستان پاچا تر مشرۍ لاندې دې د افغانانو خپلواکي اعلان شي. همدغسې وشول د افغانستان خپلواکي اعلان شوه. دويم- جرګې له نهو غونډو وروسته احمد شاه بابا د افغانستان د پاچا په توګه انتخاب کړ. (۱۱: ۳۴-۳۹ مخونه)

په پنځلسمه او شپاړسمه ميلادي پېړۍ کې افغانستان د صفويانو، شيبانيانو او بابريانو ترمنځ په دربېو برخو ويشل شوی و. هغه قبيلې چې په غرنيو سيمو کې د اشغالګرو د حکومتونو له قلمرو څخه بهر اوسيدې د خپل رسم او رواج سره سم د ((جرګې)) د اصولو پر بنسټ اوسېدلې، خپل منځي لانجې او د ژوند چارې يې د قبيلوي جرګو په وسيله اداره کولې، قبيلوي نظام حاکميت درلود او په دغه قبيلوي نظام کې ټولې چارې د جرګې په سيستم اجرا کېدلې. (۱۷: ۱۵۲ مخ)

بايد ووايو چې د هېواد په کچه د ملي جرګو تر څنګ له پخوا بيا تر اوسه سيمه ييزې جرګې او مرکې فعالې وې او دوام لري، چې د کورنيو، قبيلو، کليو او بانډو په سطحه سيمه ييزې لانجې د خپل ولسي قانون (نرخ) پر بنسټ حل او فصل کوي. په دغه نرخ او ولسي قانون کې د هرې لانجې لپاره ځانګړي اصول موجود دي. جرګې د مخالفينو ترمنځ روغه- جوړه کوي، تېره ړدي يعنې د سولې معيار او موده ټاکي، نرخ يعنې د قبيلوي حقوقي او جزايي تعاملاتو قانون د دوی ترمنځ پلې کوي. د جرګې ديموکراتيک اړخ په دې کې دی چې يو د مقابل لوري څخه کولای شي چې د لومړۍ جرګې د مرکچيانو په پرېکړه باندې قناعت ونه کړي، نو کولای شي چې دويمه او دربيمه د تخم جرګه را وغواړي او په پای کې د تخم د جرګې پرېکړه به جبراً مني. (۱۷: ۲۲۸-۲۳۱ مخونه)

د انګرېزانو د لومړي يرغل او انګرېزانو ته د امير دوست محمد خان له تسليمېدو وروسته افغان ملي مشرانو ميرمسجدي خان، سلطان محمد نجرابی، عبدالله خان اڅکزی، امين الله خان لوګری او وزيرمحمد اکبرخان د برتانوي اشغال پر ضد د ۱۸۴۱م. کال د نوامبر په لومړۍ نېټه يوه جرګه جوړه کړه او دغه لاندې پرېکړې يې وکړې:

۱- د انګرېزانو پر ضد د وسله وال پاڅون درهبرۍ او نسه

تنظیم په موخه د امیر دوست محمد خان د وراره نواب محمد زمان خان په مشرۍ یوه دولس کسیزه شورا جوړه کړه او د هغې مرستیال یې امین الله خان لوګری وټاکه.

۲-جرګې پرېکړه وکړه چې د نوامبر له دوهمې نېټې وروسته به د انګرېزانو پر ضد عمومي پاڅون پیلوي. د دغه ملي پاڅون په نتیجه کې مکناټن، برنس او شاه شجاع د ۷۰۰ برتانوي سرتېرو په شمول ووژل شول او په نتیجه کې انګرېزانو ومنله چې د کابل او د ټول افغانستان څخه به ډېر ژر ووځي.

(۱۲: ۶۳۹-۶۴۱ مخونه)

باید ووایو چې د کوکران، مانجې، شېرسرخ او د ۱۸۴۱م. کال د غازیانو د جرګې په شمول دغه ټولې جرګې حکومتونو نه، بلکې ملي مشرانو، غازیانو او ملت را بللې وې او د هغوی د پرېکړو له مخې یې یرغلګر له هېواد څخه وشړل او د افغانستان خپلواکي یې تامین کړه.

امیر شېرعلي خان په (۱۸٦۵)م. کال یوه دوه زره کسیزه لویه جرګه جوړه کړه، تر څو ده ته د ورونو د اختلاف په برخه کې مشوره ورکړي چې دی د دوی په وړاندې څه ډول چلند وکړي. د جرګې د پرېکړې له مخې امیر خپلو ورونو ته یو لیکلی اخطار ورکړ او له هغو وروسته یې کندهار ته پوځي سوقیات وکړل، خپل ورور سردار محمد امین خان یې د جګړې په ډګر کې وواژه او کندهار یې ونیو. (۱۰: ۱۹٦ مخ)

امیر حبیب الله خان د لومړۍ نړیوالې جګړې په بهیر کې د افغان مشایخو او د خلکو د وکیلانو په شمول یوه (۵۴۰) کسیزه لویه جرګه کابل ته راوغوښته. جرګې د ملت اتفاق او په لومړۍ نړیواله جګړه کې د حکومت د بې طرفۍ سیاست تائید کړ او په دې ډول افغانستان د لومړۍ نړیوالې جګړې له اور څخه وژغورل شو. که څه هم انګرېزانو امیر حبیب الله خان ته د بېطرفۍ په مقابل کې ژمنه کړې وه چې د جګړې له پای ته رسېدو وروسته به د افغانستان سیاسي استقلال په رسمیت وپېژني او هم به (٦۰) ملیونه کلداري حق السکوت ورکړي او هم به د کابل (۲) ملیونه او څلور سوه زره کلداري د افغانستان دولت ته ورکړي. په داسې حال کې چې له جګړې وروسته برتانوي دولت یوه هم له دغوژمنو عملي نه کړه او امیر حبیب الله خان د افغان آزادي غوښتونکو د کرکې ورو ګرځېد. (۵: ۹۵-۹٦ مخونه)

غازي امان الله خان په ۱۹۱۹م. کې د لرو او برو افغانانو په ملاتړ او مرسته د افغانستان بشپړه خپلواکي له برتانوي استعمارګرو څخه واخیسته، خو ویې نه کولای شول چې انګرېزان له پښتونخوا څخه وشړي او د افغانستان دغه تاریخي خاوره د انګرېزانو له منګولو وژغوري. همدا دلیل و چې د پښتونخوا آزادي غوښتونکو له ۱۹۱۹م. څخه وروسته د انګرېزانو پر ضد خپل جهاد ته دوام ورکړ او اماني دولت هر اړخیزه مرسته ورسره کوله. په همدې موخه غازي امان الله خان په ۱۹۲۳م. کال په جلال آباد کې د لرو او برو افغانانو یوه جرګه را وغوښته او د سرحد د آزادۍ قضیه یې په کې مطرح کړه او خپل ملاتړ او مرسته یې له پښتونخوا سره اعلان کړه او په نتیجه کې د انګرېزانو پر ضد د سرحد مبارزه شدیده او سخته شوه. (۱۲: ۹۵٦ مخ)

دغه راز غازي امان الله خان په ۱۹۲۳م. (۱۳۰۱ ش) کې یوه بله لویه جرګه د دولتي شورا د غړو او د ملت د (۸۷۲) تنو استازو په ګډون په جلال آباد کې جوړه کړه چې د افغانستان لومړنی اساسي قانون یې تصویب کړ. د پغمان د ۱۹۲۴م. کال (۱۳۰۳ ش) لویې جرګې په لومړني اساسي قانون کې (۱۹) فقرې تعدیل او اساسي قانون یې تایید کړ.

د پغمان د ۱۹۲۸م. کال (۱۳۰۷ ش) دویمې لویې جرګې دغه لاندې مهمې پرېکړې وکړې:

دولتي شورا په ملي شورا بدله شوه.

په وزارتونو کې د تفتیش څانګې جوړې شوې.

د عسکرۍ د مکلفیت دوره درې کاله وټاکل شوه.

ټول دولتي نښانونه او القاب لغو شول او د نومونو سره د عزیز کلمه ومنل شوه.

د افغانستان ملي بیرغ د تور، سور او شین رنګ په لرلو سره

ومنل شو. (۱۲: ۹۵٦- ۹٦۰ مخونه)

په ۱۹۳۰م: (۱۳۰۹ش) کال اعلیحضرت محمد نادرشاه د یوه فرمان په وسیله کابل ته لویه جرګه را وغوښته او دغه پرېکړې یې وکړې:

د افغانستان دویم نوی او اساسي قانون تصویب کړ.

د ملي شورا د انتخاباتو لایحه یې جوړه کړه.

(۱۰: ۲٦۵ مخ)

د دویمې نړیوالې جګړې په بهیر کې اعلیحضرت محمدظاهر شاه په کابل کې د ملت لویه جرګه جوړه کړه او ورځخه ویې غوښتل چې په جګړه کې د افغانستان د ګډون او یا د نه ګډون په اړه حکومت ته مشوره ورکړي. نوموړې لویې جرګې په نړیواله جګړه کې د افغانستان بېطرفي تصویب کړه او افغان حکومت ته یې دنده وسپارله چې د بېطرفۍ سیاست غوره او تعقیب کړي. (۵: ۹۵-۹٦ مخونه)

د افغانستان ملي شورا د ۱۹۴۹م. (۱۳۲۸ش) کال د جولای په ۲٦ مه نېټه د یوې جرګې په ترڅ کې د ډیورنډ تپل شوې کرښه لغوه اعلان کړه او د پښتونستان د خلکو جهاد یې د آزادۍ لپاره تایید کړ. دغه راز د ۱۹۵۵م. (۱۳۳۴ش. عقرب



شاه په کابل کې د ملت لویه جرګه جوړه کړه او ورځخه ویې غوښتل چې په جګړه کې د افغانستان د ګډون او یا د نه ګډون په اړه حکومت ته مشوره ورکړي. نوموړې لویې جرګې په نړیواله جګړه کې د افغانستان بېطرفي تصویب کړه او افغان حکومت ته یې دنده وسپارله چې د بېطرفۍ سیاست غوره او تعقیب کړي. (۵: ۹۵-۹٦ مخونه)

د افغانستان ملي شورا د ۱۹۴۹م. (۱۳۲۸ش) کال د جولای په ۲٦ مه نېټه د یوې جرګې په ترڅ کې د ډیورنډ تپل شوې کرښه لغوه اعلان کړه او د پښتونستان د خلکو جهاد یې د آزادۍ لپاره تایید کړ. دغه راز د ۱۹۵۵م. (۱۳۳۴ش. عقرب
کال په نوامبر کې د افغانستان لویې جرګې پرېکړه وکړه چې د پښتونستان خلک د خپلو رایو پر بنسټ خپل برخلیک پخپله وټاکي. افغان حکومت باید له پاکستان سره د قوت تعادل چې له امریکا یې وسله اخیستې ده وساتي او پښتونستان د پاکستان یو توک ونه پېژني. (۱۰: ۲۹۲، ۳۰۱ مخ)

د ۱۹٦۴م. (۱۳۴۳ش) کال د افغانستان د اساسي قانون لویه جرګه چې د میزان له لومړۍ نېټې څخه تر ۲۹ نېټې پورې په کابل کې جوړه شوه او د نوي اساسي قانون مسوده یې تصویب کړه. د همدې قانون په څلورم او پنځم فصل کې شورا پر دوو برخو- ولسي جرګه او مشرانو جرګه باندې ووېشل شوه او په دې ډول تعریف شوه: لویه جرګه له ولسي جرګې، مشرانو جرګې او د ولایتونو د جرګو له ریسانو څخه جوړېږي.

په دې ډول د لومړي ځل لپاره د جرګې اصطلاح د افغانستان په اساسي قانون کې شامله شوه او د یوې قانوني اصطلاح په توګه یې ځای ومونده.

دغه راز د جمهوریت لومړنۍ لویه جرګه د ۱۹۷۷م.

کال په نوامبر کې د افغانستان لویې جرگې پرېکړه وکړه چې د پښتونستان خلک د خپلو رایو پر بنسټ خپل برخلیک پخپله وټاکي. افغان حکومت باید له پاکستان سره د قوت تعادل چې له امریکا یې وسله اخیستې ده وساتي او پښتونستان د پاکستان یو ټوک ونه پېژني.
(۱۰: ۲۹۲، ۳۰۱ مخ)

د ۱۹۶۴م. (۱۳۴۳ش) کال د افغانستان د اساسي قانون لویه جرگه چې د میزان له لومړۍ نېټې څخه تر ۲۹ نېټې پورې په کابل کې جوړه شوه او د نوي اساسي قانون مسوده یې تصویب کړه. د همدې قانون په څلورم او پنځم فصل کې شورا پر دوو برخو-ولسي جرگه او مشرانو جرگه باندې ووېشل شوه او په دې ډول تعریف شوه: لویه جرگه له ولسي جرگې، مشرانو جرگې او د ولایتونو د جرگو له ریسانو څخه جوړېږي. په دې ډول د لومړي ځل لپاره د جرگې اصطلاح د افغانستان په اساسي قانون کې شامله شوه او د یوې قانوني اصطلاح په توگه یې ځای وموند.

دغه راز د جمهوریت لومړنۍ لویه جرگه د ۱۹۷۷م. (۱۳۵۵ش) کال په دلو کې جوړه شوه او دوه مهمې پرېکړې یې وکړې:
ښاغلی محمد دواود خان یې د افغانستان د لومړني رئیس جمهور په توگه وټاکه.
د جمهوریت لومړنی اساسي قانون یې تصویب کړ.
د افغانستان د جرگو په تاریخ کې د ۱۹۹۲م. (۱۳۷۱ش) کال د اهل حل او عقد شورا په نامه جرگه هم د یادولو وړ ده،
(۱۳: ۲۰۳ مخ)

د جمهور رئیس حامد کرزي پر مهال د اساسي قانون لویه جرگه د ۲۰۰۴م. کال په نوامبر (۱۳۸۲ش. قوس) کې جوړه شوه او ۲۱ ورځې یې دوام وکړ. لویې جرگې نوی اساسي قانون تصویب کړ چې د هغه پر بنسټ د جمهور رئیس، د ولسي جرگې او مشرانو جرگې، د ولایتي او ولسوالیو شوراگانو د ټاکنې پروسه تایید او تصویب شوه.

همدا اسې نورې جرگې هم درواخله په نتیجه کې ویلای شو چې زموږ ملي او سیمه ییزو جرگو د تاریخ په اوږدو کې ملي، سیاسي او ټولنیزې سیمه ییزې لانجې او ستونزې تر ډېره بریده حل او فصل کړې دي او خپله ونډه یې د ملت د لانجو په حل کې ترسره کړې ده، خو د دغو جرگو تر څنگ غیر حکومتي او ولسي جرگې او مرکې رواج لري او د ټولنې د مختلفو لانجو په حل او فصل کې غوره ونډه لري.

## ج- د ټولنې په پرمختگ کې د جرگو ونډه

موږ په تېرو کرښو کې د ټولنې د لانجو په حل کې د جرگو ونډه بیان کړه او په ډاډسره ویلای شو چې زموږ ملي او سیمه ییزو جرگو دغه لوی رسالت ترسره کړی دی او دا په خپل ذات کې یو پرمختگ دی او بې له شکه افغانان حق لري چې د خپل تاریخ په استناد ووایي، چې په افغاني ټولنه کې جرگې له پیله بیا تر اوسه د ملي او سیمه ییزو لانجو او ستونزو په حل، دملي، سیاسي، قومي او ټولنیزو چارو په تنظیم، سمون او پرمختگ کې مهم رول لوبولی دی او په راتلونکې کې به یې هم ولوبوي. جرگې تل د خلکو د ارادې، یووالی او ملي پرېکړو لوړې ولسي-او دولتي مرجع گڼل شوي او د افغاني ټولنې د پرمختگ لپاره یې لارې پرانیستي دي. په افغاني ټولنو کې د مشرانو، پاچاهانو او ولسمشرانو ټاکنه یو لویه سیاسي لانجه او ستونزه وه چې تر دې وروستیو وختونو پورې دغه ملي لانجه او ستونزه د لویو جرگو په وسیله حل شوې او د سیاسي پرمختگ په لور گامونه اوچت شوي دي. د بېلگې په توگه په ۱۷۴۷م. کال د افغانستان د پاچا د انتخاب لانجه د شېر سرخ لویې جرگې له خوا حل شوه او په نتیجه کې یو لوی پرمختگ په سیاسي، اقتصادي او فرهنگي ډگر کې رامنځ ته شو. په سیاسي لحاظ د افغانستان خپلواکي وگټل شوه، د افغانستان لرغوني او تاریخي قلمرو بیا له سره احیا شو، د لومړي ځل لپاره د درېیو قواوو د تفکیک پر بنسټ د سیاسي نظام بنسټ کېښودل شو، ملي حاکمیت او د خاورې تمامیت تامین شو، ملي یووالی

منځ ته راغی، د مذهبونو او عقایدو آزادي تامین شوه، پښتو او دري د اداري او لیک ژبې وګرځېدې او بالاخره افغانستان د یوې لویې امپراتورۍ څښتن شو.

د تاریخ په اوږدو کې جرګه صرف د ولس ترمنځ د معاملو او لانجو په حل کولو پورې محدوده نه وه، بلکې د افغان پخوانیو پاچاهانو او بادشاهۍ د چلولو لپاره به جرګې کېدلې او حتی په هند کې افغان پاچاهانو د حکومتونو د جوړولو او چلولو لپاره جرګې راغوښتې. (۷: ۵-۱۸ مخونه) بې له شکه په ټولنه کې د سیاسي واکمنانو او حکومتونو په ټاکنې سره سیاسي، اقتصادي او ټولنیز فعالیتونه او پرمختګونه رامنځ ته شوي دي.

افغانان له پخوانۍ زمانې راهیسې ځانګړي ملي قوانین لري چې دغه تنظیمه قوانین وخت په وخت د افغان جرګو له تثبیت او ټاکل شوي دي او د دوی له خوا یې درنښت کېږي. په اوسنۍ عصري اصطلاح افغان جرګه تقنیني، اجرائیوي او قضایي حیثیت لري. جرګه د افغان حکومتونو په کورني او بهرني سیاست کې د څارنې او د پرېکړو د تاییدولو صلاحیت لري او تل یې د ګټو او معقول سیاست پلوی کړې ده، د بېلګې په توګه په ۱۹۴۱م. کال د افغانستان لویې جرګې پرېکړه وکړه چې افغان حکومت نه باید په دویمه نړیواله جګړه کې د کوم لوري په ګټه ورګډ شي او د همدغې ملي پرېکړې پر بنسټ افغانستان د جګړې له اور څخه وژغورل شو او د جګړې د مادي او بشري زیانونو د منلو پر ځای یې د سولې او پرمختګ لاره خپله کړه.

په افغاني ټولنه کې د جرګې مؤسسه له ډېرې مودې راهیسې فعاله ده. دا مؤسسه د افغانیت په چوکاټ کې هغه عنصر دی چې د جګړو او شخړو په تحدید او هوارولو کې مرسته کوي او په ټولنه کې د سولې او ترقۍ لپاره زمینه برابروي. (۱۶: ۱۷۶ مخ) که چېرې په خپل هېواد کې د سیمه ییزو او ملي جرګو تاریخ مطالعه کړو، نو هرو مرو به دغه حقیقت ووینو چې د دوی پرېکړې پر حقوقي اصالت ولاړې او د افغانستان د ملي ګټو، د خاورې د تمامیت او د سیاسي خپلواکۍ تامین کوونکي وې او دي. (۱۸: الف-ب مخونه)

د ټولنې په پرمختګ کې د جرګوونږه د هغوی په پرېکړو او عملي لارو چارو کې له ورایه څرګندېږي، موږ په خپل هېواد کې د سیمه ییزو او ملي جرګو د جوړېدو شاهدان وو او په خپل وخت کې د ټولنې په بدلونونو او پرمختګ کې ارزښتناک رول درلود، د دوی پرېکړې نه یوازې د افغانستان د خپلواکۍ او د ځمکنۍ بشپړتیا د ساتلو سبب شوي دي، بلکې زموږ د ټولنې د نظام جوړونې په بهیر کې چې د اساسي قانون په تصویبولو سره تضمین شوي ډېر ارزښتناک رول لوبولی دی.

د افغاني ټولنې د سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو لانجو د حل او د هېواد د پرمختګ او آبادۍ په کار کې د جرګو رول ته په کتو سره افغاني حکومتونو لویه جرګه، ولسي جرګه، مشرانو جرګه او ولایتي جرګې د دولت د رسمي ارګانونو په توګه د ملي او سیمه ییزو پرېکړو د جرګه ګیو په توګه ومنلې او د هېواد په اساسي قوانینو کې ځای ورکړ شو. (۱: ۶-۷ مخونه)

د ۱۳۸۲ ش. کال د نوي او وروستي اساسي قانون په پنځم او شپږم فصل کې نه یوازې لویه جرګه، ولسي-جرګه، مشرانو جرګه، ولایتي او ولسوالي جرګې منل شوې وې، بلکې د دوی تعریف، صلاحیتونه او دندې یې هم پکې بیان شوې وې او د اساسي قانون له مخې د افغانستان د پرمختګ په کار کې مسؤلې ګڼل شوې وې. (۲۰: ۴۲-۴۹، ۵۸-۵۹ مخونه) او که څه هم جرګو دولتي او قانوني بڼه غوره کړې ده، خو د کلیو، بانډو او قومونو ترمنځ لا تر اوسه کلیوالي او قومي جرګې رواج لري او سیمه ییزې ستونزې د روغې جوړې او د ولسي قانون (نرخ) پر بنسټ حل او فصل کېږي.

**نتیجه**

جرګه د افغانستان د لرغوني سیاسي او ټولنیز ژوندانه زېږنده ده او هغه مهال کله چې زموږ نیکونو او پلرونو د آریانا په قلمرو کې څو زره کاله وړاندې خپل سیاسي او ټولنیز ژوند را پیل کړ، نو په کورنۍ او ټولنه کې د ښه نظم او د چارو د تنظیم، سمون او سرته رسولو په خاطر یو واحد مشرتوب ته اړتیا پیدا

شوه، چې په کورنۍ کې پلار د (کرامه پاتي) په توګه، په کلي کې مشر د (وېش پاتي) په توګه، په ټبر (ګوترا) کې مشر د (ګوتراپاتي) په توګه، په قبيله (ګرامه) کې مشر د (ګرامني) په توګه مشرتوب کاوه. دغو مشرانو د کورنۍ، کلي، ټبر او قبيلې په کچه د نظم او يووالي د تامينولو، د ټولنيزو چارو د تنظيم او سرته رسولو رهبري او د خپل منځي لانجو د حل کولو مسووليت پر غاړه درلود.

دغه راز د هېواد په کچه د ملي، سياسي او ټولنيزو لانجو د حل او د ملي او ولسي چارو د تنظيم، سمون او رهبرۍ لپاره يوې ګډې اجماع ته اړتيا پيدا شوه، چې په نتيجه کې يې د ((سميتي)) او ((سبها)) جرګې راپيدا شوې او د دغو جرګو له لارې نه يوازې د ټولنې د مشرتوب او خپل منځي ستونزو او لانجو د حل لارې چارې پلې کېدې، بلکې دغو جرګو د ټولنې د پرمختګ په کار کې غوره ونډه درلوده.

دغه راز د افغانستان په معاصر او نوي تاريخ کې جرګه نه يوازې د ملت د ارادې ځرګندويه وه، بلکې د سيمه ييزو، خپل منځي او ملي لانجو د حل يوه معتبره مرجع وه. افغان سيمه ييزو جرګو د ولسي قانون (نرخ) په اډانه کې د کورنۍ، کلي، سيمې، قبيلې او قومونو په کچه خپل منځي او ټولنيزې لانجې حل کړې او لا تر اوسه د دولتي ارګانونو ترڅنګ ولسي کليوالي او سيمه ييزې جرګې فعالې دي او د ټولنيز پرمختګ لپاره زمينه برابروي. خو په هېواد کې ملي جرګو نه يوازې د پرديو اشغال ګرو په وړاندې خپل ولس يو موټی کړی او له هېواده يې شړلي دي، بلکې د هېواد د خپلواکۍ په ګټلو، د سياسي مشرانو په ټاکلو او د نظامونو په جوړولو کې يې مهم رول لوبولی دی. د هېواد په کچه ملي او يا لويې جرګې د اړتيا په صورت کې د ملت او يا د حکومتونو جوړې شوي او يا جوړېږي، خو هدف د ملي ستونزو او هدفونو په اړه همغږۍ رامنځ ته کول او د ملت د خپلواکۍ، يووالي، سوولې او پرمختګ په اړه پرېکړې کول وي.

جرګه د ټولنې او دولت په کچه د کوچنيو او غټو ملي پرېکړو يوه معتبره ولسي او دولتي مرجع ده، چې نه يوازې د ولسونو ترمنځ خپل منځي معاملې او لانجې حل او فصل کوي، بلکې د افغانستان په معاصر تاريخ کې يې د خپلواکۍ غوښتونکو ملي پاڅونونو د تنظيم او پيل رهبري، د هېواد د سياسي واکمنانو د انتخاب، په نړيوالو جګړو کې د بېطرفۍ د سياست د اعلانولو، د هېواد د اساسي قوانينو د تصويبولو او تعديل او د حکومتونو د څارنې او تائيد چارې يې پرمخ بيولي دي.

د افغانستان په وروستي نوي اساسي قانون کې لويه جرګه، ولسي جرګه، مشرانو جرګه، ولايتي او ولسوالۍ جرګې د خپلو جوړښتونو، صلاحيتونو او دندو په شمول تعريف شوې وې او بې له شکه د هېواد د دولتي جوړښت د يو مهم تقنيني رکن په توګه يې زموږ په ټولنه کې ځای نيولی و. چې اوس د څلند چار نه لري اوتمه ده چې داسلامي امارت نوی اساسي قانون په خپل لمن کې دغو مسايلو ته ځای ورکړي.

جرګو نه يوازې د افغاني ټولنې د لانجو په حل او پرمختګ کې مهمه ونډه درلوده، بلکې په افغاني ټولنه کې جرګې د ملت د اجماع، يووالي، ګډو پرېکړو، ولسواکۍ او پرمختګ ځرګندوي وې. لويديځ لاپارلمانونه او د ملګرو ملتونو ټولنه نه وه جوړه کړې، خو افغانستان څو زره کاله وړاندې په جرګو خپلې سيمه ييزې او ملي ستونزې او لانجې حل او فصل کولې او د پرمختګ لورې يې ټاکل.

**وړانديزونه**

د جرګې مثبت دود او رواج د افغانستان په تاريخ کې تل مثبت او ګټور ارزول شوی دی، نو ځکه په لاندې ډول څو وړانديزونه کوم:

۱- د افغانستان د ټولو کليو او بانډو په کچه د مشرانو او ديني علماوو د جرګو بيا احيا او جوړول اړين دي او د کليو د امنيتي ستونزو، لانجو او پرمختيا په کار کې د دوی شريکول ګټور ګنم.

۲- د ولسواليو په کچه د شوراګانو او جرګه ګيو ټاکل نه يوازې زموږ قانوني مسووليت دی، بلکې د کليو او بانډو د جرګو په جوړولو او رهبري کولو کې غوره رول لوبولی شي.

## ماخذونه


۱-رفیع، حبیب الله. لویه جرگه، د امان کتاب خپرولو مؤسسه، پېښور، ۱۳۸۱.

۲- کهزاد، احمدعلی. د افغانستان پخوانی تاریخ، لومړی ټوک، د تاریخ انجمن، کابل، ۱۳۳۴.

۳- په افغانستان کې د شوراګانو پر تاریخچې یو لنډ نظر، لنډیز او تدوین: عبدالرسول قدیري، د ولسي جرګې د اطلاعاتو او عامه اړیکو د ریاست خپرونه: کابل، ۱۳۸۵.

۴- پښتو- پښتو تشریحي قاموس، دوهم ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي: کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۶۰.

۵-آریانا دایرة المعارف، دوره دوم، جلد سوم، اکادمی علوم افغانستان ریاست دایرة المعارف: کابل، مطبعه نبراسکا، ۱۳۸۹.

٦- محمد حیات خان. حیات افغاني، لومړی ټوک، د فرهاد ظریفي او عبدالطیف طالبي ژباړه، سرحدونو چارو وزارت: کابل، آریانا مطبعه، ۱۳۷۰.

۷- ممه خېل مروت، شاه سوارخان. جرګه: پېښور، دانش خپرندویه ټولنه، ۲۰۰۸م.

۸- بېنوا، عبدالروف. پښتونستان، د مطبوعاتو مستقل ریاست، د کابل عمومي مطبعه، ۱۳۳۰.

۹- فیض زاد، محمد علم. جرگه های بزرگ ملی افغانستان (لوی جرگه ها) و جرگه های نام نهاد تحت تسلط کمونست ها و روس ها، طبع اول: لاهور، ۱۳٦۸.

۱۰- حبیبي، عبدالحی. د افغانستان پېښلیک، لومړی ټوک، د بیهقي کتاب خپرولو موسسه: کابل، دولتي مطبعه، ۱۳۵۳.

۱۱- ګندا سنګ. دراني احمدشاه، د نصرالله سوبمن پښتو ژباړه: کابل، دولتي مطبعه، ۱۳٦۲.

۱۲- غبار، میرغلام محمد. افغانستان د تاریخ په تګلوري کې، بشپړ لومړی او دویم ټوک: ژباړن، پوهاند محمد بشیر دودیال، میوند خپرندویه ټولنه: کابل، میوند خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۳.

۱۳- یون، محمد اسمعیل، بېړنی لویه جرګه ولسواکي او زورواکي، رڼا مرکز، کابل: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴.

۱۴- هېواد، پرله پسې ۴۵۱٦ مه ګڼه، د غويي ۱۴ نېټه.

۱۵- بارت، فریدریک ویلیام. د سوات په پښتنو کې سیاسي مشرتوب، ژباړن: نصرالله سوبمن، د افغانستان د علومو اکاډمي: کابل، دولتي مطبعه، ۱۳٦۷.

۱٦- د لیکوالو ډله. د پښتنو ټولنیز- اقتصادي جوړښت د ثور تر انقلابه، د افغانستان د علومو اکاډمي: کابل، دولتي مطبعه، ۱۳٦۲.

۱۷- ځدراڼ، محمد شریف. د شپاړسمې پېړۍ په پیل د پښتنو سیاسي، اقتصادي او کلتوري حالت: پېښور، مهین خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۵.

۱۸- محبوبه. لویه جرگه ها مظهر دموکراسی در افغانستان، اتحادیه نویسنده گان افغانستان آزاد: پېښور، ۱۳۷۳.

۱۹- مهربان، عبدالله. تاریخ شورا در افغانستان، ریاست نشرات مجلس سنا، کابل: مطبعه دولتي، ۱۳٦۸.

۲۰- د افغانستان اساسي قانون، د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمیسیون: کابل، مطبعه صنعتي خالد، ۱۳۸۹.

۲۱- حکیم زی، بدرالحکیم. پښتونولي، ژباړن: سمسور منګل: پېښور، امن پرنټنګ پریس، ۲۰۱۷م.

۲۲- M. monir. Williams. Sanskrit- English Etymologi- cauy dictionary, ۱٦ th Reprint Delhi, ۲۰۱۱, part (s).

۲۳- حبیبي، عبدالحی. تاریخ مختصر افغانیه، جلد اول، د کتاب چاپولو موسسه به همکاري انجمن تاریخ، کابل، ۱۳۴٦.




# جرګه ها درطول تاریخ افغانستان و اهمیت بس مهم و سترګ آن

لیکوال: تتبع و نگارش سید محمود (راد)

سرزمین افغانستان درطول تاریخ چند هزار ساله اش، نشیب ها وفراز های برخاسته از ناملایمات سیاسی، اجتماعی، فرهنگی و تاریخي را پشت سر گذشتانده است.

یکی از ارزش های فرهنگی و تاریخی که در حل معضل و منازعات پرداخته است، همان تدویر جرگه های قومی و مردمی می باشد.اگر تاریخ زرین این سرزمین را ورق بزنم در می یابیم که بیش از ۱۸۰۰ سال همچو جرگه های قومی درراه حل منازعات قومی و قبیلوی، تدویر می یافت و مردم این سرزمین مشکل های اجتماعی، سیاسی، فرهنگی و تاریخي شانرا از طریق همچو جرگه ها حل و فصل می نمودند. این بدان معناست که ازهمان آوان که‌زمان‌زمامداری کنشکا کبیررا در بر می گیرد، حدود ۱۵۰۰تن ازرهبران مذهبی و متنفذین را دورهم جمع نموده و پیرامون مسایل مربوط تحت منازعه، که تنهاراه حل آن از طریق

جرگه ها متصور بود، صورت گرفته، تصامیم و فیصله های لازم را اتخاذ می کردند.

مردم این سرزمین درطول تاریخ، اهمیت جرگه ها را مدنظر داشــته وآنرا یکی از الزمات مبرم و حیاتی پنداشــته اند. روی همین منظور تدویر جرگه های قومی از اتوریته مهم و سترگ در بین تمام اقوام و ملیت های ســاکن این سرزمین برخوردار است. در این جا بی مناسبت نخواهد بود تا مفهوم جرگه ها را دانســته و نیازی که انســان ها به غرض حل مشــکل و منازعه خود، از آن استفاده کرده اند، در ادوار تاریخ بصورت فشرده از انها یاد دهانی گردد.

جـــــرگه ها جهت حل منازعه، نقش محوری را دارا بوده و تصــامیم دسته جمعی که تو سط مردم بخاطر تامین وحدت، همبســـــتگی و اخوت بوجود می آید، در امور اجتماعی از فرهنگ پر بار و سنتی ساکنان این سرزمین محسوب میگردد. واژه اصــیل جرگه در کار برد عمومی، اجتماعی و گردهمایی مردم یک سرزمین را افاده می نماید و بعضاً به معنای مشوره و ایجاد تفاهم، نیز استعمال گردیده است. در زبان های پشتو و دری این واژه به کثرت مورد استعمال داشته و بعضــاً عالمان و پژوهشگران بدین باور اند که جرگه، ریشــه در زبان ترکی، نیز دارد، چرا که در ان معنای مشـــابهی را دربین سه زبان، بیان میکند. لغت شورا، نیز در شریعت، تبادل نظر و افکار اندیشه و بحث آزاد، جهت دریافت حل قضـــایا ورفتن به سوی اخوت ، همبســـــتگی و برادری، آمده است و نقش جرگه و شورا، در تقویت قوانین عرفی افغانســتان، یک سان بوده ومفهوم خاص آن الزامی مشوره دهی و بحث در امور سیاسی و اجتماعی می باشد.

اگر صفحات زرین تاریخ کشـــور را ورق بزنیم در می یابیم که اولین جرگه در قرن ششـــــم قبل از میلاد در نیم قارهُ هند بودایی، ظهور کردوکم کم به ممالک همســایه مان نفوذ نمود. دین بودایی در این سرزمین اریایی وقتی ترویج بیشـــتر پیدا کرد که سلســـله شاهان کوشانی به قدرت رسیده بودند، در عصـــر کوشانیان در دیانت بودایی، تغیرات قابل ملاحظه یی بوجود آمد. چون شاهان و بزرگان کوشـانی ها به دین بودایی علاقمند و به آن پابندی کامل داشـــتند و دریک نکته، این که ایشان به دیانت بودایی گرویده بودند، از این سبب در اشاعه، ترویج و انکشـــــاف ان سعی و اهتمام می ورزیدند، چنانکه دردوره کوشانیهای بزرگ، مخصـــــوصاً در دوران زمامداری کنشـکا ۱۲۰- ۱۶۰ میلادی، بعضاً تعدیلات وطرق تازه یی در دیانت بودایی، بوجود آمد که انرا مهایانا، یعنی راه نجات، مـی گفتند. باجلوس کنشکا بر مسند سلطنت دراثر تجویز عالمان گندهارا که امروز قندهار یا کندهار، معروف اســـــت، زمزمه تعدیل و اصلاح اصول قدیمه دیانت بلند شــد، بخاطر عملی شدن نظریه های دینی، به امر کنشـــکا محفل و مجلس بزرگ مذهبی، در شهر کشـــــمیر که یکی از مربوطات امپراطوری کوشانیها بحساب میرفت وجزء قلمرو این امپراطوری محسوب می شــد، دایر گردید. این جرگه یی بزرگ مذهبی که بیش از ۵۰۰ تن از متنفذین، عالمان وراهبان در ان اشتراک کردند، به سرپرستی و ریاست ، وزاومیترا که از دانشــمندان گندهارا بود و در علوم فلسفه دست بالایی داشت، تدویر گردید.

در جرگه ی بزرگ پارس، مشـــاور مذهبی کنشـــکا که اهل گندهارا بود و همیشــه اوقات با پادشاه در تمام امور کشـــور، خصــوصاً در امور دینی، مشــوره ورهنمایی می کرد، اشتراک داشته و هم نویسنده بزرگ عصر- کنشکا که به نام اسوکوشا، نامیده می شد، اشتراک ورزید که تمام تصامیم و فیصله هایی همین جرگه به قلم توانای موصوف، تدوین می شـد، بعد تمام فیصله ها، تصامیم ورهنمود ها، بنا بر امر کنشکا، برروی لوحه های مســــی، نوشته شده و جهت نگهداری آنها در صندوق های بزرگ ســنگی از آن مواظبت صـــورت میگرفت و جهت حفاظت ازآن یکی از راهبان را وظیفه ســـپرده بودند که در حفظ و حراست ان بکوشند، فیصــله ها با ارای عمومی اتخاذ می گردید و شـــاهان آن روزگار از اوامرو هدایت های که در تقابل با ارای مردم قرار میداشت، هیچ گونه فرمانی را صادر

نمی نمود، مگر فیصله هایی که در جرگه ها بوجود می آمد، انرا مورد قبول و اجرات قرار می دادند، این موضوع خود از اصل آزادی نماینده گی می کرد.

جرگه دومی، جرگه سال ۱۰۸۸ هجری، مطابق به ۱۷۰۹ میلادی در قندهار بود (۱)

در سال ۱٦۴۹م شاه حسین صفوی، پادشاه ایران شد. گرگین خان گرجستانی را به حکومت اعلی قندهار، بحیث حاکم تعین نمود. این شخص در قندهار به مظالم اجتماعی پرداخت و یک حکومت جابرانه ی را بالای مردم بوجود آورد و به عصبانیت، حکومت را پیش می برد، زمانی که میرویس خان هوتکی، وارد صحنه سیاست شد، ابتدا به حیث کلانترشهر، از حکومت و نظام گرگین، شکایت های مفصل مردم را به امضای خودش به در بار شاه حسین صفوی ارسال نمود. شکایت های مردم توسط حکومت صفوی، مورد باز خواست قرار نگرفت، در عوض گرگین میرویس خان را از کلانتری معزول و با یک تعداد از امضاء کننده گان شکایت نامه، تحت الحفظ به اصفهان تبعید نمود. میرویس خان چون در اصفحان تحت نظارت بود، توانست خود را تبرئه کند. درحالی که شاه و صدراعظم را به خود خوشبین و جلب کرده بود، اجازه ی سفر حج را اخذ نمود. موصوف در حجاز به نام مردم مسلمان افغانستان از عالمان آنجا استفتاهاتی اخذ وفتوا حاصل کرد که به موجب آن، مردم حق خود دانستند که هرشخص و یا پادشاهی که مغایر به احکام دین مقدس اسلام، رفتار کند، حق مسلم دارند که علیه وی قیام نمایند. میرویس خان درزمان بازگشت به قندهار به هر جا و قبیله یی فرود آمد و با ملا امامان ومتنفذان دید و بازدید به عمل اورد و از نظام حکومت صفوی، جهت آزارشدن مردم، سخن رانده فتوای عالمان حجاز را به حیث سند معتبر دینی به انان نشان داد.

میرویس خان به مردم توصیه کرد وآنان راجهت بر انداختن سلطنت جا برانه گرگین تشویق کرد و به یک اقدام وشورش عمومی، دعوت نمود. این دعوت میرویس خان چنان بر اندیشه و تفکر مردم ، تاثیر نمود که مردم فراه، سیستان، قندهار اعم از پشتون، تاجک، هزاره، بلوچ و همه اورا منحیث رهبرخود برشمردند وبه صفت رهبر آزادی موصوف را قبول نمودند. خود میرویس خان موضوعات مهم سیاسی و اجتماعی را با متنفذین و عالمان در میان می گذاشت وبا سران قبایل و عالمان دین در تماس بود بالا خره جرگه بزرگ ولی مخفی را در موضع مانجه در شمال شرق قندهار دایر کرد و تصمیم اتخاذ شد که درقبال گرگین، مبارزه صورت بگیرد و آزادی که حق مسلم فرد، فرد ملت افغان است را بدست بیاورند.

درین جرگه وظایف رهبران وقبایل منطقه تعیین شد تاجهت حفظ آزادی در مقابله با هر نوع مظالم اجتماعي به پا خیزند و نظام صفوی راسرنگون سازند. این بود که کامیابی بزرگی نصیب ملت صلحشور افغان شد و حکومت جابر گرگین درهم شکست. این جرگه تاریخی چنان بالای روح و روان مردم آن زمان تاثیر نمود که روحیه وحدت، برادری و همبستگی را بین مردم مستحکم ساخت. مردم با یک وحدت کامل وبا صدای ملی، سوگند وفاداری شانرا بخاطر سرنگونی دستگاه حاکمه ی ظالم و جابر آن زمان، بلند نمودند و کاخ ظلم و بیعدالتی و استبداد دشمنان مردم را درهم ریختند، حتا بعد از تدویر و تعهد اعضای جرگه دختر جوانی حاضر گردید تا بخاطر سرگونی کاخ استبداد گرگین، خون خودرا فدای مصالح ملی نماید که این همه از برکت و تدویر جرگه ها بود. (۲)

جرگه دیگری در سال ۱۷۴۷ میلادی به نام جرگه مزار شیر سرخ تدویر یافت که در نتیجه منتج به تأسیس افغانستان نوین و انتخاب احمد شاه بابا به حیث زعیم ملی مردم افغانستان شد. انتخاب احمدشاه بابای درانی در راه حل مسایل سیاسی، اجتماعی افغانستان یک قدم موثر و برازنده

تلقی گردید تا افغانستان بتوانند منازعه و معضل های سیاسی و قومی خویش را در فضای اخوت، برادری حل و فصل نمایند.
جرگه دیگر که در زمان امیرشیرعلی خان در سال ۱۸۶۵ میلادی تدویر یافت بخاطرحل اختلافات وگشودن باب مذاکره و مفاهمه برای ایجاد وحدت بین لافغانی بود. جرگه ۱۲۹۳ هـ ش مطابق به ۱۹۱۵ میلادی در زمان حبیب الله خان که مصادف به جنگ اول جهانی بود با اشتراک ۵۴۰ تن از بزرگان قومی، علمای دین و متنفذین کشور در پایتخت افغانستان تدویر یافت که یگانه انگیزه ی تدویر چنین جرگه، تقاضای المان ها و ترکها، جهت پیوستن افغانستان به جنگ جهانی علیه انگلستان بود. هیات از جانب المان، اترش و ترکیه به افغانستان آمدند و از شاه افغانستان حبیب الله خان خواستند که افغانستان علیه انگلستان داخل جنگ شود. حبیب الله خان لویه جرگه را تدویر نمود و از بزرگان قومی و علمای دین نظر خواهی و مشورت خواست. اعضای لویه جرگه مصمم شدند که در آن جنگ بیطرفی افغانستان اعلام بدارند.
جرگه ی که در زمان شاه امان الله خان تدویر گردید، بنام اتحاد مشرقی و دیگرش جرگه پغمان بود. در این جرگه ها برای نخستین بار قانون اساسی در افغانستان به تصویب رسید و هم چنان تصامیم، فیصله ها و قوانین دیگر در مورد اتباع خارجی و چگونکی روابط و اقامت شان در داخل افغانستان وضع گردید.
در جرگه زیر نام مشرقی که در برج دلو۱۲۹۸ خورشیدي صورت گرفت، جریده ای به همین نام در جلال آباد به نشرات آغاز کرد که طبع آن در ماشین خانه کابل صورت میگرفت و هفته دوبار نشر می شد.
که در عنوان جریده نشان استقلال یعنی کلاه تا جدار امان الله خان با دو شمشیر ترمیم گردیده بود مقصد از تشکیل جرگه فوق این بود که اگر از طرف دشمن اندک یک خطر در بجا آوردن حقوق مشروعه افغانستان دیده شود، باید که شدید تر وبیشتر در راه دفاع آن مقاومت وبه شجاعت فطری و حمایت صورت گیرد بالجمله تماماً معبوثین ملی وعامه اعیان و مصارف سرحدات بموجب همان مواد وشرایط که از طرف دولت و حکومت افغانستان توضیح و اشکار شده بود به یک سرعت صاعقه نمایی بمجرد وصول اعلان در مرکز سمت مشرقی یکی بعد از دیگر واصل شوند، چرا که مکاتیب خصوصی و اعلان های رسمی دولت مستقل افغانستان قبلاً به بزرگان و اقوام سرحدی مشرقی رسیده بود در دهه اول برج حوت ۱۲۹۸ خورشیدی درهده مشرقی بمیدان زیارت نجم المشایخ مجلسی اتحاد مشرقی منعقد وراجع به حفظ شان و شرف اسلامی بیانات موثری ایراد شد تا جواب اخری حکومت انگلیس را به خود حاصل نماید و به آنان خاطر نشان کنند که در صورت عدم پذیرش خواهش های حقه ملت افغانستان البته جهاد بر ملت فرض و ملت به مجردیکه ازپهلوتهی کردن انگلیس دربرابر مطالبات مطلع شوند فورًسرتاسرسرحدات مشرقی از اسمار گرفته الی پاره چنار داخل میدان کارزار شوند که فیصله جرگه در شماره اول، سال اول جریده اتحاد مشرقی در ۹ حوت ۱۲۹۸ خورشیدی که مصادف به اولین سالروز جلوس اعلیضرت امان الله خان بود، نشر شد(۳)
جرگه پغمان که در سال ۱۳۰۷ هـ ش تدویر شد اصلاحات ذیل به تصویب رسید نشان و مدال و القاب درلباس رسمی لغو گردید، به تأسیس دارالعجزه، دارالمساکین و دارالمجانین تاکید شد، تزئید درمعاشات مامورین بوجود آمد، قانون استخدام تصویب و در امور عدلی اختیارات حکام و قضات محدود گردید، قانون ازدواج سن دختر را ۱۸ سال و از پسررا ۲۲ سال تعین نمود علامات بیرق ملی که به علامت کوه خورشید و خوشه گندم بود، به تصویب رسید درعوض شورای دولت، تأسیس شورای ملی انتخابی از ۱۵۰ نفر و کلای با سواد، قبول شد، در این جرگه فیصله شد که شاه برای ۱۰ سال دیگر زمام حکومت را درعوض صدراعظم

مسؤل، بدست خواهد داشت و د هها فیصله دیگردراین جرگه بوجود آمد که نمیشود از تمام تصامیم و فیصله ها یاد دانی شود.

در نهایت تصویب فیصله ها جرگه پغمان به امضای علمای مذهبی سادات و مشایخ و روساٌ ووکلای مجلس عالی لویه جرگه و امضای شاه در جهت اگاهی مردم به نشر رسید. در این جرگه هزار نفرشرکت نموده بودند.

جرگه ی دیگری در سال ۱۳۰۹ هـ ش مطابق به ۱۹۳۰ میلادی در دوران زمامداری نادر شاه صورت گرفت. در این جرگه به تعداد ۳۰۱ تن از وکیلان انتخاب شدند و تصامیمی در مورد مقرارت شورای ملی به تصویب رسید. درزمان زمامداری محمدظاهرشاه در سال ۱۳۴۳ هـ ش جرگه وسیعی تدویرشد در این جرگه قانون اساسی افغانستان به تصویب شورا رسید که متضمین تامین حقوق و وجایب مردم افغانستان به حساب می رفت و هم به آزا دی مطبوعات، آزادی احزاب سیاسی و قوای ثلاثه افغانستان منجر شد.

لویه جرگه دیگری برای تصویب قانون اساسی در ۱۹ فبروری سال ۱۹۷۷ م در کابل انعقاد یافت که تعداد اعضای آن به ۳۴۹۱ نفرمی رسیدند. بر خلاف دوره دموکراسی، اعضای آن جرگه ۲۱۹ نفر بودند که به طریقه عنعنوی از طرف مردم انتخاب شده بودند و به تعداد ۱۳۰ نفر آنها از طرف محمد داود خان انتخاب گردیدند. این جرگه مدت ۱۵ روز در کابل دوام نمود و به تاریخ چهارم مارچ ۱۹۷۷م قانون اساسی تصویب شد وسردار محمد داود خان برای مدت شش سال به حیث رئیس جمهور انتخاب گردید(۴)

همچنان جرگه های دیگری در دوران حکومت حزب دیموکراتیک خلق و مجاهدین تدویر یافت که از طرف مجاهدین جرگه ی در سال ۱۳۵۷ خورشیدی درشهر پاکستان صورت گرفت فیصله به عمل آمد که تمام مردم افغانستان برعلیه حکومت دست نشانده اتحاد جماهیر شوروی سوسیالیستی متحد ویک پارچه گردند . روی همین ملحوظ در تمام ولایات افغانستان ، حتا در قریه جات کمیته های مجاهدین بوجود آمد و مبارزات بی امان ، شدت گرفت که منجربه جهاد علیه شوروی سابق شد .به همین سال در سال ۱۳۵۷ خورشیدی مطابق به ۱۹۸۰ میلادی لویه جرگه ی دیگردر شهر پشاورپاکستان تدویر یافت که بمدت پانزده روز دوام پیدا کرد و درآن جرگه تعداد زیادی از مجاهدین از احزاب مختلف جهاد حضور به هم رسانیده بودند. هدف چنین لویه جرگه، تحقق آرمان مردم افغانستان، آزادی افغانستان ازچنگال شوروی وقت و تشدید مبارزات علیه حکومت کمونیستی آنزمان بود به همین ترتیب جرگه های دیگر در سالهای ۱۳۶۴-۱۳۶۶ - ۱۳۶۸ خورشیدی نیز تدویر گردیده که تماماً روی اهداف مشخص صورت گرفت که نمیشود در این مقاله ی کوچک از تک تک آن یاد اوری شود.

و همچنان میتوان از جرگه های سال ۱۳۸۱ خورشیدی، ۱۳۸۶ و ۱۳۸۹ خورشیدی جرگه ۱۳۹۰ هـ.ش

لویه جرگه دیگر در سال ۱۳۹۲ خورشیدی در کابل را یاد اوری نمود که روی موضوعات مختلف بعد از جروبحث تصامیم را اتخاذ نمودند.

**مآخذ و منابع:**


۱ غبار، میر غلام محمد . افغانستان در مسیر تاریخ، انتشارات ابراهم شریفی ایران، ۱۳۹۰ خورشدی ، جلد اول صفحات ۵۲۹-۵۳۲ و صفحات ۵۶۱-۵۶۳

۲ سرمند نظرمحمد. جرگه ها و شوراها، چاپ ارگانها ی محلی کابل، ص ۳۸-۳۹

۳عزیزالدین، کتکی فوفلیزای. سلطنت شاه امان الله و استقلال مجدد افغانستان ج ا. ص ۲۰۴-۲۰۵

۴ فراهی، عبدالغفار. افغانستان در سا ل های د مرکراسی و جمهوریت ص ۱۹۶۳ـ۱۹۷۸ چاپ کابل ص ۲۹۹س

# نوبل د چا لپاره؟

لیکوال: داد محمد ناوک

کله چې یوه ټولنه د بل تر واک لاندې راشي، نو د غالب اړخ هر حرکت، هر شخص او هره چاره ورته ډېر لوړه او معیاري بريښي، دوی د محکومتوب له امله دومره د کمترۍ پر احساس اخته وي، چې فکر کوي د غالب اړخ هر څه سم دي، موږ چې کله د نړۍ په سطحه انسانیت یتیم کړ او د خپلې ناخوانۍ له لاسه مو نړۍ له ګوتو ووته، د بل ګوتو ته پرېوته او له سوونو کلونو راهیسې پرې واک چلوي، چې نړدې د ټول ژوند شرایط دوی جوړوي او پر نورو غبر کوي چې له دې شرایطو سره ځان برابر کړي، که یې برابر نه کړي شاته پاتې کېږي، که یې برابروي خپل ګڼ ارزښتونه به تر پښو لاندې کوي؛ د همدې معیارونو له مخې موږ ته نوبل جایزه داسې راپېژندل شوې، چې که چا دا جایزه اخیستې وي، نوربنتیا هم په هماغه چاره کې د دې وړ و، چې جایزه ورکړل شي، یعنې د ښېګړو بشپړه ټولګه راته ښکاري، خو راځئ د نوبل جایزې په اړه مفصل وغږېږو.

الفرېډ برن هارډ نوبل په (۱۸۳۳) میلادي کال کې د سویډن په مرکز سټاکهولم کې وزیږید، کیمیا یې ولوسته، کار یې وکړ، پیسې یې وګټلې او په (۱۸۹۶) میلادي کال د ډسمبر په لسمه ایټالیا کې مړ شو، له نوبل نه سویډن د پیسو د واحد پر حساب ۱۷۱۲ میلیونه کرونه پاتې شوي دي، هغه وصیت وکړ چې د ده شتمنۍ دې د ده د مړینې په هره تلین غونډه کې مصرف شي، داسې چې د نړۍ په سطحه باید داسې چا ته د جایزې په توګه ورکړل شي چې د بشري ټولنې لپاره یې یو څه کړي وي.

د نوبل له وصیت سره سم، په ۱۹۰۱ میلادي کال کې د ده په نوم جایزه د سولې په هڅو کې دسره صلیب نړیوالې کمېټې

بنسټګر هانري ډونانټ ته او فرانسوي اقتصاد پوه فریدریک پاسي ته، طب کې امیل آدالف اوان بیرینګ ته، کیمیا کې هانریکس وان تی هاف ته او ادبیاتو کې شمیول یوصف اګنان او نیلی ساکس ته ور کړل شوې، جایزو کې یې د سرو زرو مډال او نقدي پیسې وې، لکه مخکې چې مو یادونه وکړه کله چې واک د بل شي نو شرایط هم واکداران جوړوي، د نوبل په اړه له پیله سم نیت نه و موجود، خو دې وروستیو کې بشپړه هڅه کېږي چې دا جایزه یوازې کفارو پوهانو، په تېره بیا یهودو ته ور کړل شي، د دې جایزې له پیله تر اوسه یوازې ۱۳ تنو مسلمانو پوهانو دا جایزه ګټلې، چې له ډلې یې اته تنو د سولې په برخه کې او پاتې نورو په ځینو علومو کې دا جایزه تر لاسه کړې ده، په مقابل کې یې تر ۲۰۱۶ میلادي کال پورې ۱۹۴ یهودیانو د نوبل جایزې تر لاسه کړې دي، چې په دې توګه د مسلمانانو په پرتله یهودو ۱۵ برابره ډېرې جایزې اخیستې دي.

د دې معنا دا نه ده، چې مسلمانانو کې پوهان یا هم د سولې په برخو کې کارکوونکي نشته، بلکې په قصدي ډول یهود د نړۍ خواخوږي او پوهان معرفي کېږي، کنه د ټولې نړۍ د نفوس په سطحه یهود ۰،۲ سلنه جوړوي، چې شاوخوا ۱۴ میلیونه تنه کېږي، خو مسلمانان د نړۍ ۲۲ سلنه برخه جوړوي چې تر یهودو تر سل چنده هم زیات راځي، پر دې سربېره د نوبل د ورکوونکو لپاره تر ټولو لوړې معیار له اسلام سره ټکر دی، دا د دوی رسمي غږ نه دی، خو عملاً یې موږ ګورو چې دوی خو لوړې مسلمانو علماو ته جایزې نه ورکوي، چې چاته یې ورکړې دي، که ژوند او فکر یې مطالعه شي، ډېر یې د دوی پر تله برابر ختلي، د اسلامي ټولنې لپاره یې یو

سرطاني حیثیت درلودلی دی، چې وروسته به پرې وغږېږو.

يهوديانو يوازې له ۲۰۰۲ ميلادي کال راهيسې د نوبل شپږ جايزې اخيستې دي، چې د نوبل معنوي ارزښت يې لا را ټيټ کړی دی، پر دې سربېره د دې جايزې د ويش په چور کې خو پنځه تنه داسې کسان هم د سولې جايزې وړونکي بلل شوي او جايزې يې اخيستې دي چې ښايي هيڅوک پرې باور ونه کړي، وړاندې تر دې چې د نوبل مسلمان وړونکي او د دوی فکر يو څه درته وړاندې کړم، راځئ دا څو تنه لنډ وپېژنو:

**تيودور روزولت:**

له ويليام مک کينلي وروسته د امريکا ولسمشر شو، دی په ۱۹۰۰ ميلادي کال کې د همدې ولسمشر مرستيال و، چې د کينلي له وژل کېدو وروسته سپينې ماڼۍ ته ننوت، دا کس په داسې حال کې د نوبل د سولې د جايزې ګټونکی شو، چې په زغرده به يې ويل چې د امريکا د ګټو د ساتلو لپاره پر هيڅ شي صرفه نه کوي، هغه ته منسوبه وينا ده: «په ارامۍ غږېږه، خو په لاس کې تېره چاقو هم وساته، په دې ډول په اسانۍ پر مخ تلی شې!»

**ياسر عرفات، شيمون او اسحاق رابين:**

دې درې واړو ته د ناروې هېواد په اسلو ښار کې د نوبل جايزه ورکړل شوه، ياسر عرفات فلسطينی رهبرو چې په (۱۹۹۰) ميلادي کال يې د اسراييلو دولت په رسميت وپېژاند او شيمون پرز د اسرائيلو د وخت د بهرنيو چارو وزير او همدرانګه اسحاق رابين د اسرائيلو لومړی وزير پاتې شوی دی، دوی درې واړو ته له دې امله د سولې جايزه ورکړل شوه، چې په اسلو کې د «اسلو يو او اسلو دوه» په نوم ځينې تړونونه سره لاسليک کړل؛ د نوبل معنوي ارزښت لا هماغه وخت له صفر سره ضرب شو، چې ان اسرائيلي چارواکي يې هم د سولې فعالان معرفي کړل.

**ميخايل ګورباچوف:**

هغه څوک چې د واکمنۍ پر وخت يې يوازې افغانستان کې ميليونونه کسان تر تېغ تېر کړل، هم د نوبل د سولې جايزه ګټلې، د (۱۹۹۰) ميلادي کال د ډيسمبر په لسمه اسلو کې د ګروباچوف جايزه د هغه د بهرنيو چارو د وزير په لاس ورکړل شوه.

**بارک اوباما**

جالبه داده چې حتی بارک اوباما هم په (۲۰۰۹) ميلادي کال کې د نوبل د سولې جايزه واخيسته، د هغه د واکمنۍ لا نهه مياشتې هم نه وې وتلې، ځواکونو يې په عراق او افغانستان کې د انسانانو وينې زبېښلې خو د نوبل بنسټ دی د سولې د جايزې وړ وباله.

**مسلمان جايزه اخيستونکي:**

که هر څومره د بشري خواخوږۍ په کڅوړو کې نغښتې اظهارات وي، خو چې د کافر له خوا وي، زما پرې شک وي، د نوبل جايزې په اړه مې له ډېره وخت په زړه کې و، چې دا ځينو مسلمانانو اخيستې دي، د دوی مسلماني څنګه د نوبل د جايزه ورکوونکو پر معيار برابره ختلې، ما يې دلته د ځينو پېژندنې را ټولې کړې، راځئ ويې ولولو چې دوی پکې کومه نقطه د نوبل د لايقۍ پيدا کړې:

**محمد انور سادات:**

د نوبل جايزې لومړی مسلمان اخيستونکی د انګريزې مور او مصري پلار زوی، د مصر پخوانی ولسمشر محمد انور سادات و، هغه د (۱۹۱۸) ميلادي کال د ډسمبر په ۲۵مه د مصر په مرکز قاهره کې سترګې وغړولې، په (۱۹۷۰) ميلادي کال د اکتوبر پر ۱۵مه واک ته ورسيد او د (۱۹۸۱) ميلادي کال د اکتوبر په ٦مه ووژل شو، د انور سادات د پېژندلو لپاره ښايي دا کفايت وکړي، چې دی د جمال عبدالناصر مرستيال او وياند پاتې شوی او لومړی مسلمان ولسمشر و، چې اسراييل يې بې

له کوم دلیله پر رسمیت وپېژندل، د نوبل بنسټ دی هم ځکه د ســـولې په جایزه ونازاوه، چې له اسراییلوسره یې یو تړون لاسلیک کړ او په (۱۹۷۸) میلادي کال نوبل بنسټ جایزه ور وړاندې کړه.

سادات د ملي ډیموکراټیک گوند غړی و، دوه ودونه یې کړي و، چې د دویمې مېرمنې له واده وروســته یې لومړۍ هغه طلاقه کړه، «د انقلاب پوره کیسه، د انقلاب نامعلومې پاڼې، بچیه دا ناصر کاکا دی - له جمال عبدالناصره د ســادات خاطرې» یې مشهور کتابونه دي، سادات قاهره کې ښخ دی.

**نجیب محفوظ:**

بل مسلمان مصري لیکوال دی، چې په کیسو کې یې نږدې دېرش اثار لیکلي دي، هغه په( ۱۹۸۸ ) میلادي کال د نوبل ادبي جایزه واخیســـــــته، چې لومړی عرب گڼل کېږي چې ادبیاتو کې یې دغه جایزه واخیســـــــــــــته، محفوظ په (۱۹۱۱)میلادي کال د ډسمبر په ۱۱ مه په قاهره کې وزېږید، گڼ هنري داستانونه یې ولیکل او په ۲۰۰۶ میلادي کال کې د ۹۴ کلونو په عمر ومړ.

د نجیب محفوظ د پېژندلو لپاره دا کفایت کوي، چې پر یو اثر « زموږ د کوڅې ماشومان» یې د کفر تور ولگید او مصـــر کې یې خرڅلاو څو کاله بند و، خمیني یې په اړه له یوې ورځپاڼې سره مرکه کې ویلي و، چې که محفوظ مجازات شوی وای، سلمان رشدي به دا ډول جرئت نه کاوه.

**اورخان پاموک:**

د ده په وینا «فرهنگي مســــــــلمان» دی، چې په( ۱۹۵۲ ) میلادي کال ترکیه کې زېـږېدلـی دی، پوره نوم یـې فـرید اورخان پاموک دی، چې تر اوســه یې گڼ داســتاني کتابونه لیکلي دي، هغه په ۲۰۰۶ میلادي کال کـــــې د نوبل ادبي جایزه ترلاسه کړه، چې لومړی ترک دی چې دا جایزه ترلاسه کوي، د هغه د پېژندنې لپاره دا بســــــــنه کوي، چې ځان «فرهنگي مسلمان» معرفي کوي، د فارسی ویکیپېډیا په حواله پاموک وایي، چې له فرهنگي او تاریخي اړخه مســــلمان دی، خو په شخصي لحاظ پر خدای باور نه لري.

پاموک، گڼ کتابونه لري، چې «غلی کور، ســــپینه کلا، تور کتاب، نوی ژوند، پټه څېره» کتابونه یې مشــهور دي او گڼ یې فارسي ته هم ژباړل شوي دي.

**محمد عبدالسلام:**

دی پاکســتانی فزیک پوه دی، چې په ( ۱۹۲۶ ) میلادي کال کې د پاکســتان په پنجاب کې زېږېدلی او د ( ۱۹۷۶) کال په نومبر کې مړ شوی دی، عبدالسلام د الکترو مقناطیسي قوې او هستوي ضعیفې قوې لپاره نوی فورمول کشــف کړ، چې له امله یې په ( ۱۹۷۹ ) میلادي کال د نوبل جایزه ورکړل شوه، د عبدالسلام د پېژندنې لپاره دا بس دی، چې نوموړی قادیانیت ته ژمن و او د غلام محمد قادیاني پر لار روان و.

پر دې سربېره ملالې یوسفزۍ هم دا جایزه اخیســتې، چې له یوې ډرامې پرته بله معنا نه لري، د جایزو دا ډول ویش ښایي د دې جایزو د نقدو او زرو مادي ارزښــــــت را ټیټ نه کړي، خو معنوي ارزښت یې د تعصب او تبعیض له امله لاهم مخښــکته وړل کېږي.

له دې داسې معلومېږي چې نوبل، مســلمانانو کې هم هغوی ته چې اسلامي امت ورته رښــتیا هم له اخلاقي او علمي اړخه پـر علمیت قایل وي، جایزې نه ورکوي، دا مهمه ده چــې علم باید له ځان سره عمل هم ولري، مســلمانه ټولنه کې بې عمله عالم تر یو «میموري کارډ» زیات ارزښــــت نه لري چې یوازې معلومات پکې ذخیره وي.

**سرچینې:**

بېلابېلې انټرنیټي سرچینې

# پرنورو ادبي غورځنګونود خوشحال
# د ادبي مکتب اغېزې

ليکوال: اکا ډميسين دوکتورسيد محی الدين هاشمي

## پاتې برخه

### دويم: د رحمان بابا د تصوفي ــ عرفاني ادبي مکتب پر پيروانو اغېزې

رحمان بابا ( ۱۰۴۲ــ۱۱۲۸ ه ق ) او خوشـــــــحال خټک (۱۰۲۲ــ۱۱۰۰ه ق ) دواړه هم مهالي او د ژوند په زمانو کې يې دوه لســـيزې توپير دی، د دواړو ادبي مکتبونه هم له دوی څخه د مخه ادبي غورځنګونو ( په ځانګړې توګه د بايزيد روښان او اخوند درويزه ) له ادبي بهيرونو هم لږ و ډېر اغېز منلی چې هغه اوس په دواړو کې محسـوس دی او هم يې په خپل منځ کې يو د بل اغېز منلی، دوی پخپله د ادبي غورځنګونو د مخکښانو په توګه او هم يې د پيروانو يو د بل آثار او افکار مطالعه کړي، يو د بل په اقتضـا يې شعرونه ويلي، د هغوی شعرونه يې تضـــمين کړي، ځواب کړي او د همدغه اغېز له مخې په خپل شاعرانه قوت او برکت يو بل ننګولي او په سيالی سره د پښـــتو شعر او ادب خدمت ته راپورته شوي دي. دا چې دلته زموږ تر څېړنې لاندې موضوع د رحمان بابا پر عرفاني ادبي مکتب د خوشــــــحال ادبي مکتب اغېزې دي، نو ځکه په يو اړخيزه توګه په لنډ ډول د دغو اغېزو څو بېلګې راوړو، خو د مخه چې هغه اغېزې د څو بېلګو په ترڅ کې وڅېړو، د رحمان بابا د ادبي مکتب د ځينو پيروانو نومونه اخلو:

د پښـــــتو ادبياتو تاريخ ( لرغونې او منځنی دوره )اثر ليکوال دغه معلوم شاعران د رحمان بابا د ادبي مکتب د پيروانو په توګه را پېژندلي دي :

يونس خيبری، مهين خليل، معزالله مومند، اخوند ګدا، حافظ الپوری، عبدالعظيم رانيـزی، نجيب سربندی، ميا نعيم متـی زی، مطيع الله پيرخيل، ثاني رحمان يا عبدالرحمان او کاله، جمال خان، نياز محمد، عبيد او نصرـت، شيخ نامدار، عمران پېښــوری،

شاد محمد خان، شهنواز، فضل شاه، باز محمد بنګښ، عبدالنبي بيټنی، ګل محمد کاکړ، حاجي جمعه بارکزی، عبيدالله الکوزی، جديد توخي، خدايداد، جديد، عبدالغفار هوتک، فدا محمد، ملا لتاړ شلمانی، رحمت داوي، قاسم علي، عبدالرحيم هوتک، ګل محمد هوتک او نور(۱)

په دغو پورته يادو شاعرانو کې چې د زياترو د اشعارو ديوانونه اوس زموږ په لاس کې دي. په هغو کې ځای په ځای داسې يادونې شته چې هغو ټولو د خوشحال او د هغو د پيروانو آثار مطالعه کړي، اغېز يې پرې مرتب شوی، پخپله د خوشحال او د هغه د ځينو پياوړو شاعرانو ادبي حيثيت او قوت يې ستايلی او کله يې د سيمه ييزو او قبيلوي يا علمي او ادبي کينې او حسادت له مخې هغوی ننګولي او غندلي هم دي او پر هغوی يې د خپلې ادبي لارې د بنسټګر (رحمان بابا) او د ده ادبي مکتب د ځينو پياوړو او نوميالیو شاعرانو لوړاوی او ادبي قوت په حق يا نا حق زيات کړی او د سيالۍ په توګه يې ستايلی دی.

موږ دلته د څېړنيزې موضوع د لمنې د پراخېدو له ډاره د دغو اغېزو د زباتولو لپاره ډېرې بېلګې د دغه ادبي مکتب د پيروانو په ديوانو او متفرقو شعرونو کې نه شو پلټلی، يوازې د څو بېلګو په يادونه بسنه کوو.

خوشحال خان په زماني لحاظ هم تر رحمان بابا مشر دی او په هغه کال چې خوشحال شاعري پيل کړې، نو رحمان بابا زېږېدلی دی (۱۰۴۲ه ق).

په شل کاله کې ديګ زما د شعر په اور بار شو
په دا دور مې پوخ کړی چې شپېته کاله مې تللي (۲)

رحمان بابا چې په ځوانۍ کې د شعر او ادب مطالعې او بيا شعر ويلو ته مخه کوله، نو دا مهال نه يوازې دا چې د خوشحال خټک شاعري پوره پختابه ته رسېدلې وه، په نظم او نثر يې څو کتابه هم ليکلي او ان دا چې زامن يې، په ځانګړې توګه اشرف خان هجري او عبدالقادر خان خټک هم د شعر او ادب ډګر ته راوتلي وو، نو رحمان بابا خامخا د دوی آثار لوستي او هغوی يې شعرو شاعرۍ ته په هڅونه کې هم پوره ونډه لرلې ده، ځکه يې نو اغېزې هم پرې څرګندې دي. دلته دا خبره د يادونې وړ ده، چې همدغه اغېزې وروسته د وخت په تېرېدو په ځينو ځايونو کې لفظي او معنوي هماهنګي لري، خو په ځينو ځايونو کې د قبيلوي سيالۍ او نورو انګېزو له مخې يو د بل په وړاندې واقع کېږي وروسته يې په خپل ځای ځينې بېلګې راوړو.

خوشحال خان د ژوند او ملي مبارزې او فرهنګي مقابلې په ډګر کې خپل استقامت او مقاومت داسې بيانوي:

د عالم ډېرې خبرې لور په لور تورې لښکرې
زړه مې نه ښوري له ځايه غر خو هسې وي که نه (۳)

همدا د استقامت او مقاومت دريځ رحمان بابا داسې بيان کړی دی:

لکه ونه مستقيم په خپل مکان يم
که خزان را باندې راشي که بهار

خوشحال خپل د وحدت الوجود تصوفي او عرفاني ليد داسې بيان کړی دی :

په هر څه کې ننداره هغه د مخ کړم
چې له ډېرې پيدايۍ نه نا پديد شه

همدا فکر او ليد رحمان بابا هم داسې وړاندې کړی، چې د خوشحال د فکر او نظر اغېز په کې جوت ښکاري :

معرفت د خدای څرګند دی په هر څه کې
سترګې وخوره چې څوک هومره نظر نه کا

يا :

دا زما د يار جلوه ده چې ليده شي
لکه لمر په صومعه د سومنات

خوشحال خان هم شاعرانه تعلي ځای په ځای پخپل شعر کې کاروي او په پښتو ژبه کې خپل سیال نهویني .

په پارسي ژبه که نور تر ما بهتر دي
په پښتو ژبه مې مه غواړه مـــــثال

یا :

په پښتو شعر چې مـا علم بلند کړ
د خبرو ملک مې فتحه په سمند کړ

(ټول شعر ترپایه )

یا :

مگر زه چې یې گویا په شاعری کړم
پښـــــتانه یې پوهـول یزد متعـال

سل سړبني تر دا یوه غـــــزل ځارېږي
نن چې دا پښتو ده کړلائی خوشحال ویلې

همدا ډول شـاعرانه تعلي او ځان سـتاینه رحمان بابا هم ډېره کړې او په دې لړ کې یې خبره په پښـتني احسـاس د قبیلوي انگېزو له مخې په ځانگړې توگه د خوشحال د هغه د کورنۍ او نورو خټکو په وړاندې د سیالۍ اورقابت لوړې پوړۍ ته رسولې ده. دا لاندې بیتونه وگورئ:

خوشحالا او دولتا مې غلامان دي
زه رحمان په پښتو ژبه عالمگیر یم
د میرزا د ارزاني دعوی به پرې کړي
قدردان د شاعرانو رحمان راغـــــی
یو خوشحال یو کم سل خټک نور په طبیعت
ځار شه د رحمـــان سړ بني له یوه فرده
که یې شعر د رحمان مومند تر غوږ شي
غوږ به نه باسي په شعر د خوشحال څوک

د رحمان بابا د ادبي عرفاني ـ تصــوفي مکتب پر نورو شاعرانو هم د خوشــحال د ادبي مکتب اغېزې پوره څرگندې دي، لکه څنگه چــــې د دغه ادبي مکتب پیـــــروانو د ادبي مکتب د بنســــټگر (خوشحال ) د شعر او ادب د پوړ ډېرې ستاینې او یادونې په خپلو شعرونو کې کړې، دغه ډول د رحمان بابا ادبي مکتب پیروانو هم د دغه دود او عنعنې د ژورې اغېزې له مخې په خپلو شعرونو کې په خلاص مټ دا کار کړی دی، همدارنگه د دواړو ادبي مکتبونو پیاوړو شـــــاعرانو د دغو ادبي بهیرونو د بنسټگرو( خوشحال اورحمان ) د ادبي- فرهنگي شخصیتونو او د دغو ادبي لارو د نورو پیروانو شعر او ادب ستاینې او غندنې کړې چې دا ټولې یو پر بل د ادبي اغېز څرگندويي کوي.
دلته د هغو بېلگو راوړل به زموږ د څېړنیزې موضــــــوع لړ بې ضرورته وغځوي، نو دا بحث د رحمان بابا د ادبي مکــــتب د پیاوړي اسـتازي معزالله مومند هغه د شـعر په وروسـتي بیت، چې د خټکو د ادبي مکتب په طرحي مشـاعره کې یې د گډون پر مهال ویلی او د رحمان پر ادبي مکتب د خوشـحال د ادبي مکتب یو ډول اغېز زباتوي، پای ته رسوم :

معزالله دي ځواب وکړ په پښتو عبـــــدالقادره
اوس ثاني د ستا پیداشه په دا دور پښتون هسې

## درېیم: د حمید او شــــیدا د نازکخیالۍ پر ادبي مکتب باندې اغېزې

د حمید مومند او کاظم خان شیدا پر نازکخیالۍ ادبي مکتب باندې چې زموږ د ادبیاتو د تاریخ د کلاسـیکې دورې د څلورم پړاو یا وروسـتي ادبي بهیر دی، هم د خوشـحال خټک د ادبي مکتب اغېزې جوتې دي. د دغه ادبي مکتب مخکښــــــان او پیاوړي اســتازي حمید مومند، کاظم خان شـیدا، کامگار خټک، علي خان او محمدي صاحبزاده او نور دي.
د بحث لړۍ پر حمید مومند د خوشــــحال د ادبي مکتب له

اغېزو پيلوو.

د پښتو منظوم داستاني ادب ته پاملرنه، چې د خوشحال په سپارښتنه د هغه په ادبي بهير کې لومړی د هغه زامنو صدرخان خټک د آدم خان درخانۍ او دلی شهی د ملي ولسي نکلونو په نظمولو، سکندرخان خټک د ليلی مجنون او عبدالقادرخان خټک د يوسف زليخا کيسو په نظم ژباړلو او افضل خان خټک د کليله او دمنه د «عيار دانش» په نوم پښتو ته په نثر ژباړلوسره پيل شوې وه، حميد مومند د«نيرنگ عشق»او «شاه گدا» کيسو په منظومو ژباړلو دا لړۍ پاللې ده.
خوشحال د پښتنو په وړاندې د مغولو د زور زياتي سلوک «مغلواله»بللې او هغه يې په کلکه غندلې ده.د حميد مومند دا لاندې بيتونه ولولئ:

يو به نسم مغولواله د رقيب ستا
که زوکړی وم رښتيا له پښتنې زه
که په نور وګړي ظلم د مغول دی
خدای غمونه کړل دا ستا مغول زما

د خوشحال په ادبي مکتب کې تر هر چا لومړی دا هڅه پيل شوې وه، چې پښتو ژبه په ادبي او فرهنګي لحاظ د فارسۍ ژبې سياله شي. د خوشحال د شعرونو دا بيتونه وګورئ:

په وزن په قافيه استعاره او په تشبيه کې
پښتو ويل مې عين تر فارسي دي رسولی
ما خوشحال چې په پښتو شعر بيان کړ
دا پښتو ژبه به اوس په آب او تاب شي
په تازه تازه مضمون د پښتو شعر
په معنا مې د شيراز او د خجند کړ

حميد بابا وايي:

چې هيچيرې په فارسي کې موندی نه شي
هسې ساز دی حميد ايښی په پښتو کې

د خوشحال شاعرانه تعلي او ځان ستاينې مو د مخه لوستي دي، اوس د حميد مومند دا لاندې شاعرانه تعلي او ځان ستاينې هم ولولئ:

و اسمان ته به د شعر زينې کيږدي
که حميد د غم له سره زنګون وکيښ

چې له ښوښو ميړنو دې ميدان يووړ
شابس شابس د حميد فکره تورزنه

دغسې د پښتو شعر او شاعرۍ د ودې او پرمختيا لپاره شعوري هڅې او د پښتو داستاني ادب بډاينه د پښتو غزل کمال پوړ ته رسول د خپل پنځولي شعر او ادب په باب قضاوتونه او شاعرانه تعلی، چې بنسټ يې د خوشحال په ادبي مکتب کې په پوره قوت ايښودل شوی و، د نازکخيالۍ په ادبي مکتب کې د حميد په ادبي هلو ځلو او پنځولي ادب کې د هغه څرګندې نښې نښانې د خوشحال د ادبي مکتب يو ډول اغېزې ګڼلی شو.
له حميد وروسته د نازکخيالۍ د مکتب بشپړونکی او کمال ته رسوونکی شاعر کاظم خان شيدا(۱۱۳۵-۱۱۹۵هـ ق)دی.
سره له دې چې نوموړی هم د خټکو د کورنۍ غړی، د افضل خان خټک زوی، د هجري لمسی او د خوشحال کړوسی دی، خو د نازکخيالۍ په ادبي مکتب پورې اړه لري. نوموړی هم د خپلې کورنۍ د ادبي مکتب ډېر اغېز تر ډېره منلی او دا اغېزې يې له دې معلومېږي چې کله هغه له ځانه مخکې د پښتو پر شعر او ادب کره کتنه او شاعرانه قضاوتونه کوي، نو خوشحال خټک د پښتو د ټولې شاعرۍ روح او بابا، د پښتونخوا د ټولو شاعرانو او اديبانو لارښود او د پښتو ادب د اسمان لمر او د وياړ ځلی ګڼي، لکه چې وايي:

د پښتو شـــعر معلوم و
په معنا کې کـــالمعدوم و
چې قلم په لاس د خان شه
مرتب يې لـــوی ديوان شه
تصانيف يې فراوان شـــول
مستند د درست افغان شول
هر شـــاعر چې د افغان دی
ريزه چين د خان دخوان دی
فی المثل که بل مهتاب دی
مستفيد د دې آفتـــاب دی
چې په غرونو شي لار صافه
قافله درومي ترقــــافه(۴)

بيا چې د خپل شعر او پنځولي ادب په اړه پخپله قضاوت کوي، نو بيا هم په ټولو پښــــتنو شاعرانو کې يوازې خوشحال ته د تسليمۍ سر ټيټوي وايي:

د افغان له شـــعرا په شيدا باندې
د ادب په مقتضی د خان شرف دی

خوشـــحال خان خټک چې د شـــيدا د ژوند له زمانې څخه شاوخوا يوه پېړۍ دمخه د خپلو هممهالو د پښـــتنو شاعرانو په اړه قضاوت کاوه، څوک يې په اصطلاح پاوي، څوک نيم پاوي، څوک نيم ســـــير، څوک يې د ځان برابر ګڼلي وو، خو دا وړاندوينه يـــې هم کـــړې وه چـــې کېدای شي پس له يوه قرن(پېړۍ)څخه په همدې سرای(د خوشحال خټک د کورنۍ ځای ـ اکوړې)کې پوره سير (شـــاعر او اديب)پيدا شي، هغه داسې وه:

چې په سرای کې به پيدا شي
پس لــــه قرنه پوره ســـــير

اوس ځينې ادب څېړونکي د خوشـــــــــــحال بابا د هغه وړاندوينې(پيشـــبينۍ)رښتينګي او مصـــداق همدا د پښــتو نوميالی شاعر (کاظم خان شيدا)ګڼي، چې هماغســـــــې شـــاوخوا يوه پېړۍ وروســـــته يې د ده په کورنۍ (اکوړې ـ سرای)کې د افضل خان خټک کره سترګې نړۍ ته پرانيستې او د پښــتو داسې پياوړی شاعر شو چې په نازکخيالۍ کې يې لا تر ننه ساری نه دی پيدا شوی.

د دغه شاعر شـاعري چې د پوره او کره پختابه پوړ ته ورسېده، که څه هم د خوشحال بابا له وړاندوينې سره سم يې بيا ځانته «پوره ســـــير»نه دی ويلی، خو د حال په ژبه يې د ځان په باب خپل بابا ته په يو ډول دا پيغام رسولی دی:

شيدا «خان»به دې کړي مير د شاعرانو
که مزار وته يې عرض د تا انشاء شي(۵)

رحمان بابا او حميد مومند ته هم دغســــــې د حال په ژبه يو پيغام لري:

په دا وخت کې که شيدا دواړه مومند وای
ثنــــــا خوان به وو هر دم ستا د ويلو

دلته له «دواړه مومند»څخه مطلب عبدالـــــرحمان مومند او عبدالحميد مومند دی، چې دا وخت دواړه وفات شوي دي.
دا ټولې هغه ادبي اغېزې دي،چې د ړومبنيو پر شـــــيدا او دغسې نورو شاعرانو په يو نه يو ډول شوې دي.
کامګار خان خټک (۱۱۶۵هـ ق مړ)هم د خوشـــــحال خان کړوسی د اشرف خان هجري لمســــی او د نامدار خټک زوی دی، خو د نازکخيالۍ د ادبي مکتب يو پياوړی استازی دی، د ده پر شـــاعرۍ هم د خوشـــحال د ادبي مکتب اغېزې جوتې دي. نوموړی هم د شعر او ادب په ډګر کې يوازې خوشحال ته (چې د خپلې کورنۍ ټولو شـاعرانو د «خان»په نوم ياد کړی)د تسليمۍ سر ټيټوي وايي:

دا غزل چې کامګار ووې، په پښتو کې بې له «خانه»
لا دا هسې کښلی نه ده هیڅ شاعر په خپل دیوان کې.

په پښتو ژبه مهال دی که پیدا شي
د کامګار غونډې شاعر بې له خټکه

د خوشحال د ادبي مکتب له یو بل پیاوړي شاعر سعید خټک څخه په اغېزمن کېدو یې د هغه شعر داسې ځواب او تضمین کړی دی.

د کامګار یې وځواب ته څه امکان دی
چې سعید په پښتو شعر تزمین کېښو

دغسې نورې ډېرې اغېزې د نازکخیالۍ د ادبي مکتب د دغه پیاوړي شاعر پر شعر د خوشحال د ادبي مکتب شته دی. محمدي صاحبزاده(۱۱۰۹-۱۲۲۰هـ ق)هم د نازکخیالۍ د ادبي مکتب یو پیاوړی شاعر دی، چې په شعرونو کې یې د خوشحال د ادبي مکتب د پیروانو اغېزې څرګندې دي، دلته یې په هغه طرحې مشاعره کې چې د خوشحال په ادبي مکتب کې رامنځ ته شوې او بیا ده هم پکې برخه اخیستې وه، پر ده هم د خوشحال د ادبي مکتب د اغېزې په توګه یادولی شو:
د شعر مطلع:

دا سور اور دی که څه نور او که تاو د بېلتون هسې
لکه وری چې مې وریت کړ په تناکو لړمون هسې

مقطع:

ومړ ستا په بېلتانه د دیدن په ارمان ګوره
محمدي غونډې لا بویه چې پیدا شه پښتون هسې

دغسې د نازکخیالۍ د ادبي مکتب په نورو شاعرانو هم د خوشحال د ادبي مکتب لړې ډېرې اغېزې شته، دلته به د بحث د لړۍ د غځېدو له ډاره په همدې څو بېلګو بسنه وکړو.

**مأخذونه او سر چینې:**


۱. زلمی هېواد مل. د پښتو ادبیاتو تاریخ لرغوني او منځنۍ دوره، دانش خپرندویه ټولنه: پېښور، ۱۳۳۷۸ل، ۱۴۷-۱۷۰ مخونه.
۲. په کلاسیکه دوره کې پښتو ادبي مکتبونه، ۱۲۷ مخ.
۳. په کلاسیکه دوره کې د پښتو ادبي مکتبونه، ۱۳۰ مخ.
۴. ګلدسته، عبدالقادر خان خټک، د افغانستان علومو اکاډیمی: د پښتو څېړنو بین المللي مرکز، ۱۳۸۳ل، ۷۷-۸۲ مخونه.
۵. په کلاسیکه دوره کې د پښتو ادبي مکتبونه، ۱۴۱ مخ.
۶. ګوهر خان خټک. قلب السیر، ۱۱۲۳هـ ق کال ترجمه) د پروفیسر زبیر حسرت تدوین او سریزه، پښتو اکیډیمي: بلوچستان کویټه، ۲۰۱۶م کال، ۵۴مخ.
۷. ادبي تحریکونه، ۲۵۶مخ.
۸. ادبي تحریکونه، ۲۴۴مخ.
۹. قیام الدین خادم. روهي ګلونه، پښتو ټولنه: کابل، ۱۳۲۶ل، ۱۳۹-۱۴۰ مخونه.
۱۰. روهي ګلونه، (مشاعره)، ۱۳۹-۱۴۲ مخونه.
۱۱. پښتو ادبیاتو تاریخ (لرغونې او منځنۍ دوره)، ۱۷۷-۱۹۴ مخونه.
۱۲. کلیات خوشحال خان خټک، ۱۲۲ مخ.
۱۳. کلیات خوشحال خان خټک، ۴۴۵ مخ.
۱۴. پښتو ادبي تحریکونه، دوهم چاپ ۳۱۹ مخ.
۱۵. ادبي تحریکونه، دویم چاپ، ۳۲۰ مخ.
۱۶. اشرف خان هجري، د هجري دیوان، دویم چاپ، د همیش خلیل په سریزه او تعلیقاتو، پښتو اکاډیمي: پېښور



# د وینا وال په اړه یو څو خبرې

لیکوال: رومل

په اوسني عصر کې ډېرې زده کوونکي، زده کړیالان او ځوانان غواړي چې ښه او په تول برابره وینا وکړي. دې هیلې ته د رسېدو لپاره یې ډېرې هلې ځلې هم کړې دي، خو تر اوسه یې خپل اصلي هدف نه دی ترلاسه کړی. ما دلته د یو ښه وینا وال شل غوره ځانګړنې ذکر کړې دي چې په مرسته یې تاسې کولای شئ د سټیج (درېځ) په سر د وینا پر مهال له فشار، ډار (وېرې) او ساه بندښت څخه ځان وژغورئ.

که تاسې غواړئ ښه وینا والان شئ، باید ډېر تمرین وکړئ، ځکه تمرین انسان سموي او له تېروتنو یې تر یو بریده ژغوري. نو کوښښ وکړئ چې د ملګرو، کورنۍ د غړو او ټولګیوالو په منځ کې پاڅېږئ او په پوره ډاډ او زړورتیاسره وینا وکړئ، ځکه دا درسره د جرات په زیاتولو کې ډېره مرسته کولای شي.

۱- مخکې له موضوع باید ژوره ساه واخلئ.

۲- کله چې د سټېج ( درېځ ) په سر اوبه ایښې وي، استفاده ترې وکړئ.

۳- د ناستو خلکو له ځانګړنوسره باید بلدتیا ولرئ.

۴- درکړل شوی وخت باید په پام کې ونیسئ.

۵- له نویو امکاناتو ګټه واخلئ.

۶- په وینا کې د بدن حرکات استعمال کړئ.

۷- وینا وال باید ښه اخلاق ولري.

۸- ویناوال باید زغم ولري.

۹- یوې ائینې ( هینداړې ) ته ودرېږئ او خپله موضوع هغې ته وړاندې کړئ.

۱۰- مخاطبین باید کنټرول او پاملرنه یې ځان ته راواړوئ.

۱۱- په خپلې موضوع باید پوره حاکمیت ولرئ.

۱۲- ښه ویناوال باید پراخه مطالعه ولري.

۱۳- کله چې سټیج ته راځئ فکر وکړئ چې ناست خلک مې ټول ملګري دي.

۱۴- موضوع مو باید ښه پیغام ولري.

۱۵- په غوږ، ویښتانو او خوله کې ګوتې مه وهئ.

۱۶- ښه وینا وال باید د هر چا په زړه کې ځای ولري.

۱۷- ښه ویناوال باید د یو چا توهین ونه کړي.

۱۸- په خپله موضوع تمرکز وکړئ.

۱۹- ښه وینا وال باید د ولس په ګټه کار وکړي.

۲۰- ښه ویناوال باید له قومي تعصب څخه کار وانخلي.

په دې هیله چې د وینا پر مهال دغه شل ځانګړنې په پام کې ونیسئ.

# غزل

راځئ، راځئ ملګرو! چې جانان باندې مین شـــو
په ګډه پر شیرین افغانســـــتان بـــاندې مین شو

راځئ وروڼه قومونه یو، په مینه کې ژونـــد تېـر کـړو
عُقدې تر مینځ هوارې کړو، پر ځان باندې مین شـــو

د نورو هیوادونو پـــــر ځای دلته خولـــې توی کـړو
پر ځمکه یې مین او پر اســـمان باندې مین شـــو

په ســـتنه کې تار واچوو، په ګډه لاس پـــــه کار شـو
د خپل ولس ریښـې، ریښـې ګریوان باندې مین شو

له غرونو، له هـــوارو، له ښارونـــو پســـــې ووځو
ډولۍ د پیغلې ســـولې ته کاروان باندې مین شـــو

د رنګ جومات په رنګـــې میناري مورحم وکـــړو
بلال له خـــوبه پاڅوو، اذان باندې مین شــــو

ګلان د امـــــن وکـــــرو په لېو د دوعـــا کـــې
او مَلَه! پرې د اوښــــکو په باران باندې مین شـــو

شاعر: مل غني خېل